د ولایت مقام شپږمیاشتنی کاري راپور
Wednesday, 02.02.2011, 03:38pm (GMT-


| شمېره | موضوع | د مخ شمېره |
|---|---|---|
| ۱ | لنډه پېژندنه | ۲ |
| ۲ | خوست ته د ښاغلي عبدالجبار نعیمي راتګ... | ۶ |
| ۳ | د دولتي حاکمیت په وړاندې ګواښونه... | ۸ |
| ۴ | د خوست والي عبدالجبار نعیمي کاري موخې... | ۱۱ |
| | وړاندیزونه | ۱۵ |
| ۵ | عملي کړنې او برياوې... | ۲۲ |
| ۶ | د ولسونو بیدرېغه ملاتړ ... | ۳۱ |
| ۷ | د دولتي ځمکو په سر د راولاړېږو شويو شخړو د حل په لار کې هلې ځلې... | ۳۳ |
| ۸ | ښه حکومتداري... | ۳۵ |
| ۹ | د دیني علماوو سره چلند او لاس ته راوړنې... | ۵۹ |
| ۱۰ | د بیارغاونې لپاره د پنځه کلن ستراتیژیك پلان تصویب... | ۷۲ |
| ۱۱ | د بیارغاونې بهیر... | ۶۵ |
| ۱۲ | د دولتي ځمکو پر سر د قومونو ترمنځ شخړې او لاس ته راوړنې... | ۸۱ |
| ۱۳ | د اختر د ورځې حالت او د ولایت د رهبرۍ کړنې... | ۸۲ |
| ۱۴ | د ولسي جرګې ټولټاکنې... | ۸۵ |
| ۱۵ | د پورتنیو کړنو او فعالیتونو پایلې ... | ۸۹ |
| ۱۶ | لنډه یادونه | ۹۱ |
| ۱۷ | ستاینلیکونه | ۹۲ |
| ۱۸ | انځورونه | ۱۰۲ |

بسم الله الرحمن الرحيم

د خوست ولایت

لنډه پېژندنه !

د خوست ولایت د ګران هېواد افغانستان د دریمه درجه ولایتونو څخه شمېرل کیږي، چې د هېواد په سهیل ختیځ د کابل په ۲۲۵ کیلو متري واټن کې پروت او یو سرحدي ولایت دی ، چې د ګاونډي هېواد پاکستان سره ۱۸۴ کیلو متره ګډه پوله ، چې دغه پوله آخواء له شمالي وزیرستان څخه تر پاړه چنار او پدې غاړه کې د خوست د سپیرې ولسوالي د میرځېر سیمي څخه د ځاځي میدان ولسوالي د ګورګوري تاني پوري غځېدلي، چې د خوست ختیځي او جنوب ختیځي سیمي یو د بل سره نښلوي، همدا راز د دې ولایت جنوب لویدیځ له پکتیکا چې له هغه سره ۴۸ کیلومتره سرحد، لویدیځ لوري له پکتیا ولایت سره چې ۹۰ کیلومتره ګډه پوله لري، دا ولایت ۱۳ اداري واحدونه، او۹۳۸کلي په لاندې ډول سره لري:

د خوست مرکز ۱۸۳، اسمعیل خیل مندوزي ۶۶، نادرشاه کوټ ۴۵، تني ۱۱۵، ګربز ۵۸، دوه منده شمل ۷۰، سپیره ۶۲، موسي خیل ۸۳، صبري یعقوبي ۶۳، باك ۲۲، ځاځي میدان ۷۵ او علیشیر او تیریزائي ولسوالي ۶۴ کلي لري،همداراز د خوست مرکز پورې مربوط ۳ غیر رسمي اداري واحدونه هر یو لکن، شمل او متون شتون لري.

د خوست ولایت د وګړو شمېر د یو میلیون څخه زیات او ۴۰۲۹ کیلو متره مربع چې د ۸۷، ۴۰۲۹۱۰ هکتاره سره سمون خوري مساحت لري، چې د ټول افغانستان ۱،۱۶۱ سلنه مساحت جوړ وي، او د بحر د سطحي څخه ۱۱۸۵ متره لوړ والي لري، دا ولایت د شمالي عرض البلد د ۳۳ درجو او ۸ دقیقو او د ختیځ طول البلد د ۶۹ درجو او ۵۱ دقیقو تر منځ پروت او په عمومي ډول د دې ولایت ۱۸۶۲ هکتاره ساحه غرونه دي، چې د ټول ولایت ۲۱، ۴۶ سلنه مساحت جوړ وي.

د خوست غرني سیمي په لویدیځ او جنوب لویدیځ برخو کي واقع چې دا غرونه په ځنګلونو او ونو پټ، چې د دې ځنګلونو زیات حجم په شمال لویدیځو او جنوب لویدیځو یعني د نادرشاه کوټ، سپیري، دوه منده، قلندر ، موسي خیلو او ځاځي میدان ولسوالیو کي لیدل کیږي، پدې ځنګلونو کي د چارمغز او جلغوزیو ونې په زیاته پیمانه پیدا کیږي، چې د خلکو په اقتصاد او تجارت باندي مثبته اغیزه لري، او د دې ولایت د ځنګلونو ټول مساحت ۱۲۳۵۰۰ هکتاره چې ۶۵، ۳۰ سلنه د ولایت ټول مساحت جوړ وي.

د خوست مرکزي برخي اکثراً دښتي تشکیلوي چې ۷۸، ۶۵۴۸۶ هکتاره مساحت لري، چې ۲۵، ۱۶ فصیده د ټول ولایت مساحت جوړوي، د دې ولایت زراعتي سیمي ۱۴۹۱۱ هکتاره مساحت لري، چې ۷، ۳ سلنه د خوست ټول مساحت جوړوي.

د وګړو دمېشت کیدو ساحه یې ۸۶، ۱۱۷۵۸ هکتاره چې د خوست ۹۲، ۲ سلنه احتوا کوي.

په عمومي ډول د خوست آب اوهوا د سپرلي، دوبی او ژمي په موسم کي باراني او د دوبي په موسم کي د زیات لندبل درلودونکي دي، چې د لندبل درجه یې د کال په اوږدو کي د ۴۰ فیصده څخه ټیټه نده، او لوړ حد یې تر ۹۹ سلنه پوري هم تثبیت شویده،

داورښت اندازه یې په کال کي د ۴۶۰ نه تر ۶۸۰ میلي مترو پوري رسیږي او د دې ولایت مرطوبه هوا د نباتاتو، ونو او بوټو د ودې او د دې ولایت د زرغونتیاء لپاره ډیره ښه مناسبه او په زړه پوري ده. د ۱۳۸۵ هـ ش کال د احصائیې له مخې چې د خوست نفوس ۴۹۸۰۰۰ تنه تخمین شوي ؤ، چې د دې وګړو څخه ۹۱، ۱ سلنه په ښارونو او ۲، ۹۸ سلنه په کلیو کي میشت شوي، او بیولوژیکي تراکم پدې ولایت کي د یو میلیون نفوس له مخې ۰،۰۱۴۵ هکتاره ځمکه هر یوه تن ته تثبیت کیدلای شي،

د دې ولایت زراعتي محصولات غنم، جوار، پلي، وریجي ، می، لوبیاء میوه جات اوسبزیجات او وچې میوې لکه، چارمغز او جلغوزي دي.

همدا راز د مزري په نوم یو ډول بوټي چې دا بوټي د موسي خیلو، یعقوبیو، تیریزائي او ځاځي میدان په ولسوالیو کي په زیاته پیمانه پیدا کیږي، او د دې بوټو څخه پیزي( بوریاء) شکور، لاسي بادپکي، خولي، پړي(ریسمان) او ددانو څخه یې تسبیح جوړیږي، چې د دې ولایت د عمده لاسي صنایعو څخه شمېرل کیږي.

خوست په کال ۱۳۶۴ هـ ش کي د لوي ولسوالي څخه د دریمي درجي ولایت ته ارتقاء کړیده، په عمومي ډول د خوست وګړي غیرتي، په هېواد مین، د ځانګړي استعداد خاوندان او د علم او پوهي سره زیاته مینه لري، د خوست په ولایت کي یو مجهزاو په ملي او بین المللي معیارونو جوړیو پوهنتون په نوم د شیخ زاید شتون لري، چې په ۷۵۰ جریبه ځمکه کي جوړ شوي دی، چې دغه پوهنتون یو جومات، ۸ تدریسي عصري تعمیرونه، ۸ د لیلیې تعمیرونه، او دوه پوړیزه اداري ودانې او یو خوړنځای لري، د دې پوهنتون علمي کدرونه په لاندې ډول دي:

دوکتور ۷ کسه، ماستر ۱۸ کسه، لیسانس ۸۸ کسه او کمیت یي د علمي رتبو په نظر کي نیولو سره هم په لاندې ډول دی، پوهنوال ۲ کسه، پوهندوي ۴ کسه، پوهنمل ۱۰ کسه، پوهنیار ۲۳ کسه، پوهیالي ۶۵ کسه او نامزد پوهیالي ۱۹ کسه دي.

چي دا پوهنتون ۷ پوهنځي هر یو د طب، انجنیري، حقوق، اداري او تجارت، شرعیات، تعلیم او تربیه او د زراعت پوهنځي لري، چي د ۱۳۵ تنو مجربو استادانو لخواء ۲۸۰۰ تنو محصلینو ته په مختلفو پوهنځیو کي تدریس صورت نیسي، همداء راز پدې ولایت کي یو خصوصي پوهنتون، یوعالي دارالمعلمین په نوم د عبدالله خان تني، چي ۷۴۱ تنه محصلین چي لدی جملي څخه ۱۸ یي اناث دي لري، د طبي علومو انستیټوټ، یو دارالعلوم چي په جوړیدو یي ۱،۸ میلیونه ډالره لګیدلي او ۲۵۰ زده کوونکي چي ۱۵۰ یي لیلیه او پاتي یي نهاري دي لري، د ولایت په سطحه ۵۱ بابه لیسي، ۱۴ بابه متوسطه ښوونځي او ۱۳۱ بابه ابتدائیه ښوونځي، ۴۰ دیني مدرسي او ۵ بابه خصوصي لیسي شتون لري، چي د زده کوونکو شمیر یي ۱۵۷۶۵۰ تنو ته رسیږي، چي لدې جملي څخه یي ۴۰۱۴۴ تنه انجوني دي او د ښوونکو شمیره یي ۳۲۴۲ تنه چي له دې جملي څخه ۱۱۲یي زنانه دي، د خوست په ښار کي یو اداري کمپلکس چي په ۹۴ جریبه ځمکه کي جوړ شوي، چي په دې کمپلکس کي د ولایت مقام، د اوبو د تنظیم ریاست، ولایتي شورا، پوهني ریاست، حج او اوقافو ریاست او المپیك آمریت وداني جوړي او ګټه اخیستني ته چمتو دي او د بودجي د پیداکیدو په صورت کي به نوري وداني هم جوړي شي، او هم دا راز پدي ښار کي یو مجهز او عصري ۱۵۰ بستریز روغتون په ۲۰۰ جریبه ځمکه کي د جوړیدو په حال کي دي، او د خوست په کچه لاندې نظامي، امنیتي او ملکي اداري شتون لري.

ملکي ریاستونه : (۳۶) په لاندي ډول

اجرائیه ،دفتر ، اداري ، د سکتوري خدمتونو ، مستوفیت، استیناف محکمه، ولایتي شورا ، حج او اوقافو ، سرحداتو او قبایلو ، چاپیریال ساتني ، د شهیدانو ، معلولینو ، کار اواجتماعي چارو ، سرې میاشتي ، پوهني ، اقتصاد ، کلیو پراختیا ، زراعت ، عدلیي ، اطلاعات او فرهنګ ، مهاجرینو ، د عامي روغتیا ، بریښنا ، اوبو تنظیم ، د ملي پخلاینې ، مخدره توکیو پر وړاندې د مبارزې ، ښاري پراختیا ، مخابراتو ، پوهنتون ، ښځو چارو ، د علماء شورا، ښاروالي ، ګمرك، استیناف څارنوالي، نظامي څارنوالي، ملي امنیت څارنوالي، دارالمعلمین، او د پېښو پر وړاندې د چتمو والي ریاست او همدا راز د سوداګرۍ د خونو اداره

مدیریتونه او آمریتونه (۱۹) په لاندې ډول :

ترانسپورت، فواید عامه، هوائي ډګر، کانونه او صنایع، نفت او ګاز، د افغانستان بانك، مرکزي احصایي، کوچیانو، ځوانانو، جلب او جذب، ملي بس او ارزاق مدیریتونه او همدا راز د المپیك، د ملي راډیو تلویزیون، ترانزیت، او صنعتي پارکونو آمریتونه همداراز د انتخاباتو دفتر او د ډاپاك دفتر او د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو نماینده ګي شتون لري.

او همدا راز د عدلیي ریاست په چوکاټ کي د حقوقو، دارالتادیب، محبس او قضایاي دولت مدیریتونه موجود دي.

نظامي او امنیتي ارګانونه په لاندې ډول دي :

امنیه قوماندانی ، د ملي اردو لومړي نمبر لوا، سرحدي لوا، او د ملي امنیت ریاست

ګمرك، ښاروالي او ترانسپورټ دخوست د عایداتي منابعو څخه شمیرل کیږي، چي د هیواد د عوایدو د لوړولو په برخه کي مهم رول لوبوي، او همدا راز پدې ولایت کي د ائتلاف د قواوو ځواکونه او همدا راز د امریکا د متحده ایالاتو د بیارغوني ټیم موجود دی، او پدې ولایت کـــــي

(۳۱) ملي او بین المللي مؤسسات هم شتون لري.

د خوست ولایت اداري واحدونه په لاندې ډول دي:

د خوست مرکز دریمه درجه او په مرکز پورې مربوط دري غیر رسمي واحدونه (شمل، لکن او متون) او ۱۲ ولسوالي هر یو د اسمعیل خیلو او مندوزیو، نادرشاه کوټ،دوه منده شمل، سپیره، موسي خیل، قلندر، ځاځي میدان، باك، صبري یعقوبي، علیشیر تیریزائي، ګربز، او تني

د خوست مرکز څخه کیلو متري فاصلي په لاندي ډول دي:

اسعمیل خیل ۱۳ کیلو متره، نادرشاه کوټ ۲۴ کیلو متره، تني ۱۵ کیلو متره، ګربز ۸ کیلو متره، دوه منده ۳۳ کیلو متره، سپیره ۴۶ کیلو متره، موسي خیل ۵۲ کیلو متره، قلندر ۳۶ کیلو متره، صبري ۲۵ کیلو متره، باك ۲۴ کیلو متره، ځاځي میدان ۴۰ کیلو متره او علیشیر ۱۹ کیلو متره.

مهم قومونه عبارت دي له: ځدراڼ، منګل، ځاځي، تني ، صبري، ګربز، لکڼ، شمل، متون، بابکرخیل او نور....

رسنۍ:

د ولایت په کچه ۲ د تلویزیون دستګاوي( خوست ملي راډیو تلویزیون، او غرغښت تلویزیون) نشرات لري، چې د خوست ملي تلویزیون نشرات په ۲۴ ساعتو کې ۱۶ ساعته دي، همدا راز په دې ولایت کې ۶ محلي راډیو ګاني ، ۱۶ چاپي رسني او ۲۴ مدني ټولني او مختلفي شوراګاني شتون لري.

د خوست په ولایت کې د ام ټي ان، افغان بیسیم، روشن، اتصالات، او انټرنیټ دستګاوي فعالي او خپل خدمات وړاندي کوي، او همداء راز په دې ولایت کې افغانستان بانک، کابل بانک او عزیز بانک هم بانکي خدمات سرته رسوي.

د دې ولایت د مهمو تاریخي ځایونو څخه د خوست د منګسو په سیمه کې د ایسار غونډۍ یادولي شو، همد راز په خوست کې یو موزیم موجود چې د ۳۰۰ په شاوخوا کې مهم تاریخي اثار لري، مشهور زیارتونه یي ، د کیکرك بابا، عالم شیر پیر، نصري اکا، آدم محمد، خواجه متون بابا، ګلزار اکا او پیربا یادولي شو.

د خوست ښار د تفریحي ځایونو څخه ملیمه کوټ باغ، فارم باغ، د پروژي باغ، او نور تفریحي او سپورتي ځایونه د یادوني وړ دي.

کانونه

د خوست ولایت مهم کانونه عبارت دي له: کرومیت ډبره، سرب، او مرمر دي، د یادولو وړ ده ، چې د دې ولایت کانونه په پراګنده ډول موجود لکه د تڼیو په ولسوالي، د سپیري ولسوالي په جنوب شرق، د موسي خیل ولسوالي په په شمال شرق، او د خوست شمال غرب کې ،

روغتیا ته لاس رسی:

د ټول ولایت په کچه همدا اوس یو ۱۰۰ بستریز روغتون د خوست په ښارکي ، یو ۲۰ بستریز د معتادینو روغتون، یو د سترګو د تداوي روغتون یا مرکز، یو د توبرکلوز مرکز، یو د ملاریا د درملني مرکز، ۱۲ سي اچ سي صحي مرکزونه، ۸ بي اچ سي صحي مرکزونه، ۸ سب سنټر، ۲۷۰ هیلتهه پوست، ۴ شخصي روغتونونه، ۲۵۰ شخصي معاینه خاني او د ۲۶۵ په شاوخوا کې درملتونونه موجود دي.

باید ووایو چې د خوست ولایت په چټکتیاء دودي په حال کې ده، ځکه د دې ولایت د دوو سوو، زرو څخه زیات وګړي په خارجي هېوادو خصوصاً په عربي هېوادونو کې په تجارت او آزاد کسب مشغول اولاس ته راوړلي حلالي پیسي خپل هېواد او ولایت ته را انتقال او هغه د خپل ولایت په آبادي کې په مصرف رسوي،لکه چې پدې وروستیو کالونو کې په خوست ښار کې لوړپوړیزه وداني، مارکیټونه، دوکانونه، د هستوګني عصري او پاخه کورونه او نور تاسیسات جوړ شوي، چې د خوست ښار ښکلا یي زیاته او دا ښار د هېواد په یوه مهم تجارتي او اقتصادي مرکز بدل شوي دی. که چیري خوست د اوبو د بریښنا څخه برخمن شي نو له یوې خوا به خوست په صنعتي سیمه بدل شي، او له بلې خوا به د دغې سیمي شتمن خلك د نورو سیمو او هېوادو پر ځاي په خپل ولایت کې په پانګوني سره په زرګونو وزګاره ځوانانو ته د کار زمینه برابره او همدا راز د دولتي ادارو په کارونو کې به ډیره چټکیا رامنځته شي.

خوست ته دښاغلي عبدالجبارنعیمي راتګ :

څرنګه چې وړاندي مو هم یادونه وکړه ، خوست ولایت د افغانستان د هغو ولایتونو څخه شمېرل کیږي ، چې د پاکستان سره ۱۸۴ کیلومتره ګډه اوږده پوله لري، د خوست ستراتیژیک موقعیت ، قبیلوي او قومي جوړښتونه او د ښاء رغوني چارو ته زیاته پاملرنه او د ښې حکومت

داري لپاره دا ايجابوي، چي دلته د يوه هوښيا ر ، ځيرک او هڅاند والي تر مشرۍ لاندې يوه داسي سالمه او په کار پوهه خدمتګاره اداره شتون ولري ، چي له يوې خوا د ښه او مؤثر خدمت په کولو سره د ولس باور په ادارو لاټينګ او پياوړی کړي، او له بله لوري د دې وړتيا او ظرفيت ولري ، چي ښه حکومت داري او په کارونو او اجرااتو کي د شفافيت اصل رعايت کړی شي .

خوست ته د ۱۳۸۱ کال راهيسي تقريباً پنځه واليان له پلازمېنې کابل څخه رالېږل شوي دي . د هر والي څخه د خوست د ولسونو په بېلابېلو وختونو کي د يوې پاکي اداري جوړولو او ولس ته د رښتيني خدمت کولو غوښتني کړي دي .

دلته به په دې نه غږېږو ، چي د خلکو يادي غوښتني څومره په پام کي نيول شوي او يا نه دي نيول شوي .

راځو دي ته چي د روان ۱۳۸۹ لمريز کال د وري په ۱۵ مه نېټه ښاغلی عبدالجبارنعيمي خوست ولايت ته دوالي په توګه رسماً راولېږل شو. د والي عبدالجبارنعيمي سره د راتګ پر مهال د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د سيمه ايزو ارګانونو د خپلواکي ادارې معين ښاغلی عبدالمالک صديقي ، په ولسي جرګه کي د خوست د خلکو استازی مولوي حنيف شاه حسيني ، د کابل د خلکو استازی بيدار ځاځی او د خوست يو شمېر قومي مشران ملګري ؤ.

هغه مراسم چي د خوست مېلمستون د سولي په کور ، د والي عبدالجبارنعيمي د راتګ په وياړ جوړ شوي ؤ ، په کي د خوست نظامي او ملکي چارواکو ، ديني علما کرامو ، د ولايتي شورا وکيلانو ، د بېلابېلو قومونو مخورو مشرانو ، د جهادي او قومي شوراګانو مسوولينو ، غړو ، د شيخ زايد پوهنتون استادانو ، محصلينو ، د پوهني رياست منسوبينو ، ښوونکو ، زده کوونکو ، د مدني ټولنو استازيو او په ټوله کي د بېلابېلو قشرونو استازو ګډون درلود.

مراسم د خوست ولايت د حج او اوقافو رئيس مولوي اظهارالدين له خوا د قرآن پاک د مبارکو آيتونو په تلاوت سره پيل شول .

ورپسي د خوست ولايت مقام مرستيال او د وخت سرپرست والي طاهر خان صبري د خوست نوي والي او ورسره راغلي پلاوي ته ستړي مشی او هر کلی ووايه .

صبري وويل موږښاغلي نعيمي ته د نوي دندې مبارکي وايو او تر څنګ به يې په ټولو کارونو او اجرااتو کي بشپړ همکار ؤ.

له هغه وروسته د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د سيمه ايزو ارګانونو خپلواکي ادارې معين ښاغلي عبدالمالک صديقي خبرې وکړې .

نوموړي وويل : ښاغلی عبدالجبارنعيمي د افغانستان د سيمه ايزو ارګانونو د خپلواکي ادارې په وړانديز او د افغان ولسمشر جلالتماب حامدکرزي د ځانګړي حکم په اساس د خوست د والي په توګه ټاکل شوی دی .

ښاغلي صديقي زياته کړه ، ښاغلی عبدالجبارنعيمي څه د پاسه دري کاله په ميدان وردګو ولايت کي د والي په توګه دنده اجراء کړي ، چي له کارونو او فعاليتونو يې د کابل د مرکزي اداري تر څنګ د ميدان وردګو ټولو قومونو ته منسوب وګړي زيات خوښ او راضي دي .

ده وويل، زه هيله من يم ، چي ښاغلی عبدالجبارنعيمي به په خوست کي د ډېر ښه خدمت مصدر وګرځي . همداشان ښاغلي صديقي دخوست له خلکو وغوښتل چي که غواړئ د ښو لاسته راوړنو څښتنان شئ ، نو د نوي والي عبدالجبارنعيمي په کلکه توګه په ټولو کارونو او اجرااتو کي همکار او ملا يې ور وتړئ .

بيا په وار سره علماء کرامو او مشرانو خبرې وکړې، د ښاغلي عبدالجبار نعيمي راتګ ته يې هرکلي ووايه ، د دوی راتګ يې نيك فال وباله ،او پدې يې خوښي څرګنده کړه، چي خوست ولايت ته د يوې ځواني انرژی خاوند والي راغلي دي.

د يادوني وړ ده، چي د مبارکي ويلو مراسم شاوخوا لس ورځي دوام وکړ، پدې ورځو کي د مرکز او ټولو اداري واحدونو علماء کرام، مشران، مخور ، سپين ږيري، د پارلمان وکيلان، د ولايتي شورا غړيو، د مدني ټولنو غړو، د ملي اردو، ملي پوليسو او ملي امنيت، منسوبينو، د پوهنتون استادانو او محصلينو د ملکي ادارو مامورينو او کارکوونکو، خوست ښاريانو او د صنفي اتحاديو غړو د اړونده ولسواليو د پوهني منسوبينو، ښوونکو او زده کوونکو اود نورو قشرونواستازو، او د ټولنو غړو چي تعداد يې زرګونو تنو ته رسيده، په خپل وار د ولايت ميلمستون ته راغلي ، او د مبارکي ويلو په ترڅ کي يې خپلي محيطي ستونزي او شکايتونه هم په لاندې ډول يو په بل پسي بيان کړل.

نا امني:

چي له امله يې د قانون د تطبيق په برخه کي ستونزې رامنځته ، وژنه، غلاء، شوکماري، اختطاف د ماينونو ايښودل چي له امله يې هره ورځ په لسګونه تنه شهيدان او ټپيان کيدل، د ناقانونه وسلو ګرځول د اکثره ښوونځيو د روازې د زده کوونکو پرمخ بندې، د

دولتي کارکوونکو اختطاف او وژنه، په داخل د ښار کي د غیر مسؤلو مسلحو کسانو شتون، زور واکي، بي مورده تهدیدات او ګواښونه دا ټول هغه څه ؤ ، چي دخوست میشته ولسونو عادي ژوند یي له سخت ګواښ سره مخامخ او د بي باوري او بي اعتمادي فضاء رامنځته، په ولسونو کي د خوف، ویري او ډار فضاء حاکمه او د دولت او ولس ترمنځ واټن په بي کچه ډول مخ په زیاتیدو ؤ.

- د دولتي حاکمیت په وړاندي ګواښونه :

په اکثره دولتي ارګانونو کي د قانون نه پلي کول، د مرکزي دولت عدم اطاعت، د مراتبو د سلسلي نه مراعاتول، د اکثره ادارو دروازي د مراجعینو په وړاندي بندي، د ځینو ادارو دکارکوونکو لخواء رسمي وخت په پام کي نه نیول، د اداري فساد، رشوت، اختلاس، جعل او تزویر د مراجعینو سره بدبر خورد د مراجعینو د کارونو ځنډول، د مجازاتو او مکافاتو د سیستم نه مراعاتول، بي ځایه تعصبات، د محلي ادارو نه تقویه کول او د داسي ورته نورو ناقانونه اعمالو سرته رسول، چي د خوست میشته ولسونو دکاملي نارضایتي لامل ګرځیدلي، عامو ولسونو له دولت څخه فاصله نیولي وه، او په ولایت د نه باور او بي اعتمادي فضاء حکمفرماء چي دا کار د خوست میشته ولسونو د زیاتي اندیښني باعث ګرځیدلي ؤ.

- په ادارو کي زیات فساد :

والي عبدالجبار نعیمي ته د خوست ولسونو په ځینو ادارو کي د زیات فساد، ځورونې، زور، ظلم، تعصب او بډو اخیستنو څخه سرونه وټکول، دوی ویل ، په اکثره ادارو کي مو قانوني کارونه ځنډیږي او د بي ځایه ځورونو سره مخ کیږو.

دوی وړاندیز کاوه، چي په ادارو کي دي جدي اصلاحات راوستل شي، هغه څوك چي له دولتي موقف څخه ناوړه ګټه پورته کوي، ورته دي سخته سزا ورکړل شي، تر څو د نورو لپاره عبرت او اداري ولس، ته خدمتګاري او خیررسوونکي جوړي شي.

- د دولتي ځمکو غصب:

د ټول ولایت په کچه ۵۶۰۰۰ جریبه ځمکه په ډیره بي رحمی د زور واکو لخوا غصب، د خوست ښار په داخل کي د پلان پرخلاف د لوړپوړیزو ودانیو جوړول ، د ګمرك ساحه، د وړکتون ځمکه، د صنعتي پارکونو ساحه، د هوائي ډګر ځمکه او د ښار د نورو ساحو غصبول ، چي دا کار د ښاروالي د ټولو عام المنفعه پلانونو د تطبیق په لار کي لوي خنډ کرځیدلي ؤ، همدا راز په مرکز او ولسوالیو کي زراعتي ځمکي دولتي باغونه، د اوسیدني دولتي وداني او نور عامه او دولتي ملکیتونه د زور واکو لخواء غصب او دا لړي په چټکیتاء روانه وه.

- د ځمکي په سر د قومي غټو شخړو حل ته نه پاملرنه :

خوست میشته ولسونو د ښاغلي والي د پیژندګلوي په مراسمو کي په ځینو چارواکو نیوکه کوله، چي د خوست ولایت په کچه نه یوازي قومي شخړي، د شریعت ، قانون او یا د پښتني دود او د ستور په بنا نه حل کیږي، بلکه د ډیرو زیاتو کلونو راپدیخواء د دي ستونزو په وړاندي پخواني ولایتي اداري چوپه خوله پاتي، چي دا کار د کلونو کلونو راپدي خواء د قومونو تر منځ د نفاق او بي اتفاقي سبب ګرځیدلي، ملي وحدت زیان مونډلی او د قومي مسلحانه جنګونو سبب ګرځیدلي، چي په پایله کي یي په لسګونه تنه ځوانان مړه، ټپیان، کورونه سوځیدلي، او د هغوي شته لوټ او تباه شوي، اود دي جنګونو په نتیجه کي بدبیني او ناخوالي زیاتي رامنځته او د ښمني راتلونکو نسلونو ته په میراث پاته شوي دي، خوست میشته ولسونو د خوست نوي والي نه په کلکه غوښتنه وکړه، چي د دي شخړو د حل لپاره دي لازمي لاري چاري ولټوي او پدي لار کي دي عملي ګامونه واخلي.

- د بیاءرغوني په لار کي خنډونه :

خوست میشته ولسونو په خوست کي د ځینو شویو بیاءرغنیزو چارو د کیفیت څخه هم سرټګاوه، دوي ویل ، د بیاءرغوني چاري د یوه منظم پلان د نه درلودلو، د متوازن انکشاف اصل ته نه پاملرنه، د قرار دادونو په ترسره کولو کي د قانون نه مراعاتول، د پروژو د کار څخه نظارت نه کول، او د ولس د لومړیتوبونو په پام کي نه نیول، او عدم شفافیت دا هغه څه ؤ، چي په نتیجه کي د کار کیفیت ډیر خراب او همداء اوس زیاتي پروژي موجودي دي، چي د کار د کیفیت د خرابوالي له امله د استفادي وړندي ګرځیدلي، دوی په کلکه غوښتنه وکړه، چي د بیاء رغوني چاري دي، د خوست میشته ولسونو د اړتیاوو او لومړیتوبونو په نظر کي نیولو سره ډیر ګرندي او دا پروسه دي په شفاف ډول ترسره شي، او دوی زیاته کړه، چي د بیارغوني پروسه دي چټکه او د

سړکونو، پلچکونو، ښوونځیو، روغتونونو، کلینیکونو، سربندونو، کاریزونو او ویالو په جوړولو، د زراعت په میکانیزه کولو او د بې کارۍ د سطحې په راکمولو کې یې د ښاغلي والي عبدالجبار نعیمي څخه د کلکې مرستې غوښتنه وکړه.

د یادونې وړ ده، چې ښاغلي نعیمي د پورته عمده او غټو ستونزو په نظر کې نیولو، او د جلا جلا غونډو برخه والو ته د هغوي د تاوده هر کلي نه مننه وکړه، او هغوي ته یې وویل:

واقعاً چې د خوست ولسونه میلمه پال او عزت مندخلك دي، ده پدې خوښي وښوده، چې د خوست ولسونه په خوست کې په شته ستونزو ورسره مخامخ خبري وکړي، او ترځنګ یې په ډیري لیوالتیا سره د حل په برخه کې د کلکې همکارۍ او ملاتړ ژمنې کوي.

خوست والي عبدالجبار نعیمي وویل: زه په یوه ارمان سره د تاسو ولایت ته راغلي یم ، او هغه ارمان مې د خوست ولسونوته په رښتني توګه خدمت کول دي، که تاسو علماء کرام ،قومي مشران، او ځوانان همداسې په خپله ژمنه ولاړ همکار پاته شې، نو زه وعده درکوم، چې یو کال وروسته به د خوست د بنې په هره برخه کې ژور او د پام وړ بدلون راشي.

د خوست والي په قومونو غږ وکړ، چې که چیري هم د رشوت او اختلاس ښې ووینې نو په اړوند دي له ده سره نیغ په نیغه اړیکه ټینګه کړي، تر څو په اړه یې د وخت سره سم قانوني اجراات ترسره کړي، همداشان ده وویل، ستاسو ټولې نیوکې او وړاندیزونه مو په غور واوریدلې او یاد داشت مو کړي، او ډاډ درکوم، چې له همدې ورځې وروسته به یې د حل په منظور عملي ګامونه اوچت، تر څو په ټول ولایت کې سراسري امن خوندي، سوله تامین، ښه چاروکې او حکومت داري رامنځته او د بیاء رغوني چارې په شفاف ډول ګړندي، تر څو خوست میشته ولسونه چې د تیر دیرش کلن جنګ جګړو له کبله د سختو ناخوالو سره مخامخ او لاس او ګریوان دي، د هوساء او سوکاله ژوند خاوند او ولایت مو د آبادۍ په لور پرمختګ وکړي.

د خوست والي عبدالجبارنعیمي کاري موخې :

د خوست والي عبدالجبارنعیمي د خپلو کارونو په لومړیتوبونو کې امنیت، ښې حکومتدارۍ او بیاءرغوني ته ډیر ژمن دی . ښاغلی نعیمي غواړي ، چې په خوست کې دي دایمن امنیت تامین، او یوه شفافه او کاري دولتي اداره رامنځ ته کړي . دی په دې باور دی ،چې که موږ یوه سالمه او کاري اداره ولرو، نو دغه اداره کولای شي ، چې په ادارو کې کاري اړیکې رامنځته کړي، او په دې توګه د ګډوډیو، خپلسریو او شخصي اړیکو ځای نظم او دسپلین و نیسي .

ښاغلی نعیمي غواړي چې د یوې اګاه ادارې د لارې نظم او دسپلین، په دولتي ادارو کې برقرار کړي .د نظم او دسپلین په راتګ سره کولای شو ، چې خلکو ته ښه خدمات وړاندې کړو ، او د خلکو او دولت تر منځ د باور د فضا د پیاوړتیا لپاره په دې لاره کې اغیزمن تمام شو.

خوست والي، په دې عقیده دی ، چې په ادارو کې یوازې بایداسلامي او افغاني روحیه موجوده وي او هیڅاته باید ددې موقع په لاس ور نه شي ، چې د دولتي امکاناتو څخه په استفادې تعصبي فعالیتونو ته لمن ووهي .

ښاغلی نعیمي په دې عقیده دی ، چې له دولتي ادارو څخه باید د تعصب لمن راټوله شي . ځکه تور او سپین د دې ملت د نابودۍ سبب کیږي . خوست والي کلک هوډ لري ،چې د دا ډول ستونزو په وړاندې به جدي مبارزه وکړي . او ټول دولتي مامورین د قانون په وړاندې ولس ته ځانونه مسوول وبولي او د تعصب خورولو زمینه چا ته باید برابره نه شي .

ښاغلی نعیمي په دې اند دی ، چې په هره اداره کې چې مجازات او مکافات نه وي ، په هغه اداره کې تشویق نه شته او په هغه اداره کې چې مجازات او مکافات نه وي ، د یوې خوا په هغې کې قانون په ښه شان نه پلي کیږي، او د بلې خوا د دې اصل نه مراعاتول د ادارې د فلج کېدلو باعث ګرځي . که چېرې دا لړۍ پیل شي نو بیا کولای شو ، چې قانون تطبیق کړو ، نظم پر ځای کړو او خپلې اداري محرکې وساتو او محرکې اداري خلکو ته بیا د ښو خدماتو د وړاندې کولو ښه ظرفیت لري .

څرنګه چې د امنیت په ښه ټینګښت کې د نظامي او ملکي ادارو تر منځ همغږي او د نظر یوالی عمده رول لري .نو په دې اساس خوست والي پلان لري ، چې د دې ارګانونو تر منځ بایدژوره همکاري موجوده وي .که چېرې د دې سره نه همغږي وي ، نو کېدای شي ، چې د امنیت انحلال لپاره دخاورې او ولس دښمنانوته ښه چانس برابر شي .

دی وایي چې د امنیت د ښه ټینګښت لپاره لازمه ده ، چې زموږ د امنیتي ارګانونو تر منځ کلکه همکاري او پیاوړي همغږي باید موجوده وي . تر څو ښه دایمن امنیت تامین شي .

خوست والي د امنيت د ټينګښت په موخه په خوست کې د ټولو امنيتي ارګانونو سره پرله پسې ناستې کړي دي .دغه ناستې د دې سبب شوي دي ، چې د کم وخت په تېرېدو سره د ښې همغږۍ په راوستو سره ګڼ شمېر لاسته راوړنې ولرو.همداشان دا مهال خوست والي د امنيتي ارګانونو سره د ولايت په کچه په يو شمېر داسې طرحو او پلانونو کار کوي ، چې په بشپړېدو او پلي کېدو سره به يې د خوست په امنيتي وضعيت کې څرګند بدلون راشي . د دې تر څنګ خوست والي نعيمي غواړي چې د دې ولايت له ديني علما کرامو سره له نږدې ښې اړيکې ولري . او ديني علماوو سره د قانون په چوکاټ کې په ټولو هغو کارونو کې مرسته وکړي ، چې دوی ورته اړتيا ولري . همداشان خوست والي غواړي ، د ديني علماکرامو سره په داسې روحيه کار وکړي ، چې دوی د خپل ديني مسووليت په اساس په جوماتونو کې دممبر له لارې د غلا، فساد ، انسان وژنې ، سود، سړي تښتونې ، د نشه يي موادو استعمال او نورو ناروا عملونو پر خلاف خپل غږ پورته کړي .

همدارنګه خوست والي عبدالجبارنعيمي زياتوي ، دی غواړي د ولس او قومونو سره ښې او نږدې اړيکې په هر وخت کې وپالي . دی وايي د قومونو او ولسونو سره ښې اړيکې ډېرې مهمې او اړينې دي .او موږ به د دوی قانوني غوښتنو ته مثبت ځواب ووايو او له مشرانو سره مو په وار ، وار ناستې کړي او دغه ناستې به له نوموړو مشرانو سره په بيا ،بيا ولرو.

خوست والي د ښوونې او روزنې برخه ډېره مهمه او اړينه بولي .ځکه نو دی په دې ټينګار کوي ، چې نوموړې برخه بايد ډېره فعاله ژوندۍ ، پرمختللې او پياوړې جوړه کړو . نوموړی وايي زما به هڅه او تلاش دا وي، چې د دولتي مامورينو، استادانو او ښوونکو د ظرفيتونو د لوړولو لپاره لازمه زمينه برابره کړم، تر څو دولتي اداري مو پياوړي او استادان او ښوونکي زموږ اولادونو ته په ډېره ښه توګه زده کړه ورکړي .همداشان خوست والي وايي په ټولو امکاناتو به هڅه کوي ، د پوهنې د غوړېدا او پراختيا په موخه به وړ او لازم کارونه تر سره کړي .

ښاغلی نعيمي دغه ټکي ته ډېر متوجه دی ، او د خپلو کاري موخو په سر کې يې قرار ورکړی دی .نوموړی پلان لري ، چې د بيارغونې د پروژو څخه جدي نظارت وکړي . دی په دې باور دی چې که د بيارغونې دپروژو څخه جدي نظارت وشي ،نو د پروژو د کيفيت په ښه والي کې پوره تاثيرات راتلای شي . او دا پروژې بيا د دې جوګه کېدای شي ، چې د اوږد مهال لپاره د استفادې وړ وګرځي .

خوست والي په ښار کې د بريښناء نه شتون، د هوائي ملکي ډګر نه شتون، په ښار کې د کافي صحي اوبو کموالي، د کاناليزاسيون عدم موجوديت، د سړکونو خرابوالي، په ځينو ولسواليو کې د پلونو او پلچکونو نه موجوديت ، دښوونځيو دودانيو نه شتون د صحي خدماتو د وړاندي کولو لپاره د مجهزو روغتونونو او کلينيکونو کموالي، د کرني او مالداري په برخه کې ځيني ستونزي، د بندونو او کانالونوجوړونه، د صنعتي پارکونو د پروژي پيلونه ، د دولتي ادارو اکمال او تجهيز، په ولسواليو کې د دولتي ودانيو جوړول او د هغو تجهيز ،دکاريزونو او ويالو پاکول د زراعت ميکانيزه کول او د زراعتي محصولاتو زياتوالي، د کوکنارو نه کرل، او د بيکاري د سطحي زياتوالي چې اکثره ځوانان د بيکاري له امله د راز راز ستونزو سره لاس او ګريوان دي، چې په پورته برخه کې به په خپل وخت سره جدي او لازم اقدامات ترسره شي.

ښاغلي نعيمي د امنيت، سولي، ثبات او ملي وحدت د تامين، د قانون تطبيق، په عدلي او قضايي ارګانونو کې د شته ستونزو د حل، د عدالت د تامين، د بشري حقوقو د تامين، د شهيدانو چې د راجستر شويو تعداد يي ۱۶۰۳ او د معلولينو او معيوبينو چې د راجستر شويو تعداد يي ۳۳۲۸ تنه دي د هغوي د ستونزو په حل ، د مهاجرينو او بي ځايه شويو د ستونزو لري کول، چې تر اوسه (۱۴۳۲۳) کورني وطن ته بيرته راستانه شوي او هغوي ته د قلم وال ميني ښارګوټي چې په (۱۱۲۵) جريبه ځمکه کې جوړ دی، چې تر اوسه پکې ۲۷۵ کورني ځاي پر ځای شوي د لازمو اسانتياوو او د کار د زميني برابرول،چې تر اوسه پدې ښارګوټي کې ۴۵ د صحي اوبو څاګان کيندل شوي او ۱۰ کيلومتره سړك جغل اندازي شوي دی، د لاسي صنايعو وده او پرمختياء او پدې لار کې د مختلفو پروژو پلي کول او پدې لار کې د عملي ګامونو اوچتول، د دوی د کاري پروګرامونو څخه شميرل کيږي.

ښاغلي نعيمي وويل: دا مهال د زياتره ادارو څخه خلک سر ټکوي ، چې د يو شمېر دولتي ادارو له خوا دوی ته ښه خدمت نه وړاندې کيږي . دوی په دې برحقه دي ، خو اساسي خبره دا ده ، چې دلته په يو شمېر ادارو کې د مامورينو کاري ظرفيت ټيټ دی ،او په ډېرو ادارو کې مامورينو ته دقانون او مقرراتو په رڼا کې د کار د خلاصون او لنډون چل نه ورځي . اوس نو ښاغلی نعيمي دې نقطې ته ډېر ځير دی او غواړي چې په دولتي ادارو کې دمامورينو ظرفيت لوړ کړي، او د دې کار لپاره پر يوه منظم پلان کار کوي . تر څو مامورين د دې جوګه شي ، چې چارې په لنډ وخت او منظم ډول تر سره کړي .

د اداري فساد پر وړاندې جدي مبارزه د ښاغلي نعيمي په لومړيتوبونو کې شامله ده . خوست والي غواړي چې يوه شفافه اداره رامنځته کړي .او ټول هغه مامورين چې په فسادکې ښکېل وي ، د دې ناوړه لارې څخه يې راوګرځوي .

د ولسواليو په کچه د ادارو څخه نظارت ، په لېرو پرتو سيمو کې مامورين خپلو دندو ته متوجه کول . او دمامورينو دکارونو بررسي کول هغه څه دي چې ښاغلی عبدالجبارنعيمي يې په خپلو کاري موخو کې لري، او تر هغې چې دی دلته د افغان دولت د يوه مامور په توګه دنده اجرا کوي ، د دغه سپېڅلي ارمانونو دپوره کولو لپاره به جدي مبارزه کوي او په دې لاره کې يې دخوست خلک هم ملګري دي او د ده سره به ملګرتيا کوي .

يو شمېر هغه ناخوالي چې د خوست اداره ورسره مخ ده ، ددولتي ځمکو غصب ، بې قانوني ، د خلکو بېځايه زورونه ، د بې کيفيته او خوراکي توکيو، بي کيفيته دواء درملو، او نورو بي کيفيته موادو خرڅول او په رهايشي ځايونو کي د لوړپوړيزو خپلسرو ودانيو جوړونه، د قيمتي ډبرو قاچاق، د دولتي عوايدو د سطحي ټيټوالي ، د ناقانونه وسلو شتون، قومي شخړي او جنجالونه دي.

خوست والي پورتنی ناخوالي يو څه جدي ګڼي ، خو بيا هم د ده په خبره کلک هوډ اود پورته پروګرامونو پلي کول او تطبيق دمنظم پلان درلودل ، د دولت او خلکو په منځ کي د باور د فضا پياوړتيا د دي سبب کېدای شي ، چې يادي ستونزي په تدريجي توګه له منځه لاړې شي . چې په دې برخه کي مو پرمختګ هم کړی دی . د بېلګې په توګه هغه چا چې قانون تر پښو لاندې کاوه ، د هغوی څخه مو ځيني د قانون تر منګولو ورسول . او دا لړۍ به روانه وي . همدارنګه مو په وخت تېر او بې کيفيته خوراکي توکي او دارو درمل مو له ښاره راټول کړل او د خلکو په وړاندې مو سوزولي دي .

همداشان مو اړونده دولتي ارګانونو ته په کلکه و يلي ، چې په ښار کي د ماسټر پلان خلاف بايد هيڅا ته اجازه ورنه کړل شي . هر کار او هره ودانۍ به دماسټر پلان له مخې جوړيږي ، او د امنيت او ښې چارواکي او بيارغوني په هکله مثبت تغيرات رامنځته شوي دي.

وړانديزونه:

د هغو غونډو، ناستو، ليدنو او کتنو په ترڅ کي چې د خوست والي محترم عبدالجبار نعيمي د خوست ولايت مرکز او اړونده ټولو ولسواليو دعلماء کرامو، مشرانو، سپين ږيرو، په پارلمان کي د خوست د منتخبو استازو، د ولايتي شوراء غړو، دولتي چارواکو، د مدني ټولنو ،او نورو مختلفو شورا ګانو له غړو ، ژورنالېسټانو د خبري رسنيو غړو او خوست ښاريانو سره ترسره او د خوست د مرکز د مختلفو برخو او همدا راز د ځاځي ميدان، سپيري او موسي خيلو ولسواليو ته د سفرونو په لړ کي او د نوموړو ولسواليو د دولتي کارکوونکو او مشرانو سره يې له نږدې ليدنه کتنه وکړه، چې د دې ټولو ليدنو کتنو په پايله کي چې په زرګونو تنو سره تر سره شوي د هغوی محيطي ستونزي ټولي يادداشت چې دا دي د دغو ستونزو مهمي برخې په پيشنهادي شکل ليکل کيږي.

د اړونده محترمو وزارتونو، ملي او بين المللي مؤسساتو او نورو ټولو خيريه ټولنو نه هيله کيږي، چې دلاندي وړانديزونو په برخه کي ولايتي اداري او خوست مېشته ولسونو سره پوره مرسته او همکاري وکړي.

الف: دامنيت په برخه کي

1. **دکورنيو چارو محترم وزارت ته!**

**د دې په خاطر چې د خوست شريف ولس د ډاډمن امنيت څخه برخمن شوي وي او وکولای شي د امنيت په ډاډمنه فضاء کي خپل عادي ژوند ته دوام ورکړي، د قانون حاکميت ټينګښت ومومي، عدالت په ښه شان تامين شوي وي، دبېځايه وژنو، غلاوو، او نورو مختلفو جرايمو مخه په ښه ډول نيول شوي وي او د بيا رغوني چاري په ګړنديتوب سرته رسيدلي وي، د کورنيو چارو وزارت محترم مقام څخه په درنښت هيله کووچي! دا چې د خوست ولايت يو حساس، مهم او سرحدي پراخ ولايت، او ديو ميليون څخه زيات نفوس لري، د ولايت د امنيي قوماندانۍ د تشکيل د لوړولو، په خوست ښار کي د نورو امنيتي حوزو لپاره د تشکيل منظورولوپه برخه کي پوره مرسته وکړي، او همداء رنګه د ملي پوليسو د ظرفيتونو د لوړولو لپاره دي د خوست په مرکز کي سيمينارونه، ورکشاپونه او کورسونه جوړ تر څو ملي پوليس ولس ته د ښو او رغنده خدمتونو مصدر وګرځي.**

- **د جنايي جرمونو په وړاندي د مبارزي مديريت د تشکيل لوړوالي او دمجربو مسلکي افسرانو په دنده ګمارل او هغوي ته د کريمنال تخنيک د وسايلو برابرول تر څو وکولای شي، د جرمونو په کشف کي مهم رول اداء کړي.**
- **د امنيي قوماندان او د امنيت آمر لپاره د هستوګني د کورونو او همداء رنګه د ملي پوليسو افسرانو ته د رهايشي بلاکونو جوړول.**
- **په ولسواليو کي د امنيي قومندانيو دودانيو جوړول، بيارغونه، ترميم او د ولسواليو د امنيي قوماندانانو لپاره د رهايشي ځايونو جوړول.**
- **د ملي پوليسو تجهيز او اکمال په وسلو، مهماتو، وسايلو او ساويطو**
- **د سرحدي لواء، د ظرفيت لوړولو او د هغوي د تجهيزاتو او وسايلو اکمالول.**

**هيله منديو چې د کورنيو چارو محترم وزارت مشر تابه به په پورتنيو وړانديزونو باندي د پام وړ غور وکړي او دحل په موخه به يې اړونده مسؤلو چارواکو ته لازم هدايات صادر کړي.**

**2. د ملي امنيت عمومي ریاست محترم مقام ته!**

**د دې لپاره چې دملي امنيت کارکوونکي وکولای شي، چې دخپلو مقرراتو په چوکاټ په ورسپارل شويو دندو کې ښه برياليتوبونه تر لاسه کړي وي، د ملي امنيت د عمومي رياست مقام څخه هيله منديو چې دخوست د ملي امنيت د کارکوونکو د ظرفيت لوړولو په ولسواليو کې د ملي امنيت د څانګو د تشکيل په زياتوالي او همداء رنګه د ملي امنيت د رئيس لپاره د رهايشي کور او نورو کارکوونکو ته دي رهايشي بلاکونه په نظر کې ونيول شي، په ولسواليو کې د ملي امنيت د څانګو لپاره ځانګړي دولتي وداني او د رهايشي کورونو په جوړولو او همدا رنګه د هغوي د تجهيزاتو او وسايلو په برخه کې لازمي مرستي ترسره شي.**

**ب: د ښې چارواکي په هکله**

**3. د سيمه ايزو ارګانونو د خپلواکي اداري محترم مقام ته!**

**د دې لپاره چې يوه کاري او شفافه اداره رامنځته، تر څو وکولای شي د ولس باور او اعتماد تر لاسه، هغه فاصله چې د ولس او دولت تر منځ موجوده ده راټيټه او د اداري فساد مخه نيول شوي وي، او د دي اداري ټول کارکوونکي پدي وتوانيږي، چې ښه او بهتر خدمات خلکو ته وړاندي او د ولسونو غوښتنو ته ځواب ويونکي وي هيله مو دا ده، چې :**

- **د دولتي کارکوونکو لپاره د ظرفيت لوړولو لپاره د سيميناورونو، ورکشاپونو او کورسونو د جوړولو په اړوند د دې ولايت سره مرسته ترسره شي.**

- **دا چې د خوست په ښار کې يو لوي مجهز اداري کمپلکس په ۹۴ جريبه ځمکي جوړ او تر اوسه پدي کمپلکس کې د ولايت مقام، د اوبو د تنظيم رياست، ولايتي شورا، پوهني رياست، حج او اوقافو رياست او المپيك آمريت د ارګانونو لپاره اداري وداني جوړې، مګر دپاته نورو ادارو وداني تر اوسه ندي جوړي، هيله مو دا ده، چې اړوند محترم وزارتونه د خپلو رياستونو لپاره ژر تر ژره وداني جوړي تر څو له يوې خواء نوموړي کمپلکس ګټي اخيستني ته چمتو او له بلې خواء دولتي کارکوونکي ولس ته بهتر خدمات وړاندي او هم د ولسونو د بيځايه سر ګرداني مخه نيول شوي وي.**

- **اکثراً ليدل کيږي، کوم وخت چې دااداري يو رئيس د مختلفو عواملو له کبله استعفي وړاندي کوي، يا تبديل او يا په خپل بست کې د کاري وړتياء د نه درلودلو له امله مرکز ته معرفي کيږي، پدي صورت کې په مياشتو مياشتو نوموړي بست خالي او د نوموړي اداري ټول کارونه له رکود سره مواجه کيږي.**

**هيله مو دا ده ، چې دکمبود بست د اکمال لپاره اړونده محترم وزارتونه د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو د محترم کميسيون او ولايت د مقام سره په تفاهم د کمبود بست د پوره کولو لپاره ژر تر ژره مرسته ترسره او وړ، لايق، په کار پوه او مجرب دولتي کارکوونکي په دنده وګمارل شي.**

- **دا چې د خوست ولايت يو سرحدي او پراخ ولايت د يو ميليون څخه زيات نفوس لري، پدي ولايت کې دمختلفو جرمونو خصوصاً د ځمکو پر سر قبيلوي او قومي شخړي زياتي دي، چې د دې جرمونو د څيړلو او د شخړو د حل لپاره لازمه ده، چې عدليې او قضائي ارګانونه تقويه او د هغوي ستونزي پخپل وخت لري شي، بناءً د ستري محکمي د محترم عالي مقام، د لوي څارنوالي محترم مقام او د عدليې وزارت محترم مقام نه په ډير درنښت هيله کوو، چې د خوست ولايت په مرکز کې يو عدليې او قضايي کمپلکس د جوړولو لپاره چې په هغه کې د استيناف رياست، د استيناف څارنوالي، د ملي امنيت او نظامي څارنواليو، او د عدليې رياست لپاره د اداري ودانيو، د اوسيدنو د ودانيو، او همدا راز د يوه مجهيز پراخ محبس او د کوچنيانو د اصلاح او تربئي مرکز لپاره بودجه منظوره کړي، البته د ولايت مقام به د دې کمپلکس لپاره ځانګړي د ضرورت وړ ځمکه آماده کړي. په همدې ډول هيله مند يو، چې د خوست ولايت مربوط په ۱۲ ولسواليو کې د قضاتو، څارنوالانو، د حقوقو آمريتونو لپاره د ودانيو او د هستوګني د کورونو يا بلاکونو لپاره انکشافي بودجه منظوره او د هغوي د وسايطو دفتري وسايلو او تجهيزاتو په اکمال کې مرسته ترسره شي.**

**4. د ټرانسپورټ محترم وزارت ته :**

لکه څرنګه چې په خوست ولايت کې دوه هوايي ډګرونه دي ، چې په کې ايساف ځواکونه ميشت دي، نو له دې امله دخوست هغه په سلګونوزره مسافرين چې په عربي هيوادونو کې د روزي ګټلو په نيت شپې او ورځې تيروي ، چې د تګ راتګ پروخت د ډيرو ستونزو او مشکلاتو سره مخ کيږي . نو د دې په خاطر چې د دې ولايت د يادو مسافرينو او د ټولي لويې پکتيا غوښتنه هم منلي شوي وي او تر څنګ يې دولتي مسوولينو هم پلازمېنې کابل ته د تګ راتګ په وخت کې د هيواد شرايطو ته په پام سره تر ې استفاده کړي وي . له کبله يې د ټرانسپورټ وزارت محترم مشرتابه ته وړانديز کوو ، چې د خوست په ولايت کې دې دپورتنيو يادې شويوستونزو دحل په خاطر د هوايي ډګر دجوړولو په برخه کې لازم او اړين اجراات تر سره کړي . د هوايي ډګر جوړېدل به د مسافرينو د اړتياوو د رفع کولو تر څنګ ، دې ولايت ته اقتصادي ، سياسي ، امنيتي او ټولنيزې ګټې ور په برخه کړي .

**5. د ماليې محترم وزارت ته :**

لکه وړاندې چې یادونه وشوه ، خوست د افغانستان د مهمو سرحدي بندري ولایتونو څخه ګڼل کیږي .او دا بندري سرحد د دې باعث شوی ، چې دولت ته یې د ګمرک له لارې د پام وړ عاید په لاس ورځي . خو تر اوسه په دې ولایت کې د ګمرک لپاره تاسیسات او اړین وسایل شتون نه لري . په داسې حال کې چې د ودانیو د جوړولو په خاطر هغه ۹۴ جریبه ځمکه هم په دې وروستیو وختونو کې د زورواکو او غاصبینو څخه په بشپړ ډول پاکه شوې او د ودانی جوړولو لپاره کاملاً تیاره ده .نو په دې اساس د مالیې وزارت محترم مشرتابه ته احتراماً وړاندیز کوو، چې په دې ولایت کې د یوې سترې شته اړتیا له مخې بودجه ځانګړي او د عملي کار کولو په موخه لازم اجراات تر سره کړي .

### 6. د برېښنا محترم وزارت ته :

لکه څه ډول چې د ژوند دپرمختګونو او سهولتونو مینځته راتګ مستقیماً په برېښنا پورې تړاو لرلی شي ، نو دې اهمیت او ارزښت ته په پام سره د برېښنا وزارت محترم مشرتابه ته احتراماً وړاندیز کوو، چې دخوست په ښار کې دې د برېښنا شبکه جوړه او پیاوړې کړي ، د اړتیا سره سم نوي ډیزلي جنراتورونه راولېږل شي ، تر څو د هغې په اساس د خوست د ښار شاوخوا سیمو کې ، کورونه ، تجارتي مرکزونه ، جوماتونه ، دولتي ادارې ، ښوونځي ، دوکانونه ، روغتیایي مرکزونه او همداسي نور مهم ځایونه د برېښنا څخه برخمن شي.

- د ټول خوست د روښانه کولو په موخه وړاندیز کوو، چې دا ولایت دې په داسې یوه پلان کې ونیول شي ، چې له مخې یې په راتلونکي کې د وارداتي برېښنا څخه برخمن شي . ترڅو له امله یې دلته په بېلابېلو برخو کې پانګوال پانګونې وکړي . چې په دې سره به له یوې خوا دخوست او همدارنګه د ټول افغانستان په اقتصاد او سوداګرۍ باندې مثبته اغېزه وشیندي . او له بله خوا به په دې ولایت کې د بې کارۍ په کچه کې دپام وړ ټیټوالی راشي .
- دا چې د خوست ولایت اکثره وګړي ډېر بیوزله او د بیکارۍ سره لاس او ګرېوان دي، مګر همدا اوس د یوه کیلو وات برېښنا قمیت ۳۶ افغانۍ دي، هیله مو دا ده، چې د برېښناء د ارزښت په راټیټولو کې اړونده ارګانونه تجدید نظر او مرسته وکړي، تر څو د خوست ښاریانو ستونزي او شکایتونه لرې شي.

### 7. د زراعت محترم وزارت ته :

د زراعت وزارت محترم مشرتابه ته په لاندې برخو کې احتراماً وړاندیز کوو، چې د دې ولایت د زراعت د پرمختګ په خاطر خپلې لازمي مرستي او کومکونه له موږ څخه په دې ولایت کې د پرمختګ او ستونزو د له منځه وړلو په هکله ونه سپموي.

- د مرکز اړوند د مېلمه کوټ او فارم باغ اساسي بیارغونه
- په مرکز او اړونده ولسوالیو کې د پخوانیو فارمونو بیا احیاء او بیارغونه
- د بزګرانو او بنوالو لپاره د اصلاح شویو تخمونو او کیمیاوي سرې په وړیا توګه رالیږل او وېش
- د زراعت میکانیزه کول او د زراعتي وسایلو برابرول او وېش
- په مرکز او ولسوالیو کې د حیواني کلینیکونو جوړول او د حیواني دوا درملو رالیږل او وېش
- بیوزله بزګرانو او بنوالو سره د قیصرالمدت او طویل المدت قرضو ورکول
- په مرکز او اړونده ولسوالیو کې د ذخیروې بندونو جوړل او د کاریزونو، چینو او د استنادي دیوالونو جوړول .

### 8. د عامې روغتیا محترم وزارت ته :

د عامې روغتیا وزارت محترم مشرتابه ته په لاندې برخو کې احتراماً وړاندیز کوو، چې د دې ولایت د ولسونو د روغتیایي ستونزو د له منځه وړلو او روغتیایي سهولتونو ته د هغوی د لاس رسي په موخه زموږ سره په دې ولایت کې په لاندې برخو کې خپلې اړینې مرستې ترسره کړي .

لکه :

- په طبي عصري وسایلو دخوست مرکز د نوې او پخواني ملکي روغتون اکمال او تجهیز .
- د ولسوالیو د کلینیکونو اکمال، تجهیز او د طبي سامان آلاتو ، دوا درملو اکمال

- په ولسواليو کې د کلينيکونو جوړول، ترميمول او بيارغونه

- د ډاکټرانو لپاره د تحصيلي بورسونو په برخه کې د زميني برابرول او کلينيکونه په اړينو دوا درملو سمبالول.

دا هغه څه دي ، چې د دې کارونو په سرته رسولو سره به د دې ولايت ولسونه د شته روغتيايي ستونزو سره تر ډېره بريده خداى پاماني وکړي .

9. دکانونومحترم وزارت ته :

د کانونو محترم وزارت څخه په درنښت هيله کوو، چې د دې ولايت د مهمو کانونو خصوصاً دکروميتو په برخه کې لازم تصاميم ونيسي

10. دپوهنې محترم وزارت ته :

څرنګه چې د يوه هېواد اساسي پرمختګ په ښوونه او روزنه کې بلل کيږي ، نو له دې امله دخوست د پوهنې په بهير کې د لاندې کارونو د سرته رسولو په برخوکې د پوهنې وزارت محترم مشرتابه ته احتراماً وړانديز کوو، چې د ښوونې روزنې د بهير د پياوړتيا په نيت راسره خپلې هلې ځلې او مرستې تر سره کړي .

- د پوهنې رياست محترم رئيس او اړوند مسوولينو ته د کورونو او رهايشي بلاکونو جوړول .

- د ښوونځيو لپاره د ودانيو جوړول.
- ښوونځيو ته د درسي وسايلو، لابراتوارونو، مېزونو ، چوکيو، فرش او نورو تجهيزاتو اکمال او برابرول
- په ښوونځيو کې د څښلو لپاره د پاکو اوبو په خاطر د صحي څاه ګانو کېندل.
- د ښوونکو د ظرفيت لوړوني په خاطر د سيمينارونو، کورسونو او ورکشابونو جوړول.

11. د لوړو زده کړو محترم وزارت ته :

د خوست د لوړو زده کړو په برخه کې د کيفيت په لوړاوي او د شېخ زايدپوهنتون د تقويې او پراختيا په موخه د لوړو زده کړو وزارت محترم مشرتابه ته په لاندې برخو کې د حل او اجرااتو په موخه احتراماً وړانديز کوو:

- د لوړو زده کړو په برخه کې د شېخ زايد پوهنتون د تدريسي ليليې او نورو ملحقاتو، وسايلو او تجهيزاتو جوړونه او اکمال .
- د استادانو او محصيلنو لپاره په بهر کې د لوړو زده کړو لپاره د زميني برابرول
- د خوست په ښار کې د اړتيا له مخې د شپې د پوهنتون تاسيس
- د خوست د دارلمعلمين د وداني جوړول او تجهيزاتو اکمال

**د کار او ټولنيزو چارومحترم وزارت ته :**

**په خوست کې د معلولينو، معيوبينو، او د شهيدانو د بې وزله کورنيو سره د مرستې او کومک کولو په خاطر د کار او ټولنيزو چارومحترم وزارت ته وړانديز کوو، چې د معلولينو، معيوبينو، او د شهيدانو د بې وزله کورنيو د غړو لپاره د حرفوي زده کړو او لاسي صنايعو د مرکزونو جوړولو او هغوى ته د کار د زميني برابرولو په برخو کې په دې ولايت کې لازمې مرستې ترسره کړي .**

12. د ښاري پراختياء محترم وزارت ته !

دا چې، د خوست ښار د څو کلونو راپدې خواء د ودې او پراختياء په حال کې ده، چې پدې شار کې لوړ پوړيزه وداني مارکيټونه، دوکانونه او د هستوګني عصري کورونه جوړ شويدي، د دې لپاره چې د ښاري پراختياء نقشه او نور پروګرامونه په ښه شان عملي او هغه ستونزې چې

پدې برخه کې موجودې دې، ژر تر ژره حل او د ښار د اوبو ستونزه هم حل شوې وې، نو د ښارې پراختیا محترم وزارت څخه په درنښت هیله کوو، چې باصلاحیت هئیت دې ولایت ته راولیږې تر څو د شته ستونزو په حل کې موږ سره مرسته وکړې.

ټولو اړونده محترمو وزارتونو ته :

د دې لپاره چې د بیا رغونې چارې په شفاف ډول سرته رسېدلې وې او د جوړو شویو پروژو څخه په سالمه توګه ګټه اوچته شوې وې په دې اساس د ټولو اړونده وزارتونو محترمو مشرانو ته احتراماً وړاندیز کېږي چې:

- **د تدارکاتو دقانون په پام کې نیولو سره دې د پروژو قراردادونه د ولایت په مرکز کې ترسره شي.**
- **د تدارکاتو د قانون سره سم دې د قرار دادونو اصولي مراحل بشپړ شي.**
- **د پروژو د جوړولو نه مخکې دې د ځمکې مشکل او ستونزې حل تر څو په راتلونکې کې مشکلات رابر سیره نه شي.**
- **د قراردادونو د بیځایه تمدیدولو څخه دې ډېره وشي ترڅو د بیارغونې بهیر له ځنډ او ځنډ سره مخامخ نشي.**
- **اکثراً لیدل کېږي چې قراردادونه د لومړي لاس څخه دوهم او دریم لاس ته د مادي امتیازاتو په بدل ورکول کېږي چې دا کار د بیاءرغونې د چارو شفافیت تر سوال لاندې راولي چې البته د دې کار څخه دې په کلکه نظارت ترسره شي.**
- **د انکشافي بودجې رالېږل د کال په لومړیو میاشتو کې.**
- **د قراردادکاپي او نقشې رالېږل او اړونده ارګانونو ته د هغې سپارل**
- **د پروژې د کار د بهیر څخه د یوه تخنیکي او مسلکي ټیم په واسطه په دوامداره توګه نظارت او کنترول.**
- **په پروژو کې د قبول شویو نورمونو سره سم د ساختماني موادو استعمال او د دې جریان کنترول د یوه مسلکي ټیم په واسطه**

**دا چې د خوست مېښته ولسونو د ستونزو په نظر کې نیولو سره د یوه ځانګړي ورکشاپ په ترڅ کې د دې ولایت پنځه کلن پرمختیائي او ستراتیژیك پلان جوړ او اړونده ارګانونو ته لیږل شویدي.**

**بناءً د اړونده محترمو و وزارتونو، ملي او بین المللي موسسو، د PRT ټیم او نورو خیریه مؤسساتو څخه په درنښت هیله کوو، چې د دې پلان په تطبیق کې د دې ولایت د ولایتي اداري او ولسونو سره مرسته او همکاري وکړي.**

**په درنښت**

عملي کړنې او بریـاوې :

لومړي امنیت :.

ډاډمن امنیت د ټولو پرمختګونو اساس بلل کیږي ،د ډاډمن امن پرته ژوند له کړاوونو ډک وي. او پرمختګ ناشونی وي. پدې حالت کې د ګډوډیو ،خپل سریو او چور او چپاول دپاره ښه زمینه برابریږي .خوست هم څو میاشتې وړاندې د ورته برخلیک سره مخامخ و ،خو دې ولایت ته د عبدالجبار نعیمي په راتګ سره وضعیت بدلون وموند. عبدالجبار نعیمي وکولای شول چې پدې ولایت کې د ډاډمن امن دټینګښت لپاره د امنیتي ارګانونو سره په ګډه لازم او وړ امنیتي پلانونه طرح او تطبیق کړي .چې په پایله کې ددې ولایت په امنیتي وضعیت کې پوره او د پام وړ بدلون راغی. عبدالجبار نعیمي تر هر څه د مخه پدې ولایت کې د امنیتي ارګانونو تر منځ د همغږۍ او همکارۍ په رامنځ ته کولو پیل وکړ، چې نه یوازې پدې ولایت کې د هر ډول جرمونو ګراف راولوید بلکې موږ پدې بریالي شوو چې د امنیت په فضا کې پنځه کلن ستراتیژیک پلان د جوړولو د پاره کار وکړو.په خوست کې د امنیت په ښـه والي کې د بانفوذه قومي مشرانو او دیني عالمانو رول هم پوره اغیز من دی، او د دوی د مرستو په راجلبولو کې ښاغلي نعیمي له خپله ځانه پوره نوښت په ډاګه کړی دي، وروسته له ډېر وخته خوست ته د کابل څخه د لوړپوړو چارواکیو لکه د کورنیو چارو وزیر ،د امریکا سفیر او د ټاکنو د خپلواک کمیسیون مشر راتګ په خپله ددې څرګندونه کوي چې دلته امنیتي وضعیت اوس پوره بدلون موندلی .موږ د سنبلې د ۲۷ نیټې پارلماني ټاکنو څخه پدې بریالي راووتو، چې دلته امنیت ډاډمن و، او د ټول ولایت په کچه ټاکنیز سایټونه فعال ول، او خلکو د امنیت په فضا کې په ټاکنو کې برخه واخیسته .ددې ورځې د امن د تامین لپاره عبدالجبار نعیمي د امنیتي ارګانونو سره څو ځلې ناستې درلودې او د همدې ناستو برکت و چې په ټاکنو کې چې مخالفینو يې د ګډوډولو نیت کړی ؤ، ښـې ترسره شوې او هیڅ نوع امنیتي پیښه پکې رامنځ ته نه شوه . لنډه دا چې د تېرو څو میاشتو راپدېخوا ددې ولایت په امنیتي وضعیت کې د پام وړ بدلون تر سترګو کیږي. ددې بدلون په راتګ سره نه یوازې د مر ګ او ژوبلې کچه راټیټه شوې ده ، بلکې د خلکو په ورځني ژوند کې ژور مثبت بدلون تر سترګو کیږي .د خلکو په ورځني کاروبار کې د پام وړ پرمختګ شوی دی، د ولایت مقام او

نور امنيتي ارګانونه شپه او ورځ پدې لټه کې دي چې خلکوته د آرامه ژوند دپاره هوساینه او ډاډمن امنیت تامین کړي . هغوی د همدې هدف لپاره اونیزې ناستې لري، او پدې ناستو او غونډو کې لازم او جدي تصامیم نیول کیږي، او امنیتي ارګانونه شپه او ورځ امنیتي ګزمې کوي. زمونږ په اند که چېرې پدې ولایت کې لومړی د خلکو او دولت ترمنځ ورته همکاري موجوده وي ،دویم د امنیتي ارګانونو او ولایت مقام تر منځ همداسې همغږې او درناوی موجود وي او دریم د امنیتي ارګانونو تر منځ همغږي همداشان پیاوړې وي ، نولرې نه ده ، چې دلته به د پنځه کلن ستراتیژیک پلان له مخې د بیارغونې یو لړ داسې پروژې پیل شي ، چې خلکو او ټولنې ته به حیاتي ارزښت ولري .

همداشان خوست والي عبدالجبارنعیمي هر وخت د سرتېرو او افسرانو د تشویق او خوشالیوپه موخه له نېږدې لیدنه او کتنه کوي ، د بېلګې په توګه د امنیه قوماندانی کې یو شمېر افسرانو ته د مېډالونود ورکولو په مراسمو کې د هغې ورځې د ډېرو شته بوختیاوو سره ورغی او په کې د ګډون تر څنګ یې د دوی د هڅونې او همدارنګه د سالمې لارې ته د لا توجه په موخه وینا واوروله، چې دلته یې غوارو راولېږدوو :

خوست والي عبدالجبارنعیمي د خوست امنیه قوماندانی سرتېرو او افسرانو ته په خپلو خبرو کې وویل :زه او زما ټوله اداره پر تاسو ویاړي، ځکه تاسو هغه ځوك یاستی، چې د خپل ژوند په قېمت مو د خوست ولسونو ته ګڼ شمېر لاسته راوړنې په لاس راوړي دي. او نور هم په دې تلاش کې عملاً بوخت روان یاست.

خوست والي له دوی وغوښتل چې تاسو په مرکز او ولسوالیو کې باید همداسې فعال واوسئ، ترڅو زمونږ ولسونه په آرامه توګه خپل ژوند مخ ته بوزي.

همداشان خوست والي په دوی غږ وکړ چې تاسو باید د خلکو په زړونو کې د ښو اخلاقو او ښه چلند له ا مله د محبوبیت خاص ځای پیدا کړئ.او داسې حرکات باید له تاسو صادر نه شي ، چې له مخې یې خدای(ج) مکړه زمونږ د خلکو د آزار او تکلیف باعث شي.او همدارنګه په خپلو کې د ورورۍ فضا رامنځ ته او لا پیاوړي کړئ، ترڅو د درسپارل شوي مسوولیت په اساس د خلکو په ګټه نېك نام کارونه ترسره کړئ.

خوست والي ښاغلي نعیمي له دوی وغوښتل چې په هېڅ وخت او ځای کې تاسو باید د چا تر فشار لاندې رانه شئ، تاسوبایدهر وخت د غلو، قاتلینو او د نورو هغو ناروا کسانو په وړاندې جدي ګامونه پورته کړئ، چې زمونږ د خلکو ژوند ور تریخ کوي.همدارنګه والي عبدالجبارنعیمي د کوچني اختر په لومړۍ ورځ د ملي پولیسو ، ملي امنیت او ملي اردو سرتېرو او افسرانو ته د اختر مبارکی په خاطر خپلو ځایونو ته ورغی، او هلته یې ورسره له نېږدې اخترمبارکي ، خبرې او همداشان د ټپیانو اویا هم له ناروغو سرتېرو سره د دوی د تشویق په موخه نغدي مرستې وکړې .

د امنیتي لاسته راوړنو لاملونه :

۱- د امنیتي ارګانونو سره له نیږد ې څخه کار کول

۲- د پر له پسې اوونیزې امنیتي غونډو دایرول

۳- د کورنیو او بهرنیومېشتو امنیتي ځواکونو په منځ کې د لازمې همغږۍ پیداکېدل او پیاوړتیا

۴- په امنیتي ارګانونو کې د ظرفیتونو لوړول

۵- په مناسبو او وړ ځایونو کې د نویو امنیتي پوستو جوړول

۶- د سرتېرو او افسرانو په بېلابېلو لارو هڅول

۷- د امنیتي پوستو څخه وخت ناوخت د نظارت ، کنترول او همداراز د تشویق په موخه لیدني او کتنې .

۸- د دې ولایت دبانفوذه دیني علما کرامو، مخورو قومي مشرانو ، مدني ټولنو او ژورنالستانوسره یوه ملي همکار تفاهم ته رسېدل .

۹- د ډاپاک د پروسې بېړته پیل او پیاوړتیا

پورتني هغه لاملونه دي ، چې خوست والي عبدالجبارنعیمي ورته په ډېره سړه سینه او پوره ځیرکتیا سره د بېلابېلو لارو څخه له نېږدې

پرې کار وکړو او نن الحمدالله په سرحدي ولایت خوست کې امنیت تر دې کچې رارسېدلی دی ، چې چا یې تصور هم نه کاوه.

په تاءسف سره به ووایو ، چې څو میاشتې وړاندې د خوست په مرکزي بازار کې د ننه هم زړه بوږنوونکې چاودنې ، تښتونې او ترور دومره زیات شوی وو، چې هېچا دا جرات نه شوای کولای، چې د ورځې تر نیمایي پورې دې خپل کاروبار وغځوي .

هره ورځ د ښار په زړه کې زړه بوږنوونکې چاودنې تر سره کېدلې .

اوس له نېکه مرغه د ولس سره یو ځل بیا نوي هیلې او امیدونه راټوکېدلي دي .

خلک په ډاډمنه توګه سره ، نه یوازې د ولایت په مرکز ، بلکې د ولایت په زیاترو ولسوالیو او سیمو کې تګ راتګ او خپل ورځنی کاروبار کوي .

سوداګرۍ وده او پراختیا کړې ده ، د ولایت په عوایدو کې د پام وړ بدلون راغلی او تر ټولو مهمه داده ، چې اوس په هغه ښار او بازار کې چې هره ورځ په کې جنایي پېښې رامنځته کېدې ، ګراف یې ۹۰ سلنه رالوېدلی دی . او لا د ښه والي خوا ته روان دی .

د ډاياګ د پروسې بیاء پیل او ګړندیتوب :

په ګران هېواد افغانستان کې د سولې او ټیکاو د رامنځته کېدو په خاطر مطلق حکم شوی دی ، هر چېرې چې غیر قانوني وسله ولیدل شي ، باید رسماً راټوله او د ډاياګ پروسې ته وسپارل شي .

خو په خوست ولایت کې د ډاياګ پروسه د تېرو دوو کالونو راهیسې په ټپه ولاړه وه .

والي عبدالجبارنعیمي په دې ولایت کې مسوولینو ته سپارښتنې وکړې ، چې د ډاياګ پروسه باید په دې ولایت کې سولې او ټیکاو ته په پام سره په زړر ډول بیاء پیل او ګړندئ شي .

همغه وو، چې وروسته له دوو کالونو ځنډ څخه یاده پروسه بیاپیل او په لومړي ځل یې د شاندارو مراسمو په ترڅ کې دخوست والي عبدالجبارنعیمي په لاس سره رسماً هغه ۱۰۲ میله مختلف النوع سپکه او درنه وسله ډاياګ پروسې ته وسپارل شوه ، چې د دې ولایت په مختلفو ځایونو کې د ملي اردو ځواکونو له لورې لاسته راوړل شوې وه.

خوست والي نعیمي په خپلو خبرو کې وویل، نن ورځ ملي اردو خپلو هلو ځلو په دې بریالی کړه، چې یوسلو دوه میله بېلابېل ډوله وسلې لکه، کلاشینکوف، راکټ ، آرپي جي توپ ، تفنګچې، او نورې نیول شوې وسلې د ډاياګ پروسې ته وسپارې، والي نعیمي د ملي اردو له ټولو افسرانو او سرتېرو د دغه عمل څخه مننه وکړه .

خوست والي نعیمي په خپلو خبرو کې زیاته کړه ، که سلاح د ځان او کورنۍ دحفاظت په خاطر وي نو ښه ده ، ولې که بیا د بل انسان د ځورونې، وژنې، تښتونې، غلا او قاچاق په خاطر استعمالیږي نو دا کار بیا د خپلې کورنۍ، ولایت، خپل نظام او خپل هېواد سره سخته جفا او ظلم دی، او هر چېرې چې دا ډول بې قانونه وسلې وي، باید راټوله شي.تر څو په دې ولایت او حتا ټول هېواد کې ثبات ، سوله او د پرمختګ فضا رامنځ ته شي.

همداشان د ملي پولیسوله لورې هم ۷۰ میله مختلف النوع سپکې او درنې وسلې دچنیزو عملیاتو په ترڅ کې نیول شوې وې .چې د ډاياګ پروسې ته رسماً وسپارل شوې .

خوست والي په یادو مراسمو کې په خپلو خبروکې وویل ،، له شك پرته دې دا ډول ناقانونه وسلو او مهماتو راټولول د دې ولایت په امنیت او سولې کې ښې اغېزې درلودلی شي. او د ښه امنیت په فضا کې او د بیارغونې په برخه کې ښه کارونه ترسره کېدلی شي.

خوست والي په دې اړه له قوماندان اسحاق زي ، د ملي پولیسو له افسرانو او سرتېرو څخه مننه او خوښي څرګنده کړه .او له دوی یې وغوښتل چې نوره هم دغه پروسه ګړندۍ پرمخ بوزي،خوست والي نعیمي له قوماندان ، سرتېرو او افسرانو وغوښتل چې دخپل قدرمن او سپېڅلي یونیفورم څخه دې د خاورې ، ولسونو اوهمدارنګه د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت څخه په هر ډول حالتو کې سالمه او پر ځای استفاده وکړي.

او څوك پرې نږدي ، چې په دې ولايت کې د زور او ظلم څخه کار واخلي او د قانون څخه سرغړونه وکړي.

والي نعيمي د قوماندانی له ټولو اړونده منسوبينو او سرتېرو څخه په دې هم مننه او خوښي څرګنده کړه چې په دې کمه موده کې يې د پام وړ لاسته راوړني کړي دي.ده د پوليسو سرتېرو او افسرانو ته وويل : ولې په دې سربېره بايد تاسو پوليس په قوماندانی کې د خپلو زده کړو څخه په ړښتينولی ، ايمانداری او هېوادنۍ مينه سره د خپلو خلکو لپاره وړ او لازم خدمات ترسره کړی او تر څنګ يې داسې ښه او نېك کړه وړه خپل کړئ ، چې له مخې يې د خلکو په زړونو کې د پام وړ ځايونه پيدا کړئ.

د يادولو وړ ده، وروسته له دووکالونو څخه دا څووم ځل دی چې په دې څو مياشتو کې ، ډاياګ پروسې ته ګن شمير وسلې او مهمات سپارل کيږي ، د افغانستان دسلا راټولولو او ملکي کولو د عالي کميسيون له خوا دځانګړي رسمي ليک په ترڅ کي د نعيمي د هغو هڅو له امله چې د ډاياګ د پروسې د پيل او چټکتيا او د ناقانونه وسلو او مهماتو په راټولوکې يې زيات تلاش تر سره کړی ستاينه کړي او دوی ته يې د لازياتو برياليتوبونو هيله کړي ده، د يادوني وړ ده، چې په تيرو شپږو مياشتو کې په مجموعي ډول ۲۷۷ميله درنه او سپکه وسله او يوټن مهمات راټول شوي او د ډاياك کميسيون ته سپارل شويدي.

د کوکنارو د کښت او قاچاق د مخنيوي په هکله:

د خوست په ولايت کې د کوکنارو او چرسو کرکيله تقريباً د ۱۵۰ کلونو څخه راپدې خواء ځنډني تاريخ لري، چې پدې وروستيو کلونو خصوصاً په ۱۳۸۵ کال کې د ټول ولايت په کچه ۱۳۰۰ جريبه ځمکه په کوکنارو او د ۲۰۰ جريبو څخه زياته ځمکه په چرسو کرل شوي وه، چې د نوموړي کال را پديخوا د زياتو هلو ځلو په ترسره کولو د دې ناروا بوټو کرل ته مطلقاً د پای ټکی کېښودل شو.

د دې لپاره چې په روان ۱۳۸۹ کال کې بيا هم د دې بوټو کرل نه وې رامنځته شوي، د ولايت د رهبري د زياتي توجه، پاملرني او د جلاء جلاء غونډو او علماء کرامو مشرانو او متنفذينو سره د ليدني کتني پر وخت خوست مېشته ولسونو څخه په کلکه غوښتنه وشوه چې د دې ناروا بوټو په کرلو لاس پورې نکړي چې د نيکه مرغه د تيروکلونو په څير سږکال هم د کوکنارو او نورو مخدره توکيو په دې ولايت کې صفر ؤ.

چې د دې کار په بدل کې خوست ولايت لومړي مقام ترلاسه او څلورميليونه ډالر د مختلفو پروژو د پلي کولو لپاره ورکړل شويدي.

همدا راز د روان کال په لومړي ربع کې ۱۵ بوشکې د هيروئينو جوړولو دوا. ۱۴۵ بوتله الکولي مشروبات ۱۴ ګرامه او ۸ ملي ګرامه او ۶۰ عدده د هيروئين دکپسول،۴ کيلو او ۸۰ ګرامه خام چرس ۱۲ بيلره او ۸ داني ګيلني د هيروئنيو د پروسس تيزاب ضبط او ونيول شول چې د ولايت د رهبري او د ځانګړي هئيت په حضور وسوځول شول او په اړوند ئې ۱۳ تنه مظنونين ګرفتار او د قانون منګولو ته وسپارل شول.

دا چې په تېرو څلوروکلونو کې د کوکنارو کرکيله صفر چې د دې کار په مقابل کې د مخدره موادو پر ضد د مبارزې وزارت د وجهي صندوق GPI (CNTFI) د برنامې په اساس هر کال يوميليون ډالر د معيشت بديل د پروژو لپاره د خوست ولايت ته جذب چه له دغو پيسو څخه

۱: د مدې خليو ليسې تعمير سره له ملحقاتو جوړ او ګټې اخيستني ته تيار دی.

۲: د خلبسات ۳۰ بستريز روغتون سره له ټولو ملحقاتو

۳: د شيخ زايد پوهنتون د نجونو ليليه سره د ټولو ملحقاتو چه فعلاً يې ۹۰ فيصده کار تمام شويدی.

۴: د معتادينو د روغتون پروژه

۵: د شيخ زايد پوهنتون د ميلمستون پروژه به پدې نژدې راتلونکي وختونو کې داوطلبی ته وسپارل شي.

د عمومي حشر په لاره اچول:

د ولایت د رهبري د ځانګړي تصمیم په اساس د ثور د میاشتي په۲۴ مه نېټه په ټول ولایت کي عمومي حشر په لار واچول شو، پدې حشر کي د ولایت مرکز ټولو دولتي مامورینو او اجیرانو د ملي اردو، ملي پولیسو، ملي امنیت، سرحدي لواء ټولو منسوبینو، د مدني ټولنو غړو او خوست ښاریانو او ټولو ولسوالیو کي د ولسوالیو دولتي چارواکو او ښاریانو ګډون درلود.

دا حشر دسهار د ۸ بجو نه شروع او د غرمي تر یوې بجي پورې یې دوام درلود، پدې حشر کي ګډون کوونکو په ډېره لیوالتیا د بازار، دولتي ادارو، او د سرکونو په پاکولو کي مهمه ونډه واخیسته، د یادوني وړ ده چي ښاغلي عبدالجبار نعیمي د خوست والي د دایرو د رئیسانو سره هم پدې حشر کي ګډون او وروسته یې د بازار د ځینو ساحو څخه لیدنه او د دوکاندارانو سره یې خبرې وکړې او د دوې ستونزې یې واوریدي.

پدې حشر کي په لس ګونه ټنه کثافات د ښار د بېلابېلو ساحو څخه راټول او خوندي ځای ته یوووړل شول.

د ځمکو د غصب په برخه کي لاسته راوړني

له بده مرغه په خوست کي د دولتي ځمکو د غصب موضوع یو تریخ او تاواني حالت رامنځته کړی دی، نو پدې اساس تصمم ونیول شو، چي د غصب د مخنیوي په برخه کي چټك ګام واخیستل شي، تر څو له یوې خوا دولتي غصب شوي ځمکي بیرته له غاصبینو خلاصه شي، او له بلي لورې د یادې موضوع له کبله په دې ولایت کي شته شخړې او خندونه له منځه یوووړل شي، اوس هم د غصب په برخه کي د وروستیو پرمختګونو په مناسبت د خوست والي عبدالجبار نعیمي د ورکړل شوي مطبوعاتي کنفرانس مالومات په لیکلي توګه رالیږدوو.

خوست والي نعیمي:کلك هوډ مو کړی ، چي د ولسمشر حکم او د دولت پرېکړې پلي کړو.

خوست والي عبدالجبارنعیمي نن د پنځم په ورځ چي د زمري له شپږمي نېټي سره سمون خوري ، ددې ولایت ګڼ شمېر نړیوالو ، ځایي او دملي رسنیو ژورنالستانو ته د دولتي ځمکو د غصب په برخه کي د یوې مطبوعاتي ناستي په ترڅ کي دغه یاد ټکی په ډاګه کړ.

خوست والي عبدالجبارنعیمي د تېرې یوه نیمي میاشتي راپدېخوا په دې ولایت کي د دولتي غصب شویو ځمکو په برخه کي د پام وړ لاسته راوړني ژورنالستانو ته روښانه او په ګوته کړې.

والي عبدالجبارنعیمي زیاته کړه ، چي د ځمکو غصب په دې ولایت کي ناخوالي ، وروسته پاتي والی ، یو پر بل بې باوری او نورې ګڼ شمېر ستونزې راپیدا کړي دي .

ده وویل ، ددې په خاطر چي د نوموړي ستونزې په برخه کي مو مبارزه پیل کړي وي ، نو د غویي میاشتي په دېرشمه نېټه مو د خوست په ښار کي پر هغه ټوټه دولتي ځمکه جوړه شوي وداني ونړوله ، کومه چي د دولت له لوري په پلان کي د ورکتون لپاره ځانګړي کړي وه.

ده همداشان بله لاسته راوړنه دبادام باغ په سیمه کي د غاصبینو له لوري د هغې سیمي پاکوالی وباله ، چي د ګمرك د ودانی د جوړېدو لپاره بېله شوي وه.

والي نعیمي زیاته کړه ، هیله من یو ،چي په یاده ځمکه په نېږدې راتلونکي کي پرته له کومو ستونزو د ګمرك لپاره د ودانی د جوړېدو چارې پیل شي.

خوست والي عبدالجبارنعیمي زیاته کړه، یوه بله د پام وړ ستونزه په دې ولایت کي د هغو دولس سوو فامیلیو د پروژې سیمه وه ، چي نېږدې شپږ کاله وړاندې د دولت له لوري ددې ولایت مرکز او دوولسو ولسوالیو اوسېدونکو باندې د پچي اچوني له مخي وېشل شوي وه.

ده زیاته کړه ، نوموړو مستحقینو په خپل وخت په کورونو کي ځاروي او د سرو زرو ګاڼي خرڅي کړي ، خو دولت ته یې د ځمکي قېمت په څو قسطونو کي ورکړی دی..

والي نعيمي وويل، په هغه وخت کې يو شمېر د کېوالو په نامه غاصبينو په دې دوولس سوو فاميليو ساحه باندې د غصب پنجې خښې کړې.

ده وويل، چې همېشه نوموړيو مستحقينو د ولايت مقام ، اميني قوماندانی ، محاکمو ،څارنواليو ، ولايتي شورا او نورو ارګانونو ته تلل او د خپلو حقوقو غوښتنه يې کوله

والي عبدالجبارنعيمي په دې خفګان وښود، چې لا تر اوسه د تېرو واليانو په وخت کې ددې ستونزې حل په عمل کې نه ؤ ترسره شوی.

په داسې حال کې چې د ولسمشر جلالتماب حامدکرزي حکم ، د کميسيونونو پرېکړې ، د ولايتي اداري د اداري جلسې تصويب او همداشان د ولايتي شورا پرېکړې او تاييدونه پراته وو.

ده وويل ، موږ په دې وتوانېدو ، چې نوموړي اسناد ، د ولسمشر حکم او د کميسيونونو پرېکړې سره يوځای او منظمې کړو.او ددې ترڅنګ يو ځل بيا د ولايتي شورا تصويب ، د ولايت د اداري جلسې تصويب او ددې ولايت د قومي مشرانو ، ديني علماکرامو او مدني ټولنو پرېکړې او غوښتنې سره يو ځای او وربانديې مو په عمل کې ګام واخېست .تر څو له يوې خوا مو په دې ولايت کې د ولسمشر حکم پلی کړی وي او له بله لوري مو نورو مستحقينو ته خپل حقوق رسولي وي.

والي نعيمي وويل ، د څنګابښ په شپږوښتمه کله هم چې ملي پوليس نوموړي ساحې ته د پلان له مخې ليدنې او کتنې ته ولاړ. نو پرې يو شمېر غاصبينو ډزې وکړې.چې په پايله کې يې يو تن ملي پوليس ټپي کړ.او پوليسو د ځان څخه د دفاع په خاطر ډزې وکړې، چې په کې ځلورتنه غاصبين ټپيان شول.

نوموړي وويل ، چې پر پوليسو ډزې کوونکي کسان تر څېړنو لاندې دي، او د قانون په رڼا کې به په سزا ورسيږي.

والي نعيمي ټولو هغو کسانو ته ګوتڅنډنه وکړه ، چې پر ملکي او نظامي کسانو لاس او ټوپک اوچتوي .

عبدالجبارنعيمي زياته کړه، چې د دولت ملکي او نظامي کارکوونکي د ولس خدمتګاران دي، شپه او ورځ د دوی لپاره د ښه امنيت راوستو او د دوی لپاره د پرمختګونو په برخه کې هلې ځلې کوي.

همداشان والي نعيمي وويل ، هر هغه څوك چې د غاصبينو شاته د حمايت په منظور ودريږي ، ورته به سخته قانوني سزا ورکړل شي.

والي نعيمي زياته کړه ، له غاصبينو څخه د ساحې د پاکوالي په موخه د زمري په پنځمه نېټه د ملي پوليسو، پوله ساتونکو پوليسو ، ملي امنيت او ملي اردو له لوري په پوره همغږۍ سره ګام پورته شو، چې په پايله کې يې د دوولسوسوو فاميليوساحه له غاصبينو پاکه کړه.دده په خبره چې په نږدې ورځو کې به د ښاروالی له لوري د شته قانون او طرزالعمل له مخې خپلو مستحقينو ته د رسمي نقشې له مخې توزيع شي.تر څو دخپل حق په اساس وربانديې د آبادی کارونه پيل کړي.

خوست والي عبدالجبارنعيمي وويل ، دلته د پيسو او يا نورو لارو څخه په يو شمېر اسنادو کې لاسوهنه شوي ده ، چې له مخې يې په دې ولايت کې بې باوری ، شخړې او بالاخره د بيارغوني د پروژو په برخه کې يې خنډونه رامنځته کړي دي.

ده وويل موږ د هر ډول ظلم ، اختلاس ، رشوت ، جعل کاری او غصب په برخه کې کلکه مبارزه پيل کړې ده ، او په دې حقه لاره کې د زور ، ظلم او نورو تهديدونو هيڅ ډول پروا نه لرو، بلکې غواړو په دې ولايت کې د ولسمشر ۳۶۲ ګڼه حکم چې له مخې يې د پلې کېدو په لاره کې واليان ، محاکم ، څارنوالي ، ښاروالي او ملي پوليس مکلف. ګرځول شوي دي ، پلی کړو، ترڅو ورسره لدې ولايت څخه شته ناخوالي ، شخړې او وروسته پاتې والی له منځه يوسو او نور دلته حق و خپل حقدار ته ورسوو.

والي نعيمي وويل ، موږ پلان لرو ، چې چېرې هم دولتي ځمکې غصب شوي وي ، غاصبينو ته د تېر په څېر وواېو ، چې ځمکې پرېږدي، چې هلته سړکونه ، ښوونځي ، کلينيکونه او هوايي ميدان جوړ شي.تر څو د خوست د نورو ولسونو سره يو ځای تاسو هم له دې ټولګټو پروژو څخه لازمه ګټه واخلی.او که نه نو د دوولس سوو فاميليو رقم له ورته قانوني چلند سره به مخامخ شئ.ځکه ده وويل ، موږ ته دا ډېره اړينه ده ، چې زموږ مسافرين ورونه په خپل ولايت کې د لازمو سهولتونو څخه په برخمنه توګه کوز شي، او همداشان نورو بهرنيو ممالکو ته له همدې ځايه له تکليف پرته پروازونه وکوي او همداشان موږ او زموږ ولسونه دې ته اړتيا لري، چې نورې حياتي او بنسټيزې پروژې دلته په يادو غصب شويو ځمکو کې په کار ولويږي.

والي عبدالجبارنعيمي زياته کړه ، چې د خوست ولايت د ټولو ملکي او نظامي ارګانونو سره د قانون په چوکاټ کې قوت او بشپړ صلاحيت شتون لري، نو هرچېرې چې غله ، فسادګر، لاره وهونکي ،انسان وژونکي ، اختطاف ګر او همداشان د دولتي ځمکو غاصبين شتون ولري،

نو د صلاحیت سره سم اړونده ټول ارګانونه دنده او مکلفیت لري، چې په اړه یې جدي ګام واخلي او د قانون منګولو ته یې وسپاري.

خوست والي عبدالجبارنعیمي دا هم وویل ، چې ددې لپاره چې له دې ولایت ټول اړونده اسناد محفوظ ساتل شوي وي، چاته په کې ددې چانس نه وي، چې په کې لاسوهنه وکړي او یا خدای (ج) مکړه د اوبو او اور خوراك شوي نه وي، نو تصمیم یې نیولی دی. چې د ولایت ټول اسناد درې کاپۍ کړي.چې یوه برخه به یې په ولایت کې په یوه داسې الماری کې په دایمي ارشیف کې وساتل شي ، چې نه به اوبه ورځي او نه به پرې اور اغېزې کوي.

او ده وویل چې په اسنادو کې د جعل کارۍ په تور یې ددې ولایت د املاکو مدیر د تېرو دوو میاشتو راپدېخوا د تحقیق او څېړنو په موخه د قانون منګولو ته سپارلی دی.

ده همدارنګه وویل، ممکن دلته ځینو چارواکو خپلو خپلوانو ته زیات شمېر نمرې خرڅې کړي او یا یې نیولي وي، خو په اړه یې د لویې څارنوالۍ څخه راغلي پلاوي څېړنې او یو څه اجراات کړي دي، او کېدی شي ، چې په دې برخه کې نور اجراات هم وشي.

خوست والي عبدالجبارنعیمي په ادارو کې د مجازاتو تر څنګ د مکافاتو یادونه  هم وکړه ، وېې ویل:

د زمري په دریمه مې د سپېرې ولسوالۍ څخه د لیدنې په ترڅ کې د نوموړي ولسوالۍ مرکزي کلینیك ولید.چې د هغې کلینیك مسوول ډاکټر سردارجان  واقعاً  په هغه ولسوالۍ کې د خپلو خلکو سره په ډېر اخلاص او ایمانداری سره بشري مرستې کړي وې.او ورسپارل شوي کارونه یې په منظم او ډېر ښه شان سره مخ ته وړي وو.

والي عبدالجبارنعیمي زیاته کړه ، نو د ښه کار کولو له امله یې  نوموړي ډاکټر او د ده ملګري  ته پرون ورځ  د ولایت مقام له لوري ستاینلیکونه  او یوه اندازه نغدي مرسته ورکړه . او همداشان یې دوهمه درجه تقدیرنامې ورته وړاندېز کړې. ترڅو له یوې خوا یې د امتیازاتو څخه برخمن شي، او له بله لوري د دولته څخه دښه کار کولو له امله هڅول شوي وي.

په پای کې ژورنالستانو په ازاده توګه خپلې شته پوښتنې مطرح کړې، چې د خوست والي عبدالجبارنعیمي له لوري ورته مثبت ځوابونه وویل شول.

د یادونې وړ ده ، چې لا تر اوسه په خوست کې ولایتي حکومت په دې نه وو ، بریالی شوی، چې د غاصبینو څخه دولتي غصب شوي ځمکې خلاصې کړي، نو د  همدې له امله  د خوست ولسونه دولایت د یاد ګام څخه ستاینه او خپل ملاتړ په ډاګه کوي.

د دغه اقداماتو وروسته د خوست ولسونو پراخ ملاتړ په ډاګه کړ، چې دلته یې د بېلګې په توګه د ولسونو له لوري د یوې لویې غونډې نمونه راوړو.

د خوست په ولایت کې په لومړي ځل د زرو څخه زیاتو دیني علماکرامو ، قومي مشرانو ، د مدني ټولنو غړیو او ځوانانو د دولت له لوري په دې وروستیو کې  د قانون د پلي کېدو ، د امنیت د ښه والي ، د اداري فساد پر ضد دمبارزې ، د غصب شویو ځمکو د خلاصون او د دولتي حاکمیت د پراختیا څخه کلك  ملاتړ وکړ.

دغه ټکی د زمري په یوولسمه د خوست د جرګو په ستر تالارکې ددې ولایت د اړوندو دوولسو ولسوالیو او دریو مرکزي واحدونو قومي مشرانو ، دیني علماکرامو ، د مدني ټولنو غړو او ددې ولایت ځوانانو د یوې پراخې راټولېدنې په ترڅ کې په ډاګه کړه.

دوی زیاتوله ، چې د یوې سالمې ، رښې او کاري اداري رامنځته کول ، د اختلاس ، رشوت او بدې اخېستنې ورکېدل په ادارو کې ، د مکافاتو او مجازاتو سېستم په کار اچول ، د ولسوالیو د ادارو تقویه کول، په ولسوالیو کې د سیمه ایزو شوراګانو جوړول ، او د دولتي غصب شویو ځمکو بېرته خپلول هغه سترې ننګونې او خنډونه وو، چې د خوست والي عبدالجبارنعیمي په راتګ سره دده پر وړاندې پراته وو.خو د والي نعیمي له لوري د دیني عالمانو ، قومي مشرانو ، د ولسونو استازیو او عامه خلکو سره د لیدنو په پایله کې یادو سترو ستونزو ته د هواري لارې پیدا کړې.

د ویناوالو په سر کې د قومونو او پیوستون شورا مرستیال مدیر میرزمان صبري خبرې وکړې.صبري وویل ، د خوښۍ ځای دی ، چې نن په خوست کې د والي نعیمي څخه د ستاینې او ملاتړ حقه غونډه جوړیږي. دده په خبره پخواني والیان او اداري د غصب شویو دولتي ځمکو  په بېرته رانیولو کې سست او ناکام وو.او دده په خبره په ځینو برخو کې خپله د وخت ځیني چارواکي ښکېل وو.مدیر میرزمان صبری په دې هم خوښ وو، چې د نعیمي په مدبرانه لارښوونو په خوست کې د نیول شویو دولتي املاکو بېرته لاس ته راوړل پیل شول. او په دې برخه کې د پام وړ پرمختګ شوی دی.نوموړي د دوولس سوو فامیلیو لانجمنې کشالې ته په اشارې سره وویل، تېرو والیانو په دې لارو هېڅ پرېکنده

ګام نه دی پورته کړی.خو دادی والي عبدالجبارنعیمي د اتو کالونو څخه راپاتې لویه ستونزه په اتو ورځو کې په قانوني لاره هواره کړه.

له ده وروسته د ولایتي شورا منتخب استازي مرادخان منګل وویل ، که د یوې ادارې په سر کې کارپوه او وړ شخص وي، یا ځای ولري ، نو بې له شکه به هغه ټولنه په اقتصادي ، امنیتي او نورو اړینو برخو کې د پام وړ پرمختګونه وکړي.

د مرادخان په خبره والي عبدالجبارنعیمي له ټولو ادارو سره په همغږۍ د قانون په پلي کولو ، د دولتي حاکمیت په ټینګښت او د ټولنیز عدالت په تامین بریالی شوی.او دده په شتون کې خوست غوره او لازم پرمختګ کړی دی.

منګل دې ټکي ته هم اشاره وکړه ، د عبدالجبارنعیمي ژمنې یوه په بله پسې د عملي کېدو په حال کې دي، او موږ به هم ورسره کلك په دې لاره کې ملاتړي وو.

ورپسې په ولسي جرګه کې د خوست د ولسونو استازي مولوي حنیف شاه په خپلو خبرو کې وویل، په دې خاوره کې هغه وخت امنیت راتلای شي، چې اداري او خلاقي فساد ته د پای ټکی کېښودل شي، ده د اداري فساد په مخنیوي کې د خوست والي نعیمي هڅې د پام وړ وبللې او د نیول شویو دولتي ځمکو خپلول یې په دې ولایت کې د دولت او ولس لپاره یوه لویه لاس ته راوړنه وبلله .

قومي مشر بادشاه خان بابکرخېل دغونډې برخوالو ته وویل ، د تېرو نهو کالونو راهیسې د خوست د خلکو دا غوښتنې وې، چې دولتي املاك دې بېرته په دولت پورې وتړل شي، خو عبدالجبارنعیمي لومړی والي دی، چې د خلکو او د دولت له حقونو څخه دفاع او ساتنه وکړه، او د نیول شویو دولتي املاکو د بېرته تر لاسه کولو لپاره یې وړ قدم پورته کړ.د بابکرخېل په خبره ځینو ځان غوښتونکو کسانو په والي نعیمي پسې د خپلو شومو او ناوړه ګټودخوندي ساتلو په خاطر ناسم تبلیغات کول.خو سره ددې بیاهم والي نعیمي په خپل هوډ کې کلك ولاړ وو، ویل یې چې دا د ولسونو حق دی او د ولسمشر ځانګړې حکم هم شتون لري، نو ددې په خاطر چې له یوې خوا مو ولسونو ته خپل حقوق رسولي وي ، او له بله پلوه مو د ولسمشر حکم ته د عمل جامه وراغوستي وي، نو په دې لاره کې به مخ ته ځو.

له ده وروسته په خوست کې قومي مشر حاجي ناظم ځدراڼ ، د قومونو او پیوستون شورا مشر غازي نوازټني او د مجاهدینو د ملي یووالي اسلامي شورا مشر قاري عبدالوالي عادل په ورته شکل خبرې وکړې او د خوست والي عبدالجبارنعیمي د ترسره کړیو کارونو او اجراآتو څخه یې خوښي او ملاتړ په ډاګه کړ.

د دولتي ځمکو پر سر راولاړو شویو شخړو د حل په لار کې هلې ځلې:

دا چې د خوست ولایت په قومي جوړ ښتونو جوړ ولایت دي، اکثراً پدې ولایت کې د غرونو، څرځایونو او د ښتو په سر چې دا ټول دولتي املاك بلل کیږي، د مختلفو لویو قومونو تر منځ شدید مسلحانه جنګونه او شخړې رامنځته شوي، او ډېر ځاني تلفات او مالي خسارات دواړو غاړو ته اوښتي دي، ګاونډې کلي او نور ولسونه د دې جنګونو څخه سخت متاثر شوي، ملي وحدت، سولې، ثبات او امنیت زیانمن شوي، او دولتي حاکمیت تر سوال لاندې راغلي ؤ، علاوه پر نورو کوچنیو او وړو کورنیو شخړو د ولایت په کچه لاندې غټې او لوئې قومي شخړې او دعواګانې موجودي دي.

1. د ګربزو او شمل د قومونو تر منځ د څرځایونو په سر دعواء
2. د ګربزو ولسوالي مربوط د بوري خیلو او نصرالدین قومونو تر منځ د غره او ځمکو په سر دعوا.
3. د اسمعیل خیلو او مندوزیو په ولسوالي کې د لیون خیلو او حیدر خیلو قومونو تر منځ د څرځایونو په سر رامنځته شوي دعواء
4. د ځاځي میدان دالګډي د قوم د بیداد او کوټکي د اوسیدونکو ترمنځ په غرونو څرځایونو او سړك په سر دعواء
5. د نادرشاه کوټ په ولسوالي کې د منګلو او مقبلو تر منځ په غرونو، څرځایونو او ځمکو په سر دعوا

چې پورته شخړې د زیاتو کلونو راپدې خوا تر اوسه لاینحله پاته، او اکثراً د پورته قومونو تر منځ په وار وار مسلحانه جنګونه راپیداء اویو او بل ته یې زیاته مرګ ژوبله اړولې ده.

د يادونې وړ ده، چې خوست والي ښاغلي عبدالجبار نعيمي د ولايت په کچه د ټولو قومي شخړو خصوصاً د پورته يادو شويو شخړو د دايمي او عادلانه حل لپاره يو باصلاحيته کمېسيون د ولايت د عدليې رئيس تر مشري لاندې، چې په ترکيب يې د زراعت، حج او اوقافو، حقوقو، قضاياي دولت، او قبايلو چارو رئيسان او د ولايتي شورا استازي شامل دي وټاکل، ښاغلي نعيمي کمېسيون ته دنده وسپارله تر څو پورته قضيې او داسې ورته نورې مسئلې د قانون په چوکاټ کې په عادلانه توګه حل، خپله بيطرفي حفظ، او په پوره اخلاص او ايمانداري د دغو شخړود شفاف حل په لار کې له هېڅ ډول سربښندنې او تلاش څخه ډډه ونکړي.

چې پورته کمېسيون پدې لار کې د نومړو قومونو د مشرانو سره منظمې غونډې جوړې کړي، او د دې قضيو د حل په لار کې د هغوي تلاشونه او هڅې روانې دي.

د يادونې وړ ده، چې د دې پورته شخړو د حل په لاره کې د ښاغلي نعيمي انسان دوستانه هڅې روانې دي. او د دې شخړو د حل لپاره يې مسؤلينو ته لازم هدايتونه ورکړيدي.

خصوصاً د نصرالدين او بوري خيلو او د حيدرخيلو او ليون خيلو د مسلحانه جنګونو او د وينې توئيدو د مخينوي لپاره يې له ځانه ابتکار ښودلي ، د دوی د خاص ابتکار په ترڅ کې د حيدرخيلو او ليون خيلو دمسلحو خواوو څخه ۶۸ ميله مختلف النوع وسله راټوله چې وروسته دا سلاح د خاصو مراسمو په ترڅ کې د ډاياګ کمېسيون ته وسپارل شوه، چې دا کار له يوې خوا د مسلحانه جنګونو او وينو توئيدا او له بلې خوا د قانون تطبيق سبب چې له همدې امله د سلاح راټولولو او ملکي کولو عالي کميسيون لخوا د محترم عبدالجبار نعيمي په عنوان رسماً د ۳۲۰ ، نېټه ۲۷- ۵- ۱۳۸۹ ګڼه ليك په ترڅ کې ستاينه او مننه شويده.

ښه حکومتداري:

هغه وخت را منځ ته کېدلی شي، چې په ادارو کې ظرفيتونه لوړ ، جدي نظارت د مکافاتو او مجازاتو د سېستم په رواج او همداراز د قانون سره سمې دندې تر سره شي.

لکه وړاندې مو چې وويل ، خوست والي عبدالجبارنعيمي د 1389 روان لمريز کال د وري د مياشتې په 15 مه نېټه د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د سيمه ايزو ارګانونوخپلواکې ادارې په وړانديز او د ولسمشر جلالتماب حامدکرزي په رسمي حکم خوست ولايت ته د والي په توګه راولېږل شو.

دخوست والي عبدالجبارنعيمي د راتګ په لومړيو ورځو کې د دې ولايت د مختلفو قشرونو د استازيو په غوښتنو او همداشان والي عبدالجبارنعيمي خپلې کاري کړنلارې او تګلارې ته په پام سره هوډ وکړ، چې په دې ولايت کې به ولس ته د ښه او مؤثر خدمت په موخه د ښې حکومتدارۍ د رامنځته کولو هڅې وکړي.او دې ټکي ته ډېر ژمن دی. ځکه خوست والي عبدالجبارنعيمي غواړي ، چې په خوست کې يوه شفافه او کاري دولتي اداره رامنځته کړي.تر څو وکولای شي ، د يوې ښې، مسلکي او خدمتګارې ادارې له لارې ولس ته وړ او مؤثر خدمتونه وکړي . او له بله لوري د وړ ادارې په رامنځته کولو سره د ولس باور پر ادارو پياوړی کړي .

خوست والي عبدالجبارنعيمي ته په لومړيو ورځو کې ددې ولايت خلکو له زياترو ادارو څخه په ډېرو برخو کې سرونه ټکول ، دوی ويل په ادارو کې ظرفيتونه ټيټ دي، مامورين د وخت نه مخکې له ادارو څخه په غرمه ووځي. او په دې سره د خلکو کارونه او اړتياوې له اجرااتو څخه بې برخې پاتې کيږي. همداشان دوی دا شکايتونه هم کول چې په ادارو کې په کړنو او اجرااتو کې شفافيت شتون نه لري. او ځای يې اختلاس ، رشوت او بې ځايه سرګردانيو نيولی دی.

نومړو مشرانو دا هم ويل ، چې په ولايتي ادارو او ولسواليو کنترول او نظارت نشته .

همدا ډول خلکو د امنيتي وضعيت څخه هم سرونه ټکول ، چې په دې ولايت کې امنيتي حالت د اندېښنې وړ دی.د دوی په خبره چې په ازاده فضا کې نه شي کولای ، د سوداګرۍ او يا هم په نورو برخو کې تګ راتګ وکوي .

د دې لپاره چې په خوست ولايت کې ولس ته لازم او مؤثر خدمات عرضه شوي وي، نو په سر کې د خوست ولايت رهبرۍ دغه اصل ته پوره توجه وکړه.

د روان لمريز کال د وري په شپږوېشتمه نېټه د ښې حکومتدارۍ ، په ادارو کې د وړتيا او ښه سمون په خاطر د چارو ګړنديتوب او نورو برخو کې د ولايت ټولې رهبرۍ ته په اووېشتو مادو کې لازمې سپارښتنې وشوې . او ورنه په ډېر ټينګار سره غوښتنه وشوه ، چې پوره هڅه دې وشي چې د ولسونو ستونزو او غوښتنو ته دې مثبت ځواب وويل شي، نومړې د ولسونو د ستونزو د کموالي او له منځه وړلو په موخه

واکمنو ادارو ته خپلې پرېکړې وړاندې کړې ، غواړو دلته هغه مادې چې ترسره شوي دي راولېږدوو، چې د بېځايه ځورونو، سرګردانيو او د بيروکراسي د مخنيوي او د کارونو د لنډون په خاطر اړونده ادارو ته جدي سپارښتنه شوي ده،

1. د پاسپورټ عرايضو ته د احکام ورکولو صلاحيت ما راساً د امنيې قوماندانې ته تفويض کړ لدي وروسته به هر څوك چې د پاسپورټ غوښتنه کوي د امنيې قوماندانې ته به په خپله عريضه وړاندې کوي

2. د حقوقي موضوعاتو د ټولو عرايضو داحکام ورکول او د هغوي پرووړاندي قانوني اجراات کول ، مو د عدليې رئيس ته تفويض کړل چې لدي وروسته هر څوك که په هر چا حقوقي عرايض لري د ولايت مقام پر ځای دې يوازې د عدليې رياست ته به خپله عريضه وړاندې کوي

3. د جزائي موضوعاتو د عرايضو په وړاندې د احکامو ورکول او اجراات ما شخصاً د امنيې قوماندانې ته محول کړل چې لدي وروسته به د ټولو جزائي موضوع ګڼو په وړاندې د امنيې قوماندانې رسيده ګي کوي . او همدا راز د تذکرو په ورکولو کې به هم د اجرائيه رياست لخوا لازمي اسانتياوي برابرېږي

4. ځيني خلك په داسې حال کې چې په ولسوالي کې ولسوال موجود او د هر رياست استازي موجود دي بيا هم خپل عادي عرايض د ولايت مقام ته راوړي او د ولايت د مقام د کارکوونکو د وخت د ضياع او د خپل ځان د سرګرداني باعث ګرځي، ټولو ولسوالانو ته دنده سپارل کيږي چې د ولسواليو د ټولو اوسيدونکو عرايضو او شکايتونو د رسيده ګې لپاره لازمي اسانتياوي برابري کړي، تر څو خلك د مرکز له تګ نه خلاص ترڅو کار او مشکل يې په خپله ولسوالۍ کې حل شوی وې .

5. د ولسواليو او ادارو نه د ليدنو کتنو په پايله کې شخصاً دي نتيجې ته ورسېدم چې د خوست مرکز او اړونده ادارو او ولسواليو کې هر اړخيزې زياتې ستونزې او مشکلات موجود ؤ، د ولايت د ځينو ادارو چارې د ډاډ وړ، مګر په ځينو ادارو کې زياتې ستونزې موجودې دي ، ولس د ځينو ادارو د مسؤلينو نه خپل رضايت څرګند، مګر د ځينو ادارو د مسؤلينو نه سر ټکوي او زيات شکايتونه يې درلودل د هر څه نه مخکې زه د عدالت په تامين ، د مظلومو د حقوقو تامينول او د مکافات او مجازات د سيستم په رواجولو زيات ټينګار کوم ، هغه چارواکي چې خپلې دندي د قانون په مطابق سرته رسوې ، د خلکو او مراجعينو سره ښه سلوك کوې ، او د اداري فساد ، رشوت ، اختلاس د دندو صلاحيت څخه د ناوړي استفادي ، د کارشکنيو څخه ډډه کوي او د دندو په اجرا کې د تعلل څخه مخنيوی کوي او د دې ناوړو پديدو په مقابل کې په کلکه مبارزه کوي هغوی به مکافات کيږي او برعکس هغه چارواکي چې قانون شکني کوي او د پورته ناوړه پديدو په وړاندې بې تفاوتي ښکاره کوي هغوی به د پوښتني لاندې نيول کيږي .

6. د قانون او د دندو د لايحو په مطابق د چارو سرته رسول او د هېواد او خلکو په وړاندې د مسؤليت احساس د تاسو د اساسي دندو څخه شمېرل کيږي

7. اکثراً ليدل کيږي چې د ځينو ادارو کارکوونکي د ټاکلي وخت څخه دمخه خپلې دندي پريږدي چې دا کار له يوي خوا د قانون تر پښو لاندې کول، او له بلې خوا د چارو په سرته رسولو کې ځنډ او خنډ واقع کيږي او همدا راز د خلکو د شکايتونو باعث ګرځي، هيله ده چې ټول رئيسان خپل مامورين مکلف کړي چې په ټاکلي وخت په دندو حاضر او په ټاکلي وخت خپلو کورونو ته ولاړ شي

8. ځيني د ادارو رئيسان خصوصاً ولسوالان بدون له دي چې د ولايت مقام په جريان کې واچوي مرکز ته راځي يا کابل ته ځي چې د ا داري د رئيس په نه موجوديت کې ډيري ستونزې راولاړيږي لدي وروسته د هرې اداري رئيس چې کابل ته ځي او يا ولسوالان د خوست مرکز ته راځي، مخکې له تګ څخه دي د ولايت مقام په جريان کې واچوي که چيري د ادارو رئيسان په رسمي ډول مرکز ته ځي لازمه ده د بيرته راتګ پر مهال د خپلو اجرااتو راپور د ولايت مقام ته وسپاري

9. د روان کال د لومړۍ مياشتي څخه تقريباً دوه اونۍ تيري شوي مګر متاسفانه تر اوسه د لومړۍ ربعي د عادي او انکشافي بوديجي تخصيصات ندي رارسيدلي چې د بوديجي د نشتوالي له کبله د ادارو اکثره کارونه د خنډ سره مخامخ دي ، هيله ده چې د هري اداري رئيس د مربوطه وزارت څخه د خپلي عادي او انکشافي بوديجي تخصيصات راوغواړي تر څو د کارونو په پر مختګ کې ورځني ګټه پورته شي.

10. لازمه ده عادي او انکشافي بوديجه پخپل وخت او پر ځای مصرف شي، په عادي بوديجه کې دي د صرفه جويي اصل په نظر کې ونيول شي ، او د بي ځايه او بي مورده او بي کيفيته موادو او وسايلو د اخيستو څخه دې ډډه وشي او ټولي خريداري ګاني او قراردادونه دي د تدارکاتو د قانون سره سم ترسره او پدې لار کې دي د شفافيت اصل په پام کې نيولو او د فساد څخه د مخنيوي په خاطر ځانګړي اقدامات ترسره شي

11. د مامورينو په مقررولو کې دي د آزاد رقابت له لياري په کار پوه ، باتجربه او مسلکي اشخاصو ګمارل ډير اړين بلل کيږي، که چيري کارپوه اشخاص په دندو وګمارل شي دولتي کارونه په ښه ډول سرته رسيږي بغيرلدي ډيري سختي ستونزې راولاړيږي

12. د مقرراتو له مخې د هرې اداري ټول اجناس او وسايل د هر کال په اخر کې موجودی کيږي او د موجودي په نيتجه کې فاضل او باقي اجناس په ګوته کيږي . په کومو ادارو کې که دا کار نه وي ترسره شوي ژر تر ژره دي موجودی وشي.

13. د عادي او انکشافي بوديجي د مصارفو اسناد که کومي اداري مستوفيت ته نه وي سپارلي هغوي ته دنده سپارل کيږي چې د تير کال ټول حسابات د مستوفيت سره تصفيه کړي

14. ځيني مراجعين د ځينو ادارو د کار کوونکو څخه د هغوي د ناوړه سلوك له کبله سخت سرټکوي، لازمه ده چې هر دولتي کار کوونکي د مراجعينو په وړاندې د ښه او نرم چلند او ښه سلوك څخه کار واخلي، د بيځايه ځور ونې، کار شکني ، بيروکراسي اود مراجعينو د کارونو د ځنډولو څخه دې په کلکه ډډه وشي .

15. د دولتي وسايطو څخه په شخصي دندو ګمارلو څخه ډډه، او د دولت د ټولو شتمنيو څخه ساتنه او حفاظت د هر دولتي کارمند اساسي دنده ده، پدې هکله دې ډير زيات تلاش ترسره شي

16. د مخدره موادو په وړاندې مبازره، د ډاياګ د پروسي د ښه عملي کولو او د نشه يي توکيو د استعمال څخه ډډه او مخنيوي هم د هر دولتي چارواکي د اساسي دندو څخه شميرل کيږي

17. د دې ولايت د ولسونو سره د خبرو او بحثونو په پايله کې مادا نتيجه ترلاسه کړه چې عام ولس د بيروکراسي او بي ځايه سرګرداني څخه سخت خواشيني ؤ د چارو د لا زيات ګړنديتوب او د خلکو د بيځايه سرګرداني د مخنيوي په باب ما اړونده ارګانونو ته ځانګړي سپارښتني وکړي .

18. کله چې ما وليدل په مرکز او ولسواليو کې د دولتي او عامه شتمنيو غصب ډير زيات او دا لړي په چټکتيا روانه ده، د ځمکو او عامه شتمنيو څخه ساتنه د هر افغان او هر دولتي کار کوونکي اساسي دنده ده ،د دې ناوړه پديدي په وړاندې مبارزه د تاسو د اساسي دندو څخه ګڼل کيږي

19. اکثراً ليدل کيږي چې په ځينو ادارو کې د مراتبو سلسله نه مراعات کيږي چې دا کار زياتي ستونزي راولاړوي او همدا راز په ځينو ادارو کې نظافت نه مراعاتيږي په دې هکله به د ادارو رئيسان په جدي توګه پاملرنه او څارنه کوي .

20. ما چې وليدل په اکثره ادارو کې د ظرفيت درجه ډيره کمه ده، چې دا کار د چارو په پرمختيا کې زياتي ستونزي راولاړوي، د ظرفيتونو د لوړتيا لپاره به په راتلونکي کې د منجمنت، E او کمپوټر او همدا راز پدې اړوند د ورکشاپونو او سيمينارونو جوړولو او همدارنګه دولتي کارکونکو ته په خارج کې د تحصيلي بورسونو د زميني برابرول ډير اړين دي چې البته په دې باب به د ادارو د رئيسانو سره ګډ تصاميم ونيول شي .

21. اکثراً ځيني مرستندويه ټولني د ځينو ادارو سره د خوراکي او دفتري وسايلو مرسته کوي، ولي متاسفانه اکثراً دا اجناس په دفتر کې نه قيد کيږي، او په اينده کې دا ټول اجناس تلف کيږي د دې کار د مخنيوي له امله ټولو ادارو ته دنده سپارل کيږئ چې ټول کومکي اجناس او وسايل په دفتر کې قيد او د هغوي ساتنه او څارنه دي وشي .

22. د ادارو رئيسانو ته دنده سپارل کيږي چې ټول پيشنهادونه او مکتوبونه د لاسليك او احکام اخيستلو په خاطر د اجرائيه رياست له لياري د ولايت مقام ته وسپارل شي، د عاجلو کارونو د اجرا په خاطر د هرې اداري رئيس کولای شي د عاجلو ستونزو د حل په خاطر د ولايت د مقام سکرتريت سره تماس ونيسي تر څو د دوی مشکلات او ستونزي په خپل وخت حل شي.

23. پخپل وخت د فرامينو، احکامو او مصوباتو په وړاندي د اجرااتو ترسره کول، او د هغوی په اړوند د ګذارشونو ترتيبول د هري اداري د رئيس د اساسي دندو څخه شميرل کيږي او پدې اړوند دي د هر ډول سهل ا نګاري څخه مخنيوی وشي .

24. د زير دستانو او مادونانو سره دي د نيك برخورد او چلندڅخه استفاده وشي او د هغوی ټول مادي او معنوي حقوق دي خوندي وساتل شي د هغوي سره دي په اونی کې يو ځل غونډه تنظيم شي او هغوی ته دې لازمي سپارښتني وشي او د هغوي د ستونزو په حل کې دي لازم اقدامات ترسره شي ، هغوي دي خپلو مسؤليتونو ته متوجي کړي او د يوې ورځي کار دي بلې ورځې ته نه ځنډ وي .

25. د بيا رغوني په چارو کې د شفافيت د اصل مراعاتول، او د بيا رغوني او د پروژو په تطبيق کې د يوه قوي نظارتي ټيم ګمارل ، د قراردادونو ترسره کول د تدارکاتو د قانون سره سم، د ټولو پروژو لپاره د ښاري ماسټر پلان په مطابق د ځمکي د ساحي ټاکل د پروژي د نقشي برابرول او ساتل، د نقشي د تطبيق په ساحه کې د پروژو د کار څخه د يوه قوي ټيم په واسطه نظارت او همدا راز د ښاري پراختيا رياست د متخصصينو سره همغږي، د پروژو تکميل په خپل وخت او زمان د قرار د اديانو د حقوقو تامينول، د پروژو څخه سالمه ګټه اخيستنه دا هغه کارونه دي چې د بيا رغوني په چارو کې ګړنديتوب او شفافيت رامنځته کوي پدي هکله ډيره جدي توجه په

کار ده.

26. ما د پنجشنبي په ورځ د اداري کمپلکس او د خوست د نوي روغتون څخه له نږدی کتنه وکړه .د کمپلکس وداني ګټي اخیستني ته بالکل چمتو، مګر په ډیر تاسف باید ووایم چې ځوك ګټه نه تري پورته کوي ،د نوي زندان وداني جوړه ، ولي متاسفانه ګټه نه تري پورته کیږي او د نوې مېلمستون په مورد هم زیاتي نیمګړتیاوي موجودي دي ،د ملکي نوي روغتون په ساختماني چارو کې ډیري نیمګړتیاوي موجودي دي پدي هکله ما ځانګړي پلاوي ګمارلي دي چې د موضوع په اړوند ما ته مفصل ګذارش راکړي چې ولي داسي ناوړه کارونه ترسره شوي چې البته د هیئت د ترتیب شوي ګذارش په اساس به وړ او لازم تصامیم ونیول شي .

27. د هري اداري رئیس ته سپارښتنه کیږي چې خپل ربعوار پلانونه جوړ او د هغوي په تطبیق کې زیات تلاش، وکړي په اخر کې زه تصمیم لرم، چې د هري اداري د هر رئیس سره د ځانګړي تقسیم اوقات له مخې په مفصل ډول خبري وکړم، مخکې له مخکې تاسو ټولو ته سپارښتنه کوم، چې همدا اوس د تیر کال لنډ کاري راپور د پرسونل اصل بست، موجود او کمبود په ولسوالیو کې د اړونده نماینده ګیو په باب د روان کال کاري پلان، د ساختماني پروژو او نورو موضوعاتو په باب پوره معلومات او ستونزي په لیکلي ډول د ځانه سره راوړي تر څو پدي اړوند پوره مالومات تر لاسه او د ستونزو د حل لاري چاري په ګډه ولټوو.

له دې وروسته په ادارو کې د مامورینو د ظرفیتونو لوړولو په موخه د خوست ولایت رهبرئ د خپلو هلو ځلو په پایله کې ددې ولایت شاوخوا ځلوروسوو مامورینو لپاره یو میاشتنی کورس پرانېستی دی.چې په پنځو بېلابېلو برخوکې لکه : مالي برخه ، د تدارکاتو برخه ، د پالېسئ او پلان جوړولو برخه ، د پروژو برخه او د بشري منابعوپه برخو کې به د مجربو استادانو له خوا ورته زده کړې ورکول کیږي، چې دا کار په بریالیتوب ترسره شو.

همدا رنګه د ادارو د مسوولینو سره په پرله پسې توګه په همدې موخه ځانګړي ناستې تر سره کړې.دوی یې دې ته وهڅول، چې د ځانونو په ګډون خپل مامورین دې ټکي ته متوجه کړي ، چې په ښه خدمت ، شفافیت، د رشوت نه اخېستل ، اختلاس نه کول او همدارنګه د بې ځایه ځورونو څخه مخنیوی کول ، ددې سبب کیږي، چې موږ د خپلو ولسونو زړونه او کلك باور لاسته راوړو.

همداشان پورتني دښې حکومتدارئ اصل ته په پام سره ددې ولایت رهبرئ د ولایت مقام څخه نیولې، بیا تر ټولو ادارو پورې مامورینو ته د کار ورسپارلو او بېرته د هغه کار د اجرا د راپور اخېستلو اصل پیدا او پیاوړی کړو.

د ادارو څخه د جدي کنترول او د مامورینو د کارونو د ارزونې په خاطر یې د ولایت د ټولو ادارو څخه د روان لمریز کال د غویي په شلمه نېټه لیدنې او کتنې وکړې.په دې لیدنو کتنو کې یې هغه ځوك چې په اداره کې یې ښه ، منظم او پر خپل وخت کار کړی ؤ ، هغه یې مکافات کړل.

د دې لیدنو د لړئ په ترڅ کې یې ټولو ادارو ته یو ډول فورمې رسماً د یوه پلاوي په لاس ور وسپارلې ، چې د هغو فورمو په ډکولو سره دا مالومه شوه ، چې په ادارو کې څومره لاسته راوړنې لرو،څومره نیمګړتیاوې لرو،په څومره شمېر سره وسایل او تجهیزات لرو او ددې وسایلو او تجهیزاتو څخه معقوله او پر ځا ی ګټه اخېستل شوي، او څومره له دې څخه ناوړه ګټه پورته شوي. او ددې ټولو تر څنګ دا هم څرګنده شوه ، چې دا ولایت په څومره شمېر د مامورینو تشکیل لري او څومره مامورین په ادارو کې کمبود دي.دا ټول په دې ولایت کې د ښې حکومتدارئ د رامنځته کېدو په خاطر ترسره شول ، چې هر چېرې چې نیمګړتیاوې وي، هغه پوره کړی شي. چې په نتیجه کې د ولایت ټول د تشکیلاتي وضعیت په برخه کې یې مالومات راټول چې په لاندې ډول دي.

د ولایت په کچه د تشکیلاتو په مطابق د ولایت د ټولو ملکي مامورینو تعداد:

۱۱۹۰ چې له دې جملې څخه ۹۶۴ مامورین موجود، ۲۲۶ مامورین کمبود، او د ۹۶۴ موجودو مامورینو له جملې څخه ۱۵ ماستر، ۱۴۰ لیسانس، ۷۵ فوق بکلوریا، ۴۵۰ بلکوریا ، ۲۸۴ د خصوصي تحصیلاتو درلودونکي دي، د پورته مامورینو څخه PRR۴۴۰ او پاتي نه دې PRR شوي او همدا راز د ښاغلي نعیمي د هغو ژمنو سره سم چې د مامورینو د ظرفیتونو په لوړولو کې به جدي تلاش ترسره کوي هغه وو چې د دوی د زیاتو تلاشونو په نتیجه کې د ظرفیت لوړولو چاري په بیساري توګه په دې ولایت کې ګړندي، چې په نتیجه کې یي په تیرو شپږو میاشتو کې ۸ تنه عالي رتبه او ۱۲۰ تنه ټیټ رتبه مامورین ارزیابي شول، ۴۰۰ معلمین په عادي معاش استخدام، ۱۶۰۰ معلمین د رتب او معاش په نوي سیستم کې استخدام، ۴۰ مامورین د PRR له لاري نوي استخدام، ۸ تنه مامورین د سوپرسکیل د امتیازاتو د مرحلو د بشپړولو په درشل کې دي، او همدا راز ۱۲ تنه مامورین او زده کوونکي په دې شپږو میاشتو کې بهر ته د تحصیلاتو په خاطر استول شوي، ۶۰ تنو مامورینو او د پوهنتون فارغ التحصیلانو ته متوسط المدت د ظرفیت لوړولو زده کړي به ترسره کوي ، ۵۰۰ مامورینو او د پوهنتون فارق التحصیلان به د لنډ مهالي د ظرفیت جوړولو زده کړې کوي، او همدا راز ۳۰ تنه مامورین د انټرشیپ د پروګرام څخه برخمن شوي، په ۳۰ مواردو کې د ظرفیت لوړلو ورکشاپونه مامورینو ته جوړ شوي، په ۶ مواردو کې مختلف سیمینارونه مامورینو ته جوړ شوي، او ۴۶۷ مامورینو ته د کوچینګ یا وروستي تعقیب پروګرام زده کړه ترسره شوي.

بله دا چې اداري فساد، د ګران افغانستان ، د دولت کړنلاره ، نظام او حتا ټولې ادارې یې د بدنامی کندې ته بېولې، او ولس یې پر دولت بې

باوره کړی دی، نو په دې بنسټ خوست والي نعیمي د ټولو ادارو او ولسوالیو مسوولینو او مامورینو ته کلکې ځانګړې رسمي سپارښتني کړې.

چې که هرڅوك په دې ناوړو پدیدو کې ښکېل وپېژندل شو، نو بیا به د نومووړي تورن کس سره سخت .قانوني چلند کیږي.او په هېڅ ډول به ونه بښل شي.

دخوست ولایت رهبری په دې موخه چې دد ی ولایت ولسوالی هم د نظارت ، کنترول او په هغې کې هر ډول لازمه همغږې په وجود راغلي وي ، نو په همدې اساس یې د ولسوالیو څخه د لیدنو لړی پیل کړه . او همدارنګه یې د ټولو ولسوالانو سره په ځانګړیو نیول شویو ناستو کې هم پورتني ټکي په ډېر ټینګار سره تر دوی په رسمي توګه په لاندې ډول ورکړل :

د قانون او د ولسوالانو د وظایفو د لایحي سره سم تاسو د دولت او ولس په وړاندې زیات مسؤلیتونه لرې، او درته په زیاته کچه متوجه دې.

د ولسوالي رهبري ، ټول اقتصادي، اجتماعي ، فرهنګي ، امنیتي او سیاسي مسایل ستاسو په غاړه دي،

تاسو د قانون د تطبیق ، د فرامینو او احکامو پلی کولو ، د ټولو پروژو څخه لیدنه او څارنه ، دخلکو شکایتونو ته پخپل وخت لاس رسی، د ولسوالي په اړونده ادارو کې د تفاهم او هم غږې ایجادول د ستاسو د اساسي دندو څخه شمېرل کیږي .

د دې لپاره چې د تاسو په ولسوالیو کې د تاسو تر رهبرې لاندې دایمن امنیت تامین او یوه سالمه کاري اداره چې د ټولنیز عدالت په بنیاد وي او د دې لپاره چې د عام ولس ستونزې او مشکلات په خپل وخت حل شوي وي او د عام ولس د لومړیتوبونو په نظر کې نیولو سره د بیاءرغوني چاري ګړندي شوي وي تاسو ته په لاندې ډول سپارښتنه کوم،

- **د امنیت په برخه کې :**

**دایمن امنیت هغه وخت رامنځته کیدای شي چې اداره خدمتګاره او ولس همکار وي ، تاسو کوښښ وکړئ چې د ولسونو سره زیاتي اړیکې ټینګې کړې، او د دندو په اجراء کې عدالت تامین کړې، د ظلم او زور مخه ونیسې او د مظلومو انسانانو آواز واورې او د هغوی عرائضو او شکایتونو ته په خپل وخت رسیده ګي وکړې، د عام ولس سره ښه سلوك او ښه چلند وکړې د علماء کرامو، مشرانو ، سپین ږیرو درناوې وکړې، د علماء کرامو او مشرانو سره د امنیت په باب سلاح مشوري ، جرګې او غونډې جوړې کړې، کلیو او باندو ته ولاړ شې ، او خپل ځان د ولس د ستونزو نه خبر کړې او د ولسوالیو ستونزې مرکز ته را انتقال کړې او د امنیت په برخه کې خپل امنیتي څواکونه د ولایتي او مرکزې ادارو په سلسله تقویه او د امنیت په راووستلو کې د عام ولس مرسته او همکاري راجلبه کړې،**

**چې البته د پورته مواردو په نظر کې نیولو سره به د تاسو په مناطقو کې لازیات امن او امان تامین او د ولسونو ستونزې به حل شي، د ولس باور او اعتماد به زیات او هغه واټن چې د ولس او دولت تر منځ موجوده ده هغه به کمه شي .**

- **د ښې حکومت داري او یا ښې چارواکي: او د یوې سالمي او خدمت ګاري اداري د رامنځته کیدو په هکله دې د هر څه نه دمخه کوښښ وشي چې د خلکو زړونه لاس ته راولې ، په خپله اداره کې عدالت تامین کړې،د اداري فساد، کارشکني، د مراجعینو په وړاندې د زشت او بدسلوك ، بیروکراسي، رشوت او اختلاس په وړاندې جدي مبارزه تر سره کړې.**
- **کوښښ وکړې چې په خپلو ادارو کې د مکافاتو او مجازاتو سیستم رواج او تقویه کړې ، دولتي کارکوونکي چې خپله دنده په صداقت او ایمانداري سرته رسوي، د خلکو کارونو ته په خپل وخت رسیده ګي کوي، او په خپلو کارونو کې وړتیا ښئي، هغوی مکافات او بر خلاف هغه دولتي کارکوونکي چې خپلې دندي په صداقت او ایمانداري سرته نه رسوي، او د کارونو په اجراء کې موانع ایجاد وي، هغوی د قانون په مطابق مجازات کړې.**
- **د مامورینو د حاضري څخه همېشه باید کنټرول ترسره شي، مامورین باید په خپلو دندو حاضر وي.**
- **کوښښ وکړې چې د مامورینو د ظرفیتونو په لوړوالي کې زیاته پاملرنه ترسره او پدې لار کې به دولایت مقام تاسو سره همکار وي.**
- **که څه هم د کرومایت د ډبرو قاچاق تر ډیره حده کم، او پدې لار کې جدي اقدامات تر لاس لاندې دي، خو بیا هم اکثراً لیدل کیږئ چې کرومایت او نوري قیمتي ډبري په غیر فني ډول استخراج او قاچاق کیږي پدې برخه کې دې ډېر جدي تدابیر تر لاس لاندې ونیول شي، تر څو د نومووړو ډبرو د قاچاق څخه مخنیو ی وشي .**
- **د چارو د ښه سمون او د هماهنګي د روحیي د تقویه کولو او د ستونزو د حل لپاره هر ولسوال باید په اونی کې یو ځل امنیتي**

**غونډه ، په اونۍ کې يو ځل اداري غونډهٔ او همدارنګه د علماء کرامو، مشرانو، سپين ږيرو او مخورو سره جلا جلا غونډې جوړې، او د دې غونډو د تصاميمو او پرېکړو په عملي کولو کې دي تلاش ترسره شي.**

- **ولسوالان دي د ډاډمن امنيت، سولې او ملي وحدت په لار کې زيات تلاش ترسره کړي او پدې لار کې دي غونډې جوړې شي او د ولسونو مرسته دې راجلبه شي**

- **اکثراً ځيني مرستندويه ټولنې مستقيماً ځيني وسايل، تجهيزات او ځيني خوراکي توکي د تاسو ادارو سره مرسته کوي، د دې لپاره چې د دې وسايلو او موادو د تلف کيدو څخه مخنيوی شوی وي، هغوی دي په مربوطه دفاترو کې قيد او ثبت کړي، خوراکي او مصرفي توکي دي د ځانګړې هيئت په حضور مستحقو کسانو ته توزيع شي، او دفتري وسايل او تجهيزات دي د معتمد په جمع قيد او ثبت شي.**

- **ولسوالان دي د ټولو عام المنفعه پروژو د کار څخه په دقيقه توګه نظارت وکړي، د کار کيفيت دي له نږدې وګوري او د خپلو پروژو راپور دي د ولايت مقام ته راوليږي .**

- **اکثراً ليدل کيږي چې يو تعداد اشخاص ، جزائي او حقوقي او نور عرائض د ولايت مقام ته راوړي چې دا کار د نوموړو کسانو د وخت د ضايع کيدو ،او د بې ځايه سرګرداني باعث ګرځي ، ډيرې پيسې يې په خوراک ، څښاک او د موټرو په کرائي مصرفيږي ، تاسو ولسوالانو ته سپارښتنه کوم چې د داسې عرائضو په وړاندې خپله په ولسوالي کې اجرات ترسره کړي، دا موضوع د سپين ږيرو له لياري عام ولس ته ورسوي، تر څو ځانونه بيځايه سرګردانه نکړي .**

کوښښ وکړي چې د خلکو هغه عرائض چې د تاسو په صلاحيت کې نه وي د ولايت مقام ته د پوستي په ذريعه رسماً راوليږي چې د ولايت مقام به د هغو په کتنه اجراات وکړي. او تاسو ته به اطمنان در کوي دا کار هم د خلکو د بې ځايه سرګرداني او بې ځايه مصارفو مخنيوی کوي.

- **موږ په ولايت کې د شکايتونو بکس پرانيستي او دوه د ټلېفون اسانه شمېرې مو انتخاب کړي، تاسو او د تاسو د ولسوالي وګړي که کوم شکايت لري کولای شي په نوموړي بکس کې خپل شکايت داخل کړي، او هم کولای شي چې د پورته شمېرو سره اړيکې ونيسي ، انشاءالله د توان تر حده به د تاسو او د تاسو د ولسواليو د وګړو مشکلات حل شي ، دا خبره هم د خپلو ولسونو غوږونو ته ورسوي.**

- **ولسوالانو ته سپارښتنه کوم چې همېشه د ښوونځيو او د ښوونځيو د ښوونکو او زده کوونکو سره ليدنه کتنه ترسره کړي، د هغوی درسي حالت وګوري، د هغوی ستونزې واوري که د تاسو په توان کې وي تاسو يې حل کړي کنه د ولايت مقام په جريان کې واچوي.**

او هم د ولسواليو د روغتونونو او کلينيکونو او د ناروغانو د تداوي حالت له نږدې وګوري، د بازار ، د دوکانونو او د نرخونو ليدنه او کنټرول ترسره کړي، چې د نرخونو وضع په څه حالت کې ده .

- **ولسوالان دي اکثراً د مساجدو او ديني مدرسو څخه ليدنه کتنه وکړي د هغوی حالت دي وګوري او د هغوی ستونزې او مشکلات دي ولايت ته را انتقال کړي.**

- **همېشه کليو باندې ته لاړ شي، د مختلفو پروژو څخه ليدنه وکړي، د زراعت سيستم وګوري، د دهقانانو او بزګرانو د ژوند حالت وګوري د هغوی د ستونزو په حل کې لازم اقدامات ترسره کړي.**

- **ولسوالان دي همېشه د ولسواليو د ټولو ادارو لکه د امنيې قوماندانې، ملي امنيت، محاکمو، څارنواليو د حج او اوقاف، ثبت احوال نفوس ، پوهنې ، عامې روغتياء، حقوقو او نورو ځانګو څخه ليدنه کتنه وکړي، د هغوی اداري سيستم او د اجراآتو څخه دې نظارت وکړي، د هغوی دفتري وسايل، تجهيزات ، تخصيصونه او نور د ضرورت وړ سامان آلات دي وګوري. او د هغوی سره دي خبرې اترې وشي، چې دوې څه ستونزې لري، آيا د دوی مربوطه رياست د دوی څخه خبر اخلي کنه، د دوې مشکلات او ستونزې حل کوي کنه د دې مشکلاتو راپور دي ولايت ته را انتقال شي.**

- **د تاسو په ولسوالي کې هره پېښه چې کيږي بايد اول د ټلېفون په ذريعه دقيق خبر راکړي، د واقعې څخه د هيئت په ذريعه دي ليدنه وشي، د ساحې کروکې او مشاهدات دي واخېستل شي او د واقعې مکمل راپور دي ولايت ته رسماً راوليږل شي .**

- **هر ولسوال دې خپل مياشتني کاري راپور د ولايت مقام ته رسماً راوليږي. ترڅو د نوموړي راپور په اساس وړ او لازم اجرات ترسره شي.**

- **ولسوالان دي له اجازې پرته مرکز ته نه راځي، د ضرورت په وخت کې کولای شي چې د ولايت مقام په جريان کې واچوي،، او د**

**راتګ په وخت خپل قانوني سرپرست وټاکي،**

- **د بېځایه مصاحبو او مرکو، چي د قانون، نظام، او دولت د جاري پالیسي په خلاف وي په کلکه ډډه دي وشي ، د ګوندي، سمتي او ژبنیو تعصباتو څخه دې ځان لري وساتل شي، د ولسوال په شمول دې ټوله اداره د بیطرفي اصل په مراعاتولو سره په بیطرفانه ډول خپل اجراات ترسره کړي.**
- **د ځمکو د غصب څخه دې په کلکه مخنیوي وشي ، هېڅاته اجازه مه ورکوي چي دولتي ځمکي غصب کړي، د اختطاف ، غلاء او نورو نارواء کارونو په خلاف خپله مبارزه جاري وساتي .**

**کوښښ وکړي چي قومي شخړي د عدالت او قانون په رڼا کي حل او فصل کړي،مه پرېږدي چي قومونه په مسلحانه توګه یو د بل په مقابل جنګ او جګړه وکړي، د داسي پېښو په وړاندي مخکي له مخکي باید تدابیرونیول شي، هغه څوك چي د ي کار ته خلك تشویقوي او خپل ولس جنګ ته هڅوی د هغوی سره قانوني چلند ترسره کړي.**

ښاغلي نعیمي په دې برخه کي لومړی کاري سفر د ثور په ۲۵مه نېټه د دې ولایت د ځاځي میدان ولسوالی بیاء د زمري په ۳ مه نېټه د سپیري او د زمري په ۲۴ مه نېټه د موسي خیلو ولسوالیو ته په روان کال کي تر سره کړ، په دغو سفرونوکي د نوموړو ولسوالیو د دیني علماکرامو ، قومي مشرانو او ځوانانو له خوا ډېر تود هرکلی په دې منظور ترسره شو، چي ددې ولایت رهبري لېږي ولسوالیو ته سفر کوي . او د نوموړو ولسوالیو له حالته، د قومي مشرانو او علماکرامو سره نېغ په نېغه خبرې کوي، او د هغوي ستونزې له ځانه سره د ولایت مرکز ته لېږدوي، غواړو د والي عبدالجبارنعیمي له لوري هغه وینا دلته ولیکو ، چي د موسي خیلو ولسوالي اوسېدونکو ته یې کړي وه :

والي نعیمي وویل ، ډېر خوشاله یم ، چي د خپل کاري سفر په لړ کي نن د موساخیلو ولسوالی څخه لیدنه کوم،او د دې ولسوالی له مشرانو ، عالمانو او ځوانانو سره له نېږدې څخه د دوی په شته ستونزو او مشکلاتو خبرې اترې کوم.

عبدالجبارنعیمي مشرانو ته وویل ، د قومونو مشران باید خپلو دیني او ولسي ګټي په پام کي ونیسي او دخپل نظام سره د امنیت او بیا رغوني په برخو کي مرستي وکړي.

خوست والي عالمانو او قومي مشرانو ته وویل، لکه څنګه چي په خپلو اولادونو زړونه سوځوی ، همداشان د ملي پولیسو ، ملي اردو او نورو ټولو دولتي کارکوونکو سره خواخوږي او زړه سوی ولری . ځکه ټول سرتېري او کارکوونکي ستاسوخدمتګاران دي، شپه او ورځ په دې هڅو کي دي، چي تاسوته ډاډمن امنیت ، پرمختګ او سوله راوړي.نو له تاسو مي غوښتنه داده ، چي خپلو پولیسو او ملي اردو ته د وروری ، محبت او کلک یووالي لاسونه ورکړی ، حمایت یې وکوی ، تر څو په دې ولسوالی کي په امنیت او بیارغونه ښه اغېزه وکړي.

همداشان تاسو مشران هم باید په خپلو کي کلک همغږي او متحد جوړ شی ، د یووالي د پیدا کولو سره سم باید په دې فکر کي شئ، چي ستاسو راتلونکی ځوان نسل چي د ښووني او روزني څخه محروم شوی ، وهڅوئ او بېرته یې په کلکي حمایي سره زده کړې ته تشویق کړئ ، تر څو په زده کړو سمبال شي. او هغه څوک چي درته د زده کړې او پرمختګ په لاره کي خنډونه جوړوي ، ورسره په کلکه مبارزه وکړئ، ځکه هغوی چي ستاسو د اولادونو د راتلونکي او پرمختګ په برخه کي خنډونه او موانع جوړوي ، نو یاد خلک ستاسو او ستاسو د اولادونو دښمنان دي.

نو په هېڅ صورت سره اجازه مه ورکوئ ، چي ستاسو د پرمختګونو په وړاندي خنډونه ایجاد کړي.

خوست والي عبدالجبارنعیمي دوی ته وریاده کړه، راځی په ګډه سره هڅي وکړو، هر هغه څوک چي امنیت خرابوي ، بیارغونه نه پرېږدي او همداشان نه غواړي چي دا ولسوالی سوکاله او پرمختللي شي، په کلکه ورسره مبارزه وکړو. ترڅو زموږ سیمه وال د دوی د ظلم او ناروااو څخه په امن کي شي.

والي نعیمي دوی ته وویل، کله هم چي دلته امن ټینګ کړو، کلینیکونه ، سړکونه ، پلونه ، پلچکونه او ښوونه او روزنه به وي، په دې برخه کي خوست والي عبدالجبارنعیمي دوی ته ژمنه ورکړه، چي ډېر ژر به ستاسو ولسوالی ته ولسوال او ورسره اړونده مسوول کسان دروپېژني.ترڅو ستاسو سره په هره برخه کي خپل خدمات ترسره کړي.

والي نعیمي د مشرانو د غوښتني په ځواب کي وویل ، چي په موساخیلو ولسوالی کي به ستاسو په خوښه او ستاسو په رایو سره سیمه ایزه شورا هم درجوړه کړو.

د موساخیلو ولسوالی قومي مشرانو ، دیني عالمانو او ځوانانو خوست والي عبدالجبارنعیمي ته د پښتني دود او مېلمه پالني له مخي لنګی ور په سره کړه.

وروسته خوست والي عبدالجبارنعيمي په موساخيلو ولسوالۍ کې د مېشتو ملي پوليسواو ملي اردو سرتېرو او افسرانو څخه هم ليدنه او کتنه وکړه.والي نعيمي سرتېرو ته وويل ، تاسو د ډېرې سپېڅلې دندې مسووليت په غاړه لرئ.

او دا په تاسو باور او کلک اعتماد شوی ، ټول نظام ستاسو تر شا د حمايت په منظور کلک ولاړ دی.نو تاسو په ډېر زړورتوب سره خپلې دندې په مخ بوزئ.

خوست والي عبدالجبارنعيمي وويل، نن چې ددې سرتيرو روحيې گورم ،ما ته ډاډ حاصلیږي ، چې په دې ولايت کې هر نوع قربانيو ته حاضر دي.وروسته نعيمي د دوی ټولو سره په روغبړ خدای پاماني کړه .

دا په داسې حال کې ده ، چې څه موده وړاندې خوست والي عبدالجبارنعيمي د دې ولايت د ځاځي ميدان او د سپيرې ولسواليو څخه ليدنې کتنې کړي وې.

خو د موساخيلو ولسوالۍ په دې وروستيو کې د يوې ناامنه ولسوالۍ په نوم بلل کېده . چې والي نعيمي يې دغه پل ورمات کړ، د سپيري ولسوالي څخه د ليدني په ترڅ کې خوست والي عبدالجبارنعيمي د سپېرې ولسوالۍ له مشرانو او ځوانانوسره له نږدې ليدنه او کتنه وکړه، ،چې سربېره پر خپلې کاري ډلې ورسره په خوست کې د لومړۍ لوا قوماندان جنرال اسرار او د خوست ولايت د ملي امنيت رئيس ګډون درلود.

په سر کې د لسو بجو په شاوخوا کې خوست والي عبدالجبارنعيمي او ورسره پلاوی د سپېرې ولسوالۍ ته په داسې حال کې ورسېده ، چې د نوموړې ولسوالۍ ولسوال محمد عظيم او د نوموړې ولسوالۍ ګڼ شمېر قومي مشران ، ديني علماکرام او ځوانان د والي نعيمي په احترام د ولسوالۍ مخې ته کتار ولاړ او له خوست والي عبدالجبارنعيمي سره يې روغبړ تر سره کړ.له روغبړ وروسته خوست والي ، تللی پلاوی او د يادې ولسوالۍ مشرانو د ولسوالۍ تالار ته ولاړل.

په سرکې د خوست والي عبدالجبارنعيمي له خوا په سپېره ولسوالۍ کې چې څه موده وړاندې د نامعلوموکسانو له خوا د نوموړې ولسوالۍ يو شمېر ځايي مشران او ځوانان په شهادت رسېدلي ؤ. د فاتحې مراسم تر سره کړل او د دوی لپاره يې د لوی خدای (ج) له دربار نه د جنت الفردوس دعاګانې وکړې.

وروپسې د سپېرې ولسوال محمدعظيم ځدراڼ خوست والي ته په خپلو خبرو کې هر کلی او ښهٔ راغلاست ووايه .

ولسوال په دې زياته خوښي وښوده ، چې د لومړي ځل لپاره يې يو والي له ولسوالۍ څخه ليدنه کوي.او ددې ولسوالۍ له ستونزو او مشکلاتو څخه ځان او خپله اداره خبروي.تر څو ورسره په راتلونکي کې د ستونزو د رفع کولو په منظور تلاش ترسره کړي.

ولسوال محمدعظيم خوست والي عبدالجبارنعيمي ته د سپېرې ولسوالۍ په اړوند بېلابېل مالومات وړاندې کړل.

وروسته له ده څخه د نوموړې ولسوالۍ د مرکزي لېسې مدير نورمحمد خبرې وکړې ، ده وويل دا مهال په سپېره ولسوالۍ کې دوه لېسې او شپږ لومړني ښوونځي لرو.نورمحمد وويل ښوونځي او ښوونکي مو اوس مهال د اړتيا له مخې کفايت کوي خو ده زياته کړه ، چې اوس هم زموږ ښوونکي د کميت او کيفيت په لحاظ لکه چې لازمه ده هغومره د پام وړ نه دي.ده زياته کړه ، چې داسې ښوونځي هم له پورتني شمېر ښوونځيو څخه شته چې ودانۍ نه لري.

وروپسې د نوموړې ولسوالۍ يو تن بل قومي مشر عقل خان وويل ، چې زموږ لپاره دا غټه د خوشالۍ او وياړ څخه ډکه خبره ده ، چې د لومړي ځل لپاره ددې ولايت والي زموږ ولسوالۍ ته راځي او له موږ سره له نږدې په ازاده فضا کې خبرې کوي.

ده خوست والي عبدالجبارنعيمي ته په نوموړې ولسوالۍ کې د روغتون د جوړېدو له اړتيا څخه يادونه وکړه ،ده وويل ډېری وخت زموږ ناروغان د سختې ناروغۍ له امله او يا هم د لارې د اوږدوالي له امله خوست مرکز ته د لېږدولو په خاطر نوموړی ناروغ خپل ژوند په لاره کې د لاسه ورکړي.

ده وويل که دلته په دې ولسوالۍ کې يو مجهز روغتون جوړ شي، نو دغه ستونزې به ورسره کمې شي.ده دا هم وويل چې دلته موږد لا ښه امنيت د راوستو په موخه ډېرې هلې ځلې کړي دي، او کوو يې چې هغه شمېر خلك چې دلته په يوه او بل نوم ورانۍ او مشکل جوړوي ، دې ته قانع کړو، چې نور دې له دا ډول کارونو او تاواني فعاليتونو څخه لاس واخلي. ځکه په داسې کېدو سره زموږ ولسوالۍ په ټولو برخو کې له هر څخه محروميږي او له هر څه به وروسته پاتې وي.

وروپسې يو تن بل قومي مشر هم په دې خوښي وښوده ، چې خوست ته د لومړي ځل لپاره يو داسې والي راغلی چې د ولايت په ډېرو لېرو

پرتو ولسواليو کې په غريبانو او بې چاره ګانو خلکو له نېږدې څخه ګرځي . ددوی له ستونزو او مشکلاتو څخه ځان خبروي.

ده په خپلو مشرانو غږ وکړ، چې راشئ همدا يې وخت دی ، چې ددې والي ملا په ښه شان وروتړو، تر څو د غريبانواو بې چاره ګانو خلکود ستونزو او غوښتنو بېړی واقعاً ترساحله پورې ورسوي.

ده دا هم وويل چې تر اوسه ورسره د زراعت په برخه کې کومې د پام وړ ځانګړې مرستې نه دي شوي ، نو په دې اساس ده له خوست والي عبدالجبارنعيمي څخه په نوموړي ولسوالی کې د بندونو ، ويالو او استنادي ديوالونو دجوړېدو په برخه کې د مرستې هيله وکړه .دده په خبره چې په دې سره به ددې ولسوالی د اوسېدونکو لپاره له يوې خوا د ځښلو پاکې اوبه برابرې شي او له بلې خوابه دلته زراعتي ځمکې او باغونه خړوب شي.

قومي مشر ميراجان بيا په خپله ولسوالی کې امنيت دومره د اندېښنې وړ ونه باله ، لکه څومره يې چې بهر نوم تللی دی. ده وويل ستونزې به وي ، خو په ډېر کم کارکولو سره حل کېدلی شي.ده له دولت څخه د خپل قوم ملاتړ اعلان کړاو ويې ويل دولت زموږ داسې دی ، لکه موراو پلار ، نو که په موږ کې کومې نيمګړتياوې وي، په کار دي ، چې دولت يې راته په ګوته کړي او که خدای(ج) مکړه په دولت کې وي ، نو په موږ لازمه ده ، چې ورته د حل په منظور يې ور په ګوته کړو.ده په دې برخه کې د موجوده فضا څخه خوشالي وښوده ، چې په ډېر ازادانه ډول هر څوك کولای شي، خپل نظر، وړانديز، غوښتنه او حتا نيوکې تر سره کړي.

وروسته د نوموړي ولسوالی قومي مشر آدرم ګل خبرې وکړې ، ده وويل ، چې ددوی په ولسوالی کې زيات شمېر خلکو د رايو کارتونه اخېستي دي . ده وويل، چې تصميم مو نيولی دی، چې د ولسي جرګې د ټولټاکنو لپاره به په رايو کې فعاله ونډه اخلو .

ده د خوست والي عبدالجبارنعيمي هغه ګام وستايه ، چې له مخې يې په خوست کې د دولتي غصب شويو ځمکو د خلاصون په موخه عمليات پيل کړيدي .ده خوست والي ته ډاډ ورکړ، چې که په دغه کار کې زموږ د ولسوالی له خلکو څخه په هر ډول مرسته وغواړې نو موږ درته تيار يو.

ده همدارنګه هم په دولت او هم په خپلو خلکو غږ وکړ، چې که واقعاً غواړئ چې له هر ډول بدبختيو څخه خلاصون ومومی نو په خپلو کې د کلك يووالي او اتفاق راوستو په هلو ځلو کې شئ.تر څو په دې سره مو خپل ولايت او بيا ټول هېواد ته نېکمرغي او سوله راوړي وي.

وروسته خوست والي عبدالجبارنعيمي د نوموړي ولسوالی مشرانو ، ديني عالمانو او ځوانانو ته وينا وکړه.

ده په خپله وينا کې زياته کړه ، چې نن ډېر خوشاله يم ،چې د خوست ولايت د يوې لېرې پرتې سرحدي ولسوالی څخه چې په کې د ځدراڼو مېړنی قوم اوسيږي ليدنه او کتنه کوم.

والي نعيمي وويل . موږ ددې لپاره راغلو چې ستاسو ستونزې له نېږدې څخه وګورو او له تاسو څخه واورو ، چې تاسو له کومو ستونزو سره لاس او ګرېوان ياستئ.

او مالومه کړو، چې تاسو ښوونکي ، زده کوونکي، ديني علماکرام ، قومي مشران او بزګران کومې اړتياوې او کومې غوښتنې لرئ.تر څو ستاسو ستونزې او غوښتنې له ځانه سره د خوست مرکز ته يوسم او د حل په مورد يې د امکاناتو په تلاش کې شم.

خوست والي عبدالجبارنعيمي د يادې ولسوالی قومي مشرانو ته وويل چې تاسو واقعاً دلته سړکونو، پلونو ، پلچکونو ، د زراعت ، روغتيا او د ښوونې او روزنې په برخه کې کارونو ته اړتيا لرئ.

والي نعيمي دوی ته وروياده کړه ، چې څو ورځې وړاندې مو د خوست په مرکز کې د دې ولايت د بيارغونې او پرمختګ په موخه د بيارغونې پنځه کلن ستراتيژيك پلان د جوړولو په منظور دوه ورځنی ورکشاپ جوړ کړ.چې په دې ورکشاپ کې مو د نورو کسانو تر څنګ ددې ولايت د دوولسو ولسواليو استازي هم په دې موخه رابللي ؤ، چې د خپلې ولسوالی ستونزې او غوښتنې مطرح او د کار لاندې پنځه کلن پلان کې يې ونيسو.والي نعيمي زياته کړه ، چې په دې پلان کې به دا مالومه کړو، چې په روان کال کې ولس کومو پروژو او کارونو ته اړتيا لري او د پنځو راتلونکو کالونو په جريان کې بايد د ولس د غوښتنو سره سم کوم، کوم کارونه او پروژې تر سره شي.

خوست والي وويل، څو ورځې وروسته به يوه بله ناسته راوغواړو، تر څو په کې د پنځه کلن ستراتيژيك پلان د نهايي کولو په منظور پرېکړې ترسره او نور نوموړی پلان بشپړ شي.

عبدالجبارنعيمي يادو مشرانو ته په خپلو خبرو کې وروياده کړه، چې ستاسو ولسوال ته مې ويلي دي.چې د سپېرې ولسوالی څخه د لسو څخه نيولې تر پنځلسو د داسې پروژو لېست راولېږدوي ، چې د هغې په اساس د سپېرې ولسوالی خلك د سوکاله او ارام ژوند څښتنان ګرځېدی

شي، تر څو په پنځه کلن ستراتيژيك پلان کې يې ونيسو.

ده نوموړيو مشرانو ته وويل، چې تاسو به د ولسوال او يا هم له رسنيو څخه اورېدلي وي، چې موږ تصميم نيولی دی، چې په ادارو کې به هېچا ته ددې اجازه ورنه کړو، چې زور ، ظلم ، اختلاس ، رشوت ، بې ځايه سرګرداني او يا په مجموع کې مشکلات ايجاد کړي ، بلکې په کلکه مو هرې ادارې ته په رسمي شکل سپارښتنه کړې ده ، چې ځانونه وکداران نه ، بلکې ولس ته ريښتيني خادمان احساس کړو.

والي نعيمي دا هم زياته کړه، چېرې چې عدالت وي ، هلته پرمختګ ، سوله ، آبادي او خوشالي وي، نو په همدې موخه مې له ټولو ارګانونو څخه په کلکه غوښتي ، چې په هرکار او اجرااتو کې دې له ټولنيز عدالت څخه کار واخلي .

خوست والي عبدالجبارنعيمي د امنيت په تړاو د ولسوالی مشرانو ته وويل، ښه امنيت هغه وخت راتلای شي، چې تاسو مشران، پوليس ، ملي اردو اود ټولو ارګانونو مسوولين او کارکوونکي خپل ورونه او زامن وبولئ.او دا له شك پرته ستاسو خپل ورونه او زامن دي نو راشئ د خپلو ارګانونو سره په هره برخه کې د خپل هېواد او ولس په خاطر هر ډول همکاريو ته راودانګی ، تر څو نور دغه دردېدلی ولس د ارامی او خوشالی ساه واخلي.

ده همدارنګه په قومي مشرانو غږ وکړ، چې که تاسو په خپل منځ کې ريښتينی، يووالی او اتفاق راووست ، نو ژمنه درکوم ، چې هېڅوك به ستاسو مشر ، عالم او ځوان نه ووژني او نه به يې تهديد کړي.نو هڅه وکړئ په خپل منځ کې يووالي او اتفاق پيدا او غښتلی کړئ.

خوست والي عبدالجبارنعيمي د راروانو ولسي جر ګې په ټاکنو هم تماس ونيو، او ويې ويل، په موږ او تاسو لازمه ده، چې هم په خپله او هم نور خلك دې ته وهڅوو، چې په ټاکنو کې فعاله ونډه واخلي ده همدارنګه دوی ته وويل، چې هڅه وکړئ ، داسي استازي پارلمان ته ولېږئ، چې په هغوی تاسي واقعاً دا باور ولرئ ، چې ستاسي استازيتوب په ښه شان سرته رسولی شي، او درته د خدمت مصدر ګرځي.

په پای کې خوست والي عبدالجبارنعيمي د هغو پنځوکسانو شهيدانو کورنيو لپاره چې څه موده وړاندې د سپېرې ولسوالی اړوند د سره کوښ په سيمه کې د ناپېژندو کسانو له خوا په شهادت رسېدلي ؤ، والي نعيمي د خپله اړخه ورته پنځوس، پنځوس زره روپۍ مرسته د ولسوال او د دوی دقومي مشرانو په لاسونو دشهيدانو د کورنيو سره د خواخوږۍ او مرستې په موخه ورکړې.

وروسته په نوموړې ولسوالی کې د شته کلينيك څخه خوست والي عبدالجبارنعيمي ، ورسره تللي پلاوي ، ولسوال او د ولسوالی ګڼ شمېر قومي مشرانو او علماکرامو ليدنه وکړه .والي نعيمي د کلينيك په ځانګو وګرځېدو او ورته د کلينيك مسوول ډاکټر سردارجان د کلينيك په برخه کې د لاسته راوړنو او ستونزو په اړوند مالومات ورکړل.

ډاکټرسردارجان خوست والي ته د کلينيك لپاره د ښځو لپاره د پاکو اوبو او د تعمير د پراختيا غوښتنه وکړه .

خوست والي د ډاکټر سردارجان په کمو امکاناتو سره دده د منظم کار له امله خوښي څرګنده کړه، او ويې ويل:

زه په دې ډېر خوشاله شوم ، چې په دې کمو امکاناتو ډاکټرسردارجان او ورسره ملګرو يې خپل کار په ډېر منظم شکل مخ ته وړی دی، او د ناروغيود تشخيص لپاره يې په منظم شکل چارټونه جوړ کړي دي.واقعاً کار يې د تقدير وړ دی، خوست والي عبدالجبارنعيمي ورته ژمنه ورکړه ، چې ډاکټرسردارجان او ورسره ملګري ته به يې د ښه کار کولو له امله تقديرنامې ورکړي.

والي نعيمي مشرانو ته وويل ، چې که دغه ډاکټر زده کړه نه وای کړې ، اوس به دلته ستاسو خدمت چا کولای ، نو راشئ سر د نن څخه راسره ژمنه وکړئ، چې له سبا څخه به هم هلکان او هم انجوني ښوونځيو ته د زده کړې په موخه لېږو، تر څو په راتلونکي کې ستاسو ولسوالی هم خپل ډاکټر، هم ښځينه ډاکټرې او همداشان انجنيران ولرئ.

خوست والي عبدالجبارنعيمي په مشرانو غږ وکړ، چې تاسو په هېڅ صورت تر هغې پرمختګ نه شئ کولای، تر څو چې خپله ډاکټران، انجنيران او اقتصادپوهان ونه لرئ.

نو هڅه وکړئ ، خپل اولادونه ښوونځيو ته د زده کړې په موخه ولېږئ. او په دې برخه کې درسره د هر ډول مرستو ژمنه کوم، تر څو راتلونکی مو له هر ډول ننګونو او ستونزو څخه پاك وي.او همداشان نوی اويا هم راتلونکی نسل هم دربانديٍ ووياړي او هم درته دعاګاني وکړي.

په پای کې د سپېرې ولسوالی مشرانو په يوه غږ خوست والي ته مثبت ځواب ورکړ، چې دا مو درسره ژمنه ده ، چې هم به هلکان او هم به انجوني د زده کړې په منظور ښوونځيو ته لېږو.

وروسته د ماسپخین په دوه نیمو بجو خوست والي عبدالجبارنعیمي او ورسره پلاوي د خوست مرکز ته د بېرته تلو په مناسبت د يادې ولسوالی له مشرانو او ولسوال سره مخه ښهٔ وکړه .

د يادوني وړ ده، چي د تېرو نهو کالونو په جريان کي دا لومړی ځل دی ، چي ددې ولايت والي له سپېرې ولسوالی څخه لیدنه کوي .

د ادارو هڅونه ، پاملرنه ،اکمال او تجهیز

د خوست ولایت رهبری په دې هڅه کي ده ، چي د وخت د اړتیاوو سره سم د کارونو د چټکتیا او ګړندیتوب په خاطر ټولي اداري اکمال او تجهیز کړي.د ادارو څخه يي د ليدنو او کتنو پر مهال د ورکړل شويو فورمو څخه د نورو پورتنيو ذکر شويو موخو څخه يوه موخه دا هم وه، چي مالومه شي ، په ادارو کي څومره اکمال او تجهیز ته اړتیا ده .

په دې لاره کي يي د روان لمريز کال د څنګابښ په دیارلسمه نېټه پنځه ولسوالیو ته يو شمېر لپ ټاپ کمپیوټرونو څخه برخمني کړې. او دا لړی به روانه وي.

ددې سره په څنګ کي يي ولايتي ادارو ته ډېسکټاپ کمپيوټرونه د پوره سېستم سره ، لپ ټاپ کمپيوټرونه ، دوه لوی ، لوی جنراټورونه او همدارنګه د ولايت مقام ودانۍ ته د انترنېټ برابرول ، چي له دې وړاندې د نېټ اسانتیا شتون نه درلود ، برابر او د کټي اخېستلو په موخه ورڅخه کار پیل شو.

خوست والي د دې لپاره چي د ولس او دولت تر منځ د کاري اړيکو د تبادلې يو ډول پل رامنځته شوی وي ، نو پرېکړه يي وکړه ، چي د ولايتي ادارو ټول مسوولين به د خپلو رياستو په چوکاټ کي ولس ته د کړنو او لاسته راوړنو په هکله مالومات ورکوي ، تر څو ولس په دې وپوهېږي ، چي ولايتي اداري زموږ لپاره څه کوي په همدې بنسټ د ولايت مقام د غونډو او کنفرانسونو په تالار کي ولس ته د حساب ورکوني لړۍ پیل شوه ، چي په کي د دې ولایت په قومي مشرانو سربېره د مدني ټولنو فعالینو او د نړیوالو ، سیمه ایزه او ځایي رسنیو مسوولینو په کي ګډون درلود. تاسو محترمین اوس د والي عبدالجبارنعیمي د وینا هغې متن ته رابولو ، چي په يادو مراسمو کي يي ګډونوالو او مسوولینو ته واوروله :

خوست والي عبدالجبارنعيمي په خپلو خبرو کي وويل: د کومي ورځي نه چي ما په دې ولايت کي په رسمي ډول په کار پیل وکړ، يوازيني هيله مي داوه، چي په خوست ولايت کي د ښې حکومتدارۍ لپاره يوه داسي خدمتګاره اداره رامنځ ته شي ، چي په هغه کي نظم ، د قانون پلې کېدل ، د وګړو ټول حقوق خوندي ،په کارونو او اجرااتوکي شفافیت او د هرډول فساد څخه پاکي وي، ده وويل په هغو ناستو او غونډو کي چي ما د دې ولايت د علماکرامو، قومي مشرانو، او مدني ټولنو غړو سره درلودې . ددوی ټولو هیله هم داوه ، چي دلته بايديوه خدمتګاره ، شفافه او خلکوته د باور وړ اداره رامنځته شي. ترڅو ددوی په خبره د دولت او ولس ترمنځ د ښو او وړ اړيکو له امله پيدا شوي فاصله پای ومومي.

خوست والي نعيمي مطبوعاتي ناستي ته وويل:د ولسونو د ارزوګانو د پوره کېدو په موخه مي بې دربغه هلې ځلې پیل کړي دي ، چي له نېکه مرغه په ډېره کمه موده کي يي تر ډېره بريده ښې پايلي راوتي دي.خوست والي د ادارو څخه د ليدني ، په ادارو کي يي د مکافاتو او مجازاتو سېستم پیل او پياوړتیا، د ولسواليو څخه يي د ليدنو او کتنو پلان او همدارنګه خپلو دندو ته د مامورينو په پاملرنه يو په بل پسي رڼا واچوله.

خوست والي عبدالجبارنعيمي يادي ناستي ته په ولايت کي د جوړېدونکو غونډو په اړه مالومات ورکړل، لکه د پي،ډي، سي) د ولايت د امنيتي کميسيون، اداري مجلس، د ولسوالانوسره غونډه،د ځمکو پر سر د قومي شخړو د حل کمېسيون، ولايتي شورا سره هراړخیزه ناسته ، د طبيعي پېښوسره د مبارزې د کميسيون او همداشان په يو لړ نورو ناستو خبري وکړې، او ويې ويل په ټولو جوړو شويو اوجوړېدونکو غونډو کي به په ادارو کي د شفافيت ، د اداري فساد سره مبارزه او ولس ته د ښو او پرځای خدمتونوپه برخه کي کار کوو.خوست والي نعيمي زياته کړه، د خوست د مرکز، ولسواليو او د خوست د ښاريانود مهمو ستونزو او په ادارو کي د بيا رغوني په چاروکي د شفافيت د منځته راتلو په خاطر مو يو شپاړس کسيز باصلاحيته کميسيون ټاکلی دی.نوموړي زياته کړه ، ددې لپاره چي د رئيسانو کاري پروګرامونه ولس ته روښانه او د قناعت وړ ګرځېدلي وي، موږ نوموړيو ته دنده وسپارله ، چي هر يو رئيس بايد د خپلو دريو مياشتو کاري راپور په اداري غونډه کي ولولي ، او د مطبوعاتو له خوا ولس ته کاري راپور وړاندې او د ژورنالستانو پوښتنو ته ځوابونه ووايي.ده وويل چي داکار به د ولس او دولت تر منځ پيدا شوی واټن له منځه يوسي او د باور يوه فضا به رامنځ ته شي، او خلك به په دې پوی شي چي دولتي اداري څه ډول کارونه او فعاليتونه کوي.

همدارنګه د لومړي ځل لپاره د ولسونو د شکاياتو او وړانديزونو د رسېده ګی په موخه ځانګړي ټېلېفون شمېرې او برېښناليك پته په يوه

خبري ناسته کې د خوست قومي مشرانو، ديني علماکرامو، د مدني ټولنومسوولينو او ګڼ شمېر ژورنالستانو ته د خوست والي عبدالجبارنعيمي لخوا اعلان شول.خوست والي په ولسونو غږ وکړ، هر هغه څوك چې د کوم دولتي مامور او يا هم له کومې ادارې څخه شکايت لري او يا هم غواړي ، چې له موږ سره په کومه برخه کې خپل وړانديز شريك کړي ، کولای شي ، د ټېلېفون له لارې نېغ په نېغه اړيکه ونيسي.نعيمي زياته کړه،هغه څوك چې انټرنېټ ته لاس رسی لري ، د هغوی لپاره مو د برېښناليك ځانګړي پته جوړه کړي ده ، همداشان مو د ولايت مقام مخې ته په همدې موخه صندوق هم ايښی دی، تر څو د هغې له لارې هم د خلکو شکايتونه او وړانديزونه ترموږه راورسيږي.همداشان خوست والي له خلکو دا هم وغوښتل چې هر شکايت او نيوکه يې بايد له شخصي ګټواو تربګنيو لېرې وي او په کې ملي ګټې ، د نظام پياوړتيا ،د ادارو د چارو د سمون او ولس ته واقعاً ښه خدمت پيغام ولري. او همدا شان به د هر چا راز زموږ سره محرم وي .خوست والي نعيمي دوی ته وويل موږ به په د ټولو راغلو شکاياتو څېړنه کوو، وروسته له څېړنې به پرې عملي قدم اخلو.

خوست والي عبدالجبارنعيمي زياته کړه ، چې ولسوالانو ته مو هم په ورته ډول د صندوقونو په جوړولو کې سپارښتنه کړې ده .تر څو ولسوالان هم په ولسواليو کې د خلکو له ستونزو او شکاياتو خبر شي او په اړه يې لازم ګامونه واخېستل شي.

خوست والي نعيمي هيله وښوده، چې په نږدې راتلونکي کې به داسې اداره رامنځته شي ، چې ولسونو ته به ښه خدمت وکړي، او د ولسونو غږ واوري، ولس له خپلو کړنوخبر کړي او د دې ولايت ټولو اوسېدونکو ته به د ښو خدمتونو مصدر وګرځي.

همداشان په دې ولايت کې د ولايت پرمختيايي غونډې (PDC) ، اداري او اضطراري غونډې په منظمه توګه سره مخ ته ځي .

په ټولو ناستو او غونډوکې خوست والي عبدالجبارنعيمي په مسوولينو باندې ولس ته په ښه او مؤثر ډول خدمت کولو غږ کړی ، د رشوت ، ځورونې ، ظلم ، هر ډول فساد ،د دولتي ځمکو د غصب په مخنيوي ، په ادارو کې د سياسي ، قومي او ژبني تعصب څخه د ځان ساتنې په اړوند رسمي کتبي او شفاهي سپارښتنې کړې دي او لا هم په ورته ناستو کې په پوره ټينګار سره دوام لري.

په ولايتي پرمختيايي غونډو کې د دې ولايت په بيارغنيزو چارو لازم بحثونه شوي او تر څنګ يې په ولايت کې د بيارغونې په خاطر د مختلف النوع مؤثرو پروژو تصويبونه کيږي . دلته د بېلګې په ډول د روان لمريز کال د تلې په مياشت کې د شوي ولايتي پرمختيايي غونډې جرياني راپور او په هغه کې د پروژو د تصويب موضوعات رالېږدوو، چې د والي عبدالجبارنعيمي په وينا پيليږي :

نوموړي وويل : د خوست ولايت لپاره د بيارغونې پنځه کلن ستراتيژيک پلان جوړ شو، خو نن يې بياهغه ورځ رارسيدلې ، چې موږ او تاسو په ځانګړي توګه کليدي رياستونه ډېر زيات مسووليتونه لري ، چې په خپل چوکاټ له خپلو اړوندو وزارتونواو همداشان له ډونرانو سره د ياد پلان په چوکاټ کې کارونه مخ ته بوځي. تر څنګ يې په خپلو ادارو کې کلکه همغږي ، يو له بل سره د مالوماتو شريکول او د کاري اړيکو د پياوړتيا په برخو کې د پام وړ کارونه وکړی.

والي عبدالجبارنعيمي وويل ، موږ بايد له دې وروسته دزراعت ، اقتصاد ، بيا رغونې او نورو ټولو هغو ساحو کې بيړني قدمونه واخلو ، چې په دې ولايت کې ورته ولسونه اړتيا لري .

والي نعيمي زياته کړه ، خو که په يوه ځای کې امنيت نه وي ، نو د بيارغونې کارونه له ستونزوسره مخ وي، ده غونډې ته وويل له نيکه مرغه د څو مياشتو راهيسې په دې ولايت کې امنيت د پام وړ ښه شوی دی او لا د ښه والي خوا ته روان دی. نوموړي وويل موږ د امنيتي ارګانو سره ډېر له نيږدې څخه کار کړی دی. کلکه او پياوړې همغږي راغلې ده . دا ناستې او د همغږۍ په راوستو کې پوره هڅې د دې سبب شوي دي ، چې دلته په دې ولايت کې د پام وړ مثبت بدلون راغلی دی ، ده زياته کړه ،تاسو او ټول ولس ته د يادو پلانونو او پروګرامونو پايله ثابته شوه ، چې د ولسي جرګې ټولټاکنې د ډېر ډاډمن امن په ترڅ کې سره د ډېرو ګواښونو ترسره شوې.هيچا ته د دې فرصت د امنيتي تدابيرو د نيولو له امله په لاس نه ورغی ، چې نوموړې ولسي پروسه دې ګډوډه کړي.خوست والي له رئيسانو هم وغوښتل چې دوی هم بايد په هر اړخيز ډول له امنيتي ارګانونو سره په مرسته او همکارۍ لا نور هم لاس پورې کړي.تر څو په هره سيمه او ولسوالۍ کې هر ډول کارونه پرته له کوم تهديده مخ په وړاندې يون وکړي.

والي عبدالجبارنعيمي د خپلو خبرو په لړ کې د خوښۍ په څرګندولو سره وويل ، کله هم چې موږ د اختر او ټولټاکنو په ورځ له بيلابيلو سيمو څخه ليدنې او کتنې کولې او د ولسونو په منځ کې مو له خلکو سره خبرې اترې کولې ، نو ورته له شک پرته روښانه شوه، چې اوسمهال يو ځل بيا دخلکو سره نوي هيلې او اميدونه راپيدا شوي دي او بيرته يې بايللی باور په خپلو ولايتي ادارو حاصل شوی دی ، نوموړي يو ځل بيا په دې ټينګار وکړ، چې موږ هغه وخت د ولسونو زړونه او کلک باور حاصلولای شو ، چې موږ وکولای شو، ولس ته لازم او وړ خدمات ترسره کړو ، د دوی کارونه په خپل وخت سره پرته له کوم ځنډ او ځورونې ور پوره کړو.

والي نعيمي يو ځل بيا په ياده ناسته کې د دولتي غصب شويو ځمکو د بيرته خپلولو په هکله ټينګار وکړ، او ويې ويل که يوه لويشت دولتي ځمکه هم چا غصب کړې وي، د جدي اجرااتو په ترسره کولو سره به يې بيرته له غاصب خلاصه او به يې د ملکيت په اړوند دولتي ارګان

پورې رسماً وتړي.

نوموړي زیاته کړه ، موږ بیا هم هڅه کوو، چې یاد غاصبین د عامه پوهاوي له لارې په دې وپوهوو، چې دولتي ځمکه دولت په هیڅ صورت سره چاته نه شي ور پریښودلی ، نو بهتره به وي ، چې هر څوک نیول شوي دولتي ځمکه په خپله خوښه دولت ته وسپاري. که بیا هم چا دغه کار ترسره نه کړ، نو دولت به یې په اړه حتمي ده، چې جدي ګام واخلي.

عبدالجبارنعیمي وویل تر څو چې په دې ولایت کې د دولتي ځمکو د غصب موضوع پای ته نه وي رسیدلي ،تر هغې دلته آبادي ، بیارغونه ، یووالی او پرمختګ نه شي تر سره کیدلای .ده له ټولو رئیسانو څخه په کلکه وغوښتل ، چې دخپلو ریاستونو په چوکاټ کې دې پوره هلې ځلې او ګړندي ګامونه واخلي.

خوست والي نعیمي یادې ناستې ته د زیري په توګه وویل ، هغه څوک چې د ځمکې ، څړځایونو او غرونو پر سر یو او بل ته په غرونو کې مورچې نیولي وې ، هغوی مو د مورچو څخه راکوز کړل . او له دې وروسته به دواړه یاد قومونه شته دعوې د قوانینو ، دودونو ، رواجونو او دجرګو مرکو له لارې حل کوي .

والي عبدالجبارنعیمي زیاته کړه ، دوی مو د خوست د میلمستون ودانۍ د سولې په کور کې سره یوځای کړي وو، وروسته له څلورساعته خبرو اترو د دوی تر منځ په خپلو کې د جنګ او شخړې پر ځای روغې جوړې ته د یوه پیاوړې تظمین لیک په ترڅ کې موافقې ته ورسول، والي نعیمي زیاته کړه ، دغه ډول شخړې او لانجې امنیت خرابوي ، د ولایت د بدنامۍ سبب ګرځي او بالاخره یاد خلک له هر ډول سهولتونو ، آرامه ژوند کولو او پرمختګ څخه محروموي. نوموړي په خپلو خبرو کې د اسماعیل خیلو او مندوزیو ولسوال څخه غوښتنه وکړه ، چې د ورزې د لیوانخیلو او دحیدرخیلو د قومونو ترمنځ شته شخړه دې په ورته توګه دحل او فصل لارې ته نیږدې کړي تر څو نور په هیڅ ځای کې د ورونو قومونو تر منځ وینې تویې نه شي. ده وویل په همدې شکل سره باید په دې ولایت کې ټولې شته شخړې پای ومومي.

والي عبدالجبارنعیمي ناستې ته وویل ، په دې څه موده کې خوست ولایت ته ځینو لوړپوړو چارواکو او میلمنو له پلازمینې کابل څخه د لیدنو په موخه رسمي سفرونه وکړل. ده وویل دې ولایت ته د افغانستان دټاکنو دخپلواک کمیسیون مشر ښاغلي معنوي ، د کورنیو چارو وزیر ستر جنرال بسم الله محمدي او په افغانستان کې د امریکې متحده ایالاتو لوی سفیر کارل ایکنبیري هغه څوک وو، چې دلته راغلل او د خوست د ولایتي ادارې له لاسته راوړنو او امنیتي وضعیت څخه خوشاله او راضي ولاړل .

له دوی سره مو د دې ولایت د ادارو په پیاوړتیا ،تجهیز ، اکمال او دظرفیتونو د لوړوالي په برخو کې مو ترې غوښتنې وکړې او همداشان مو د دې ولایت د ابادۍ په برخه کې هم د پام وړ وړاندیزونه کړي دي.

ده هیله وښوده، چې یادو مشرانو به له ځانونو سره ښه پیغامونه وړي وي، او پایله به یې دې ولایت ته ښه وي.

وروسته د اقتصاد رئیس انجنیر حمیدشاه خبرې وکړې، ده وویل لکه څه ډول چې خوست والي ښاغلي عبدالجبارنعیمي وویل ،نو موږ ورته ډاډ او تعهد ورکوو، چې دې خاورې ، ولس او نظام ته به د زړه له کومې کار او خدمت کوو.

ده وویل، د خوست دمیخانیکي لیسې د چاردیوالۍ کار چې د آلمان هیواد د جي ټي زیډ موسسې په مالي لګښت جوړیده ،کار یې هغه وخت په ټپه ودریده ، چې نامعلوموسلوالوکسانو پرې مرګونی برید وکړ، خو اوس د خوست والي عبدالجبارنعیمي په زیاتو هلو ځلو سره آلمانیان دې ته اړ شول ، چې خپل دفترونه په خوست ولایت کې یو ځل بیا پرانیزي. ده وویل آلمانیانو ژمنه وکړه ، چې په میخانیکي لیسه به بیا ځل کار پیلوي.

وروسته انجنیر صوات ګل خوستي په خوست ولایت کې د آلمان هیواد د جي ټي زیډ په فعالیتونو ، دندو او کړنو رڼا واچوله . ده هم د ولایت د رهبرۍ او نورو ټولنیزو سازمانونو د هغو هلو ځلو څخه خوښي وښوده ، چې له مخې به یې جي ټي زیډ یو ځل بیا په خوست کې خپل تړل شوي دفترونه پرانیزي.

وروسته د شیخ زایدپوهنتون رئیس دوکتور ګل حسن ولیزي ، د عامې روغتیا رئیس ډاکټر امیر بادشاه منګل ، د ټولګټو چارو رئیس انجنیر مامورشاه او یو شمیر نورو رئیسانو د خپلو اړونده ریاستونو په بیلابیلو موضوعاتو وړاندیزونه وکړل.

چې په ترڅ کې یې خوست ښار ته د اوبو جوړولو په شبکه ، د بریښنا په پراختیا ، د ملکي روغتون د حویلۍ کانکریټ کولو ، د لویو پلونو جوړولو ، د ښار د سړکونو په قیر کولو ، د سپورټ په برخه کې هاکي لوبو ته د لوبغالو په جوړولو او همداشان په دې ولایت کې د ملکي هوایي ډګر په پروژو خبرې او بحث وشو.چې په پایله کې یې یو شمیر پروژې د پي ډي سي له غونډې د رایو په ټول اکثریت تیږې او پاس شوې.چې د نوموړیو پاس شویو پروژو څخه یوه هم په دې ولایت کې د ملکي هوایي ډګر لویه پروژه وه، چې د غونډې ټولو ګډونوالو په یوه

غږ سره تایید کړه.

خوست والي عبدالجبارنعیمي د هوایې ډګر په اړه وویل ، په خوست ولایت کې دملکي هوایې ډګر اړتیا نه یوازې د خوست د خلکو لپاره ډیره جدي ده ، بلکې د ټولې لویې پکتیا لپاره دلته د یوه مجهز او سهولتونو څخه د برخمن هوایي ډګر ستر ضرورت دی.

والي عبدالجبارنعیمي زیاته کړه ، د هوایي ډګر په جوړیدو سره به د خوست او لویې پکتیا په لکونو مسافر د آرامۍ او ښو اسانتیاوو څخه برخمن شي او تر څنګ به یې د دې ولایت په اقتصادي ، ټولنیز او نورو برخو کې د پام وړ مثبت رول ولوبوي. ځکه د هوایي ډګر سره کاروبار او په ځانګړي توګه سوداګري پراختیا مومي .د نورو هیوادونو سره تګ راتګ زیاتیږي . چې دا ټول ددې سبب کیږي ، چې د خوست او د دې ولایت خلک به د ډیرو برياوو څخه ګټه پورته کړي.

نوموړي وویل د هوایې ډګر په برخه کې ټول اړین او ضروري اسناد مو سره منظم او د اجراااتو په موخه مو پلازمینې کابل ته لیږلي ، چې هیله من یو په لنډ وخت کې به یې د ملکیت موضوع د زراعت وزارت څخه د ټرانسپورټ وزارت ته په قانوني توګه رسماً ولیږدیږي. والي عبدالجبارنعیمي زیاته کړه ، چې پوره هلې ځلې به مو دا وي چې داسې ملکي هوایي ډګر ولرو ،چې له هر نوع ضروري اسانتیاوو څخه برخمن وي.

نوموړي دا هم وویل، هغه چاچې د هوایي ډګر ځمکه غصب کړي ده ، په ډیر بیړني ډول به یې له غاصبینو پاکه کړو، او هیڅکله به چا ته د دې اجازه ورنه کړو ، چې یو څو کسان د خپلو شخصي ګټو په اساس په ملیونونو خلکو ته د یوې ولسي پروژې په محرومیدو سره تاوان ورسوي. والي عبدالجبارنعیمي یو ځل بیا په ټینګار سره زیاته کړه ، د هوایي ډګر موضوع ولسي پروژه ده ، نو هر هغه څوک چې د نوموړې ولسي پروژې مخ ته خنډونه جوړوي ، د قانوني چلند سره به مخامخ کیږي .

له دې وروسته د المپیک آمر عزیز ملنګ له خوا پې ډې سي غونډې ته وړاندې شوي د هاکي لوبو په برخه کې د لوبغالو د جوړولو، همداشان د عامې روغتیا رئیس ډاکټر امیر بادشاه منګل له لوري د ملکي روغتون د حویلۍ د کانکریټ پروژې وړاندې شوې ، چې دا هم د یادې غونډې له لوري تېرې او پاس شوې.

د یادونې وړ ده ، چې خوست ولایت اوسمهال د بیارغونې د پنځه کلن پلان څخه برخمن دی ، چې د هغې د تطبیق مرحلې ورو ، په ورو مخ په شروع کیدو دي.

باید وویل شي ، چې والي عبدالجبارنعیمي په خوست ولایت کې د اداري د جوړولو ، د مکافاتو او مجازاتو د سیستم په رواجولو ، د هر ډول اداري فساد پرضد دګړندۍ او عملي مبارزې په کولو، د دولتي غصب شویو ځمکو د بېرته خلاصون ، د امنیتي وضعیت د ښه والي ، د امنیتي ارګانونو تر منځ د لازمې همغږۍ په رامنځته کولو او د ولس او دولت تر منځ د واټن د کمولوپه برخو کې د ډیر وهلو ځلو او لاسته راوړنو په هکله خوست والي عبدالجبارنعیمي ته د دې ولایت د ولایتي شورا او همدارنګه د مدني ټولنو د څلویښتو نهادونوڅخه د جوړې جرګه ګۍ له لوري د ښه کارکولو له امله ستاینلیکونه ورکړل .

د دیني علماکرامو سره چلند او لاسته راوړنې او د سولې ملي مشورتي جرګې څخه ننګه او ملاتړ :

د خوست رهبري، دیني علماکرامو ته ځانګړې مینه او احترام لري. دې ټکي ته په کتو سره په څو ، څو ځله د علماکرامو سره ځانګړې هر اړخیزې ناستې شوي دي. ددې ولایت رهبرۍ علماکرامو ته په هر ځای کې په ډاګه کړي ، چې د ولایت د دفتر دروازې ستاسو پر مخ د هر وخت لپاره خلاصې دي، او هر وخت کولای شئ، چې خپل وړاندیزونه ، مشورې ، نیوکې ،ستونزې او غوښتنې تر موږه په آزادانه توګه راورسوئ،او له دوی یې هم غوښتي ، چې د خپلو دیني مسوولیتونو له مخې دې په دې ولایت کې د جوماتونو د ممبرونو د لارې د ناروااوو په وړاندې خپل غږونه اوچت کړي. تر څو په دې ولایت کې په ګډه سره د هر ډول ناوړو اعمالو مخه ونیسو.

ددې ناستو څخه یې د بېلګې په توګه یوه هم د څنګاښ په شپاړسمه نېټه د ولایت مقام د غونډو او کنفرانسونو په تالار کې یو ه لویه غونډه وه. چې په کې د ۲۰۰ په شاوخوا کې دیني عالمانو ګډون کړی ؤ.په دې لویه غونډه کې دیني عالمانو په هېواد کې څه موده وړاندې د سولې ملي مشورتي جرګې څخه ننګه او ملاتړ وښود. او په شوې جرګه کې د پرېکړو او تصامیمو د پلي کېدو په برخه کې یې کلکې ژمنې وکړې.غواړو د نوموړیو علماکرامو او د خوست والي عبدالجبارنعیمي ویناوې دلته د موضوع د لا روښانتیا په موخه راوړو.

د خوست ولایت د بېلابېلو ولسوالیو څخه شاوخوا دووسوو دیني عالمانوپه هغه غونډه کې د سولې ، ملي مشورتي جرګې جوړولو او په هغه کې د پرېکړو او تصامیمو څخه خپل غوڅ ملاتړ په ډاګه کړ،چې ددې ولایت والي عبدالجبارنعیمي په نوښت او مرسته جوړه شوي وه.غونډه د سهار په لسو بجو د قاري امین ګل له خوا د پاك قرآن د مباركو ایتونو په تلاوت سره پیل شوه ، وروسته خوست والي عبدالجبارنعیمي

پرانېستونکي وينا وکړه .

والي نعيمي په خپلو خبرو کې د خوست ولايت ديني عالمانو ته وويل:

پدې کې هېڅ شك نشته چې د علماء کرامو مقام او منزلت د اسلام په مقدس او پاك دين کې ډير لوړ او اوچت دي، دا ځکه چې علماء دانبياوو عليه سلام په امتونو کې د هغوی نائبين او په علم کې د هغوی وارثان دي،

ده وويل علماء هغه څوك دي چې کشر او مشر ، غريب او بډای او د ټولنې هر وګړی هغوی ته زياته اړتياء او قدر لري.

خوست والي نعيمي په خپلو خبرو کې له عالمانو څخه وغوښتل چې علماء کرام دې خپلو ديني مسوولیتونو ته په پام سره د پاك او سپېڅلي شريعت احکام خلکو ته بيان کړي ، تر څو زموږ خلك د حق او باطل تر منځ په توپير پوی شي او دغه ټولنه له شته بدبختيو خلاصه شي.

خوست والي نعيمي زياته کړه ، په علماوو باندې واجب ده چې د اسلامي امت خير وغواړي، هغوی ته دين او د دين احکام وښيي، د نا امنيو، ظلم، نارواء ، تيرىو ، د يو او بل د حقوقو تر پښو لاندې کولو، بې ځايه وينه توييولو، قتل ، غلاوو ، قطاع الطريقيو ، د ځمکو غصبولو، او اخلاقي ډول، ډول فسادونو د مخنيوي په لاره کې خپل ديني ، هېوادني ، اوملي مسؤليتونه اداء کړي. او په دې لاره کې خپل تبليغات د جوماتونو د ممبرونو له لارې پيل او جاري وساتي.والي عبدالجبارنعيمي ديني عالمانو ته ورياده کړه ، تاسو ټولو ته څرګنده ده چې هېواد مو ديرش کلنې جګړې سخت ځپلی، د يو ميليون څخه زيات هېوادوال مو شهيدان شوي، د هغوی څخه کونډې ، يتيمان راپاتې دي، د جنګ له کبله هېواد تباه ، ټولې مادي شتمنۍ مو له منځه تللي ، کور ، کلی، او کرونده مو تباه شويده.نوموړي په دوی غږ وکړ ، راځئ چې نور په دې هېواد او هېوادوالو زړونه وسوزوو او د جنګ جګړو، ظلم، زور زياتي ، بې عدالتۍ، ورور وژنې او نورو نارواء اعمالو په وړاندې په ګډه خپلو هلو ځلو ته دوام ورکړو، د اتفاق او اتحاد لاسونه سره ورکړو ،همداشان د ملي روغې جوړې او ملي پخلاينې په لاره کې هرډول هلې ځلې پيل او جاري وساتو، د سولې ملي مشورتي جرګې څخه چې د ولسمشرجلالتماب حامد کرزي په نوښت څه موده مخکې په کابل کې جوړه شوي وه ، د هغوی د پريکړو او تصاميمو په عملي کولو کې خپل مسؤليت اداء کړو او خپله ټولنه ، سيمه ، کور ، کلی او خپل هېواد په ګډه آباد کړو، تر څو دا بې وزله هېوادوال ، چې د ديرش کلن جنګ په ترڅ کې د سختو ستونزو او مشکلاتو سره مخامخ دي، د يوه سوکاله، آرام او ښه ژوند خاوندان شي.

والي نعيمي د خپله اړخه په ډاډ سره دوی ته وويل ، چې ديني علماء کرامو، د مدرسو د مدرسينو او زده کوونکو سره ځانګړي مينه لري او ددغې مينې پربنسټ د هغوی د ستونزو او مشکلاتو د حل لپاره د لارو چارو لټول او د هغوی سره هر ډول مرسته دده د کاري لومړيتوبونو، او د کاري پلانونو يوه برخه جوړوي. او دا به يې هڅه وي ، چې د علماء کرامو، خطيب صاحبانو ، ملاء امامانو ،مسجدونو، مدرسو، د مدرسو د مدرسينو او زده کوونکو ټولې ستونزې په خپل وخت حل او هغوی ته د پای ټکی کيږدي.

والي عبدالجبارنعيمي په خپلو خبرو کې دوی ته زياته کړه ، چې نن ستاسو سره له نږدې په دې موخه ګورم او درڅخه اورم،چې ستاسو د سالمو او ګټو رو مشورو څخه ګټه واخلم او د هغوی د د پلې کېدو په لاره کې عملي ګامونه اخلم. نوموړي وويل ، نن موږ او تاسو په يوه ازموينه کې قرار لرو، راځي خپل ديني رسالت او مسؤليت په ښه توګه اداء کړو تر څو ولس مو نېکې لارې ته سوق کړی وي او ټولنه مو له ټولو مفاصدو پاکه شوي وي.

خوست والي عبدالجبارنعيمي يادې غونډې ته په خپلو تېرو کړنو او اجرااتو هم رڼا واچوله . او ديني عالمانو ته يې په پوره ډاډ سره وويل ، چې د ولايتي ادارې د مامورينو په ظرفيت لوړولو کې يې عملي قدم اخيېستی .چې دده په وينا ښې مثبتې پايلې به ولري.همداشان خوست والي نعيمي د دولتي ځمکو د غٍصب په اړوندهم له خپلو پوره تدابيرو او جديت څخه يادونه وکړه او له ديني عالمانو يې هم وغوښتل چې ورسره په دې برخه کې همکاري وکړي.

خوست والي عبدالجبارنعيمي د خپلو خبرو په لړ کې زياته کړه ، چې د غلا، اختلاس او هر ډول ناوړه اعمالوپه مخنيوي او له منځه وړلو کې مې کلك هوډ کړی ، او په دې سپېڅلي هدف کې به هر ډول قرباني ورکوم . نوموړي په عالمانو هم غږ وکړ، چې د پورتنيو ناوړه کارونو په مخنيوي کې راسره ودرېږئ او په دې لاره کې هېڅ ډول وېره او انديښنه مه کوئ. تر څو په دې ولايت کې ښه روښانه ، ډاډمن او جوړ حالت ولرو.

خوست والي نعيمي له ورغلو ديني عالمانو څخه هيله وکړه چې له خپل اسلامي جمهوري دولت سره هېڅ ډول فاصلې پيدا نه کړي او په هره ستونزه کې ورسره نېغ په نېغه اړيکه ونيسي . ده وويل د ولايت مقام څخه نيولي تر ټولو ولايتي ادارو پورې د دفترونو دروازې د هر وخت لپاره ستاسو پر مخ پرانېستي دي.

له خوست والي عبدالجبارنعيمي وروسته په خوست کې د علماوو شورا رئيس مولوي محمدايوب هاشمي د سولې ملي مشورتي جرګه کې د

پرېکړو او تصاميمو په اړوند خبرې وکړې.

مولوي هاشمي زياته کړه ، عالمان کولای شي ، په خپله ټولنه کې د هرډول ستونزو او بدبختيو مخه ونيسي . دده په وينا چې په افغاني ټولنه کې ديني عالم ته خلك په درنښت ګوري .نوموړي وويل : د يوه عالم په توګه خوښ يم چې د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د هېواد په کچه ديني عالمانو ته په لازم قدر او احترام قايل دي.او په دې سره يې په ترسره شوي ملي ، مشورتي جرګه کې هم د پام وړ ځای ورکړی دی.

ورپسې د خوست ولايت د حج او اوقافو رئيس مولوي اظهارالدين د موضوع په تړاو خبرې وکړې.

نوموړي په خپلو خبرو کې په ډاګه کړه(( زه د ولسمشر جلالتماب حامدکرزي له لوري د سولې ، ملي او مشورتي جرګې او په ياده جرګه کې د شويو پرېکړو او تصميمونو څخه د خوست د عالمانو په استازيتوب نه يوازې ننګه او ملاتړ اعلانوم، بلکې د خپل اسلامي مکلفيت له مخې به يې په پلي کېدو کې هر ډول هلې ځلې کوم.

مولوي اظهارالدين د قرآن پاك د مبارکو آيتونو او احاديثو په رڼاکې د سولې او سوله کوونکوپه اړوند رڼا واچوله او ويې ويل:

څوك چې په دې موخه راپورته شي ، چې د دوو مسلمانانو تر منځ ستونزه حل کړي او سوله راولي ، نو الله (ج) هغو کسانو ته د شهيد درجې او ثوابونه ورکوي.

همدا ډول په بل ځای کې ويل شوي دي . چې څوك د دوو کسانو تر منځ د سولې راوستو په برخه کې قدم واخلي ، نو په هر قدم ورته الله (ج) دومره اجر او ثواب ورکوي ، لکه يو غلام يې چې آزاد کړی وي. نوموړي په ديني علماکرامو غږ وکړ، چې په دې لاره کې په يوه غږ سره عملي قدمونه واخلي . تر څو له يوې خوا څخه د ولس له ستونزو او مشکلاتو خلاص شوی وي، همدا شان له بله لوري د يادو اجرونو او ثوابونو څخه برخمن شوي وي.

له ده وروسته د اجنډا له مخې مولوي بخت زمان هم په هېواد کې د سولې د ارزښت ، اهميت او دسولې د راوستو په لارو چارو خبرې وکړې.

مولوي بخت زمان د قرآني احکامو په چوکاټ کې په غلاوو، انسان وژنو، انسان تښتولو او نشه يي اعمالو په برخه کې لازم مالومات وړاندې کړل او دايې په ډاګه کړه ، چې ياد ناوړه کارونه د اسلام د سپېڅلي دين څخه خلاف کارونه دي.او د مخنيوي په اړه يې وويل بايد چې هر څوك د خپل مسووليت په چوکاټ کې جدي تلاش وکوي. ده هم په دې هيله وښوده ، چې په هېواد کې ټول وګړي او مسوولين د سولې په راوستو کې خپلې هڅې ګړندۍ کړي .

له ده وروسته په وار سره مولوي ګل محمدحيدري ،مولوي سلطان مجروحي ، مولوي ګل محمد د سولې د راوستو په برخه کې خپل مثبت نظريات له ګډونوالو سره شريك کړل.

له دوی وروسته مولوي شاه محمود هغه پرېکړه ليك ولوست ، کوم چې په ياده

غونډه کې د ديني علماکرامو له خوا برابر شوی ، چې په لاندې ډول دی:

1. موږ د خوست ولايت ديني عالمان او روحانيون په ګډه د سولې ملي مشورتي جرګه چې دا جرګه د جلالتماب حامد کرزي د افغانستان د اسلامي جمهوريت جمهور رئيس په نوښت د افغانستان د زوريدلي ملت د ۱۶۰۰ تنو پيژندل شويو استازو په ګډون د کابل په ښار کې جوړه شوي وه، د دې جرګې د پرېکړو او تصاميمو څخه په غوڅه توګه خپله ننګه او ملاتړ اعلانوو،موږ ديني عالمان د خپلو ديني او ملي مکلفيتونو په درك او دې اصل ته په پاملرنې چې سوله د ژوندانه له اړتياوو څخه يوه مهمه اړتيا ده، او د ټولو هېوادوالو کلکه غوښتنه هم همداده. د افغانستان د ګران ولسمشر د ژمنې سره سم چې په هېواد کې د جګړې او وينو تويولو د پای ته رسولو او د سولې ټېزې او پايدارې سولې د رسېدو لپاره يې هر اړخيز تلاش ترسره کړئ، ملاتړ کوو او د دې پرېکړو په عملي کولو ، د جنګ د مخنيوي او د پخلاينې د بهير د ګړنديتوب په لاره کې خپلو ګډو هلو ځلو ته دوام ورکوو.

2. موږد خوست والي ښاغلي محترم عبدالجبار نعيمي د هغو ښو او صادقانه خدمتونو چې د يوې سالمې ادارې په منځته راوړلو، د اداري فساد په له منځه وړلو ، د ځمکود غصب د مخنيوي، د امنيت ، ملي يووالي، او د عدالت د تامين او د بياء رغونې د چارو د ګړنديتوب په لار کې يې ترسره کړي په دې وسيله خپل د مننې او رضايت مراتب وړاندې او په بشپړه توګه د هغوی ستاينه کوو او د خدای پاك جل جلاله له دربار نه دوی ته د لازياتو برياليتوبونو هيله کوو.

3. د ولايتي ادارې خصوصاً د ولايت مقام څخه په کلکه غوښتنه کوو چې د اخلاقي فساد، د نيشه يي توکيو ، خصوصاً شرابو ، مبتذلو فلمونو، او هر ډول فساد او نارواء اعمالو، ظلم د ځمکو د غصب ، د رشوت په له منځه وړلو او د يوې پاکې او خدمت ګارې ادارې په

منځ ته راوړلوکې چې د عام ولس د آزاراو ځورونې باعث او سبب ونه ګرځي او خلکو ته رغنده او صادقانه خدمتونه وړاندې کړي د هيڅ راز مرستو او تلاش څخه ډډه ونکړي.

4. د ولايت مقام نه په کلکه غوښتنه کوو ، چې د مسجدونو او مدرسو په جوړولو ، مسجدونو او مدرسو ته د فرش، برېښناء ، لوډسپيکر د برابرولو، د مدرسو د مدرسينو او زده کوونکو لپاره د هر ډول مادي او لوژيستيکي امکاناتو د برابرولو په لاره کې هر ډول مرستې او همکارۍ وکړي،

له پرېکړه ليك وروسته د خوست والي عبدالجبارنعيمي له لوري په راغلو ديني عالمانو يو شمېر ډالۍ ووېشل شوې، چې په دې ډاليو کې قرآن شريفونه ، جاي نمازونه ، کالي او نغدي مرستې شاملې وې.

کله هم چې د ډاليو د وېش پروګرام پای ته ورسېده ، نو ټولو ګډونوالو په هغه غرمنۍ کې برخه واخيسته ، کومه چې د ولايت مقام له لوري برابره شوي وه.

د يادونې وړ ده ، چې په لومړي ځل په خوست ولايت کې په دومره زيات شمېر ديني عالمان له دولت سره د همکارۍ په موخه د يوې غونډې په ترڅ کې راټوليږي

همدارنګه په دې وروستيو کې د ولايت د رهبرۍ د ځانګړيو نوښتونو له امله هغه علماکرام هم دولت ته ورمات شول ، چې په ځو کالونو کې يې دولتي اداره نه وه ليدلي .

همدارنګه له ټاکنو څخه دوه ورځې وړاندې هم له مخورو ديني علماوو سره په پرله پسې توګه د ټاکنو د ښې ترسره کېدو په خاطر ناستې تر سره شوې . په يادو ناستوکې سربېره پر ټاکنو د اسلام له نظره د غلاوو، ناروااوو ، انسان وژنې ، تښتونې او نشه يي توکو د استعمال په اړه د مبارزې په لارو چارو هم رواني او اوږدې خبرې وشوې ، او همدا راز د سولې د ملي مشورتي جرګې د پرېکړو او تصاميمو څخه د ننګې او ملاتړ په خاطر داسې ورته غونډې د ښاغلي نعيمي تر مشرۍ لاندې د جوزا د مياشتې په ١٢مه نېټه د ولايت د ٣٢٠ تنو مهمو شخصيتونو او همدا راز د مدني ټولنو له استازو او په همدې ترتيب د ولايت په ټولو ولسواليو کې ترسره او هغوی ټولو د دې پروسې د ګړنديتوب او عملي کولو کې خپل غوڅ ملاتړ اعلان کړ، په همدې ترتيب د ښاغلي نعيمي په نوښت د چنار دوديزه مشاعره د چنار د سولې مشاعرې په نوم ونومول شوه.

د استادانو ، ښوونکو او محصلينو سره ليدنې او کړنې :

د خوست ولايت اداره وايي، چې پوهنې او زده کړې ته وده ورکول يې غټه کاري موخه ده .

نوموړي رهبرۍ د ښوونې او روزنې برخه ډېره مهمه او اړينه بولي. ځکه نو په دې ټينګار کوي ، چې ياده برخه بايد ډېره فعاله ، ژوندۍ ، پرمختللې او پياوړې جوړه کړو.دوی وايي زموږ به هڅه او تلاش دا وي ، چې د ښوونکود ظرفيتونو لوړولو لپاره لازمه زمينه برابره کړو ، تر څو زموږ اولادونو ته په ډېره ښه توګه زده کړه ورکړي.همدا شان وايي ، په ټولو امکاناتو به هڅه کوي ، د پوهنې د غوړېدا او پراختيا په موخه وړ او لازم کارونه ترسره کړي.خوست والي د خپل راتګ په لومړيو ورځو کې د خوست د شيخ زايد پوهنتون ته د لمړيز کال د ورې په دووېشتمه نېټه ورغی،او په هغو مراسمو کې يې ګډون وکړ، چې د طب پوهنځي څخه د پنځوېشتو په شاوخوا کې د ځوانو ډاکټرانو د فراغت په وياړ جوړ شوي و.چې په هغې مراسمو کې يې د پوهنتون محصلين خپلې راتلونکي ته متوجه او بيداره کړل.

دوی ته په خبرو کې د خوست والي عبدالجبارنعيمي وويل تاسو بايد خپل دين ، هېواد او مسلك ته صادق او رښتيني ووسئ. او د خپلو ولسونو تورسريو ته د خپلو مورګانواو خويندو په رقم وګورئ او تداوي يې کړئ.

همداشان يې د 1389 کال د غوايي په پنځه وېشتمه نېټه د خوست د شيخ زايد پوهنتون له مشرتابه او ټولو استادانو سره ځانګړي لويه غونډه وکړه.په غونډه کې د پوهنتون په لاسته راوړنو او همداشان په يو شمېر ستونزو هر اړخيزې خبرې وشوې.خو ست والي په ياده غونډه کې د نورو مسايلو او خبرو تر څنګ دوی ته ډاډ ورکړ، چې د پوهنتون په غني کېدو او پياوړتيا کې به ورسره د يوه خادم په توګه هر ډول هلې ځلې او همکاري کوي.

همدارنګه د دې ولايت رهبرۍ د لا هڅونې په موخه د ښوونځيو د ښوونکو او زده کوونکو سره نيغ په نيغه له نېږدې ليدلي او کتلي دي.او ددوی د ستونزو او مشکلاتو څخه يې ځان خبر کړی او د حل په برخه کې يې په هلو ځلو بوخت دی.

همداراز خوست والي د خپل راتګ په لومړيو ورځو کې  په خوست کې د يو شمېر شته ستونزو او هغې ته د حل د لارو چارو د پيدا کېدو په مناسبت  د پوهنتون د مشرتابه او ټولو استادانو سره ځانګړې هر اړخيزه ناسته تر سره کړه ، د هغې اړين مالومات داسې دي !!!

راټولېدنه داستاد قاري حسام الدين رحيم زي له خوا د قران پاك  دمباركوايتونوپه تلاوت پيل شوه.

وروسې د شېخ زايدپوهنتون رئيس دوكتورګل حسن وليزي د پوهنتون په تاريخچه ،لاسته راوړنو او ستونزو وينا وکړه، او ويې ويل د شېخ زايد په پوهنتون کې اوس وخت۲۸۰۰  محصلين په بېلابېلوپوهنځيوکې د۱۳۵په شاوخوا کې د استادانوله خوا د زده کړې په ورکولو بوخت دي .ښاغلي وليزي زياته کړه اوس وخت کې د انجونولپاره د ليليې ودانۍ د کارلاندې ده،چې لګښت يې د نشه يي توکو سره د مبارزې وزارت له لوري خوست ولايت ته د کوکنارو د نه کر لو په بدل کې له رالېږل شوي نغدي جايزې څخه دی .همداشان ده وويل اوسمهال چې د ودانۍ کارېې تر ډېره بريده بشپړېدو ته نېږدې دی،  هغه د طب پوهنځي محصلينولپاره د عملي زده کړې او ښې روزنې په موخه روغتون جوړول دي.

خو دوكتوروليزي د لاسته راوړنو په څنګ کې د ځينو اړتياوو څخه هم يادونه وکړه دده په خبره لکه:د يوه ښه غني کتابتون نه لرل ،د جمنازيم اوترانسپورتي وسايطونشتوالی او همدارنګه د ليليې لپاره د دوو نورو ودانيوکمبود هغه ضرورتونه دي چې له بده مرغه د تېرو دوو واليانوپه وجود کې نه دي پوره شوي .ده له اوسني والي ښاغلي نعيمي څخه په يادوبرخوکې د مرستې او همکارۍ هيله وکړه.

وروسې دخوست شېخ زايدپوهنتون د استادانوپه استازيتوب ډاکترجهان شاه د تدريسي چاروپه برخه کې هر اړخيزه مالوماتي وينا وکړه او له خوست والي يې ځانګړې مننه وکړه چې د پوهنتون سره يې دخپلې ژورې  مينې درلودلوپه موخه له استادانوسره ناسته  لري . وروسې

خوست والي ښاغلي عبدالجبارنعيمي وينا واوروله. ده په خپلوخبروکې وويل:

- ډېرخوشاله يم چې نن ورځ د وخت څخه په ګټه اخېستنه د خوست شېخ زايدپوهنتون له مشرتابه او ګرانواستادانوسره له نېږدې وينم.همدارنګه ده په خپلو خبرو کې دشېخ زايدپوهنتون د ودانۍ جوړېدل د متحده عربي اماراتودشېخ زايدکورنۍ له خوا د ښه نيت بېلګه وبلله .او له دوی يې مننه وکړه.ده همداشان استادانوته په خپلوخبرو کې وويل: شېخ زايد پوهنتون  هغه علمي موسسه ، هغه علمي مرکز او هغه ځوان پوهنتون دی چې په هېواد  او سيمه کې د لويو پوهنتونونو په قطار کې ځای لري، چې هر کال په سل ګونو ځوان او مسلکي  کدرونه د وران او ويجاړ هېواد او د جنګ ځپلو هېوادوالو د خدمت لپاره وړاندې کوي. همدا ډول استادان د معنوي پلار حيثيت لري، او په ټولنه او د ولسونو په منځ کې د زيات اعتبار درناوي،  قدر او عزت وړ بلل کيږي، هغوی ته هر څوك د معنوي پلار خطاب کوي او د قدر، او عزت په سترګه ورته ګوري.همداشان خوست والي زياته کړه شك نشته چې يوويشتمه پيړۍ  دودې ، پرمختياء ، ساينس او تکنالوژۍ دور دی، دادې  پوهې او قلم عصر دی ، چې ټول مشکلات او ستونزې د علم او پوهې په رڼا کې حل کيږي او ورته د حل لارې چارې لټول کيږي . چاچې د پوهې څراغ مړ ساتلی ، هغه او د هغوی ټولنه ډيره شاته  پاتې،  د فقر، لوږې، اقتصادي  ستونزو او راز رازمشکلاتو او مصيبتونو سره لاس او ګريوان ، همداشان د داسې ټولنو وګړي همېشه محتاج  او سرګردان وي، ولې هغه چا چې  د پوهې څراغ بل ساتلی پدې لار کې يې خواري او زحمت ايستلی، ليك لوست ته يې پاملرنه کړې د هغوی ژوند ښه او ټولنه يې له ټولو ناخوالو او بدبختيو خلاصه ده ، چې داسې ټولنې د سوکالۍ او پرمختګ لوړوپوړيوته رسيدلي دي.

- خوست والي ښاغلي نعيمي استادانوته وويل :ددې لپاره چې موږدپرمختللي ،اباد او سولئيزافغانستان څښتنان شو نو راځئ چې تېر هېر کړواو په نوي فکر په  پوره ريښتينوالۍ سره  کاروکوو.او که  خدای(ج) مکړه تاسو استادان دسياسي مفکورو ښکارشئ نو دغه نوی نسل چې د هېوادوالو د اميدسترګې ددوی په لوري دي په لوی لاس به مو خپل ځوان نسل په معنوي لحاظ وژلی وي .تاسو استادان الهي،ولسي او هېوادنی مسووليت لرئ چې خپل محصلين  په داسې روحيه وروزئ چې دخپل هېواد ،قانون ،ملي ګټو او همدارنګه په خپل ملي بيرغ مين کدرونه  وي ددغه علمي مرکز ابادول ،پرمختګ او بې طرفه ساتل ستاسو دروند مسووليت دی او زه د پوهنتون په هره برخه کې د يوه خادم په توګه درسره ملګری او  همکاريم .

د طبيعي پېښو په وړاندې د ولايت د رهبرۍ کړنې :

لکه څه ډول چې سږنی ۱۳۸۹ لمريز کال په ټول هېواد کې په طبيعي برخه کې يو ډول خونړی کال ؤ ، په دې معنا چې د سږ کال په جريان کې د هېواد په مختلفو ولايتونو کې د طبيعي ناورينونو په ترڅ کې ځاني او مالي تاوانونه واوښتل .

خوست هم له بده مرغه يو د هغو ولايتونو څخه وو، چې سربېره په مرکز يې اکثره ولسوالۍ د طبيعي ناورينونو له کبله سختې زيانمنې شوې
.

د ناورینونوپرمهال خوست والي عبدالجبارنعیمي په همغه وخت کې د ولایت په کچه اضطراري جلسه دایره کړه ، چې په کې سربېره پر ولایتي ریسانو ، مسوولینو په خوست کې د نړیوالې ټولنې ( یوناما) استازیو هم په کې ګډون درلود، او په دې غونډه کې یې د مرکزي دولت او ټولو ملي او بین المللي خیریه ټولنو نه د مرستو غوښتنه وشوه.

په جلسه کې په دې خبرې هم بحث وشو، چې څنګه کولای شو، د یوې دقیقې سروې له مخې متضررې کورنۍ او اصلي مستحقین مالوم کړو، او څنګه کولای شو، چې ورته اړینې مرستې راجلب کړو. تر څو متضررو کورنیو ته په خپل لازم وخت کې ورسیږي ، چې د ښاغلي نعیمي په لارښوونه د ولایت ټولو اړونده مسؤلینو ته جدي سپارښتنه وشوه چې د متضررینو دقیقه احصائیه دې راټوله تر څو په اړوند یې جدي اجراات او مرستې ترسره شي، چې نوموړو خپله دنده ژر تر ژره اجرا او مالومه شوه، چې د دوبې په موسم کې د بارانونو او سیلاوو له کبله لاندې زیانونه رسیدلي دي.

د سر زیان ۳۰ تنه، ټپیان ۵۰ تنه، ړنګ شوي کورونه ۷۷۴، زیانمن شوي کورونه ۳۰۰، د زراعتي ځمکو تخریب ۵۱۰۷ جریبه ، تخریب شوي فصل ۱۰۰۵۰ جریبه، د حیواناتو مړینه ۵۶۰، د سربندونو تخریب ۹۰۰۰ متره مکعبه او د استنادي دیوالو تخریب ۲۱۷۳۰۰ متره مکعبه

په دې برخو کې لازم تصمیمونه او پرېکړې ترسره شوې . او په اړه یې د وروستیو اجرااتو او مرستې کولو

په موخه مرکز کابل ته په رسمي مکتوبي شکل سره ولېږل .

او ضمناً هغه کم شمېر شته امکانات چې د خوست په ولایت کې موجود ؤ ، یو شمېر متضررو کورنیو ته ور ورسول شول . تر څو هغه بیړنۍ اړتیاوې یې تر یوه بریده ور حل کړي .

همداشان د ورځو په جریان کې د مېشتو نړیوالو ځواکونو سره د متضررو کورنیو په مناسبت د خوست ولایت د نظامي ارګانونو دهمغږۍ مرکز کې د خوست والي نعیمي تر مشرۍ لاندې د خوراک او پوښاک په برخو کې د مرستې کولو په نیت اضطراري جلسه روانه وه ، چې په همدې وخت کې خوست والي عبدالجبارنعیمي ته د ټېلفون له لارې د بېلابېلو ځایونو څخه د بېړنیو مرستو کولو هیلې او غوښتنې وشوې . چې د سختو سېلابونو د راوتو له امله ګڼ شمېر خلک د اوبو په منځ کې ایسار پاتې دي .

په همدې وخت کې خوست والي عبدالجبارنعیمي د بهرنیو او کورنیو امنیتي ځواکونو له مسوولینو څخه وغوښتل ، چې باید په عاجله توګه ایسارو شویو خلکو ته ځانونه وروړسول شي ، تر څو زموږ په مرسته اوکومک سره خدای (ج) ورته خلاصون ورکړي . همغه وو، چې ملي اردو ، ملي پولیس ، سرحدي پولیس او په خوست کې نړیوال ځواکونه په بېړنۍ توګه د پېښې ځای ته وروړسېدل . افغان ځواکونو د خپلو موټرونو په واسطه او بهرنیو ځواکونو د چورلکو له لارې په کم وخت کې ۱۴۰ داسې کسانو ته خلاصون ورکړ ، چې د دوی کورنیو دا تمه او توقع نه درلوده، چې ایسار شوي غړي به بیا هم له دوی سره ژوندي ووسي.

البته دا په خوست ولایت کې لومړی ځل وو، چې افغان او بهرني ځواکونه په سېلابونو کې بند زیات شمېر خلک د دوستۍ او پوره همغږۍ په چوکاټ کې د ننه یاد وياړلی مرستندویه ګام پورته کوي .چې دغه ګام په دې ولایت کې د سالمې رهبرۍ په شتوالي دلالت کوي .

فرهنګي او مطبوعاتي پرمختګونه :

کله هم چې خوست والي عبدالجبارنعیمي دې ولایت ته د والي په توګه راغلی دی، نو ددې ولایت د مختلفو فرهنګي او مدني ټولنو سره یې ډېرې وخت ناستې ترسره کړي دي.

په یادو ناستو کې یې د فرهنګي وضعیت د ښه کېدو په موخه د یو شمېر فرهنګیانو سره د یوې ازادې دېموکراټیکې فضا په شتون کې بحث او نظریات یې تبادله کړي دي.

چې د نوموړيو ناستو څخه په فرهنګي ډګر کې د پام وړ ګټې اخيستل شوي دي.

د بېلګې په توګه په خوست کې د چنار کلنی لويې مشاعرې جوړول دي .

په دې خاطر چې نوموړي مشاعره ډېره بريالی او خوندوره تر سره شوي وي ،نو ددې ولايت د رهبرئ د ټولو فرهنګي ټولنو ، فرهنګي شخصيتونو ، مدني ټولنو د استازيو، ژورنالستانو او ليکوالانو سره ګډې ناستې ترسره کړې، چې په پايله کې يې دوی ټول سره په يوه خوله او همغږي کړل.همدا دليل ؤ ، چې نوموړي مشاعره (د چنار د سولې مشاعره) ډېره خوندوره او په برياليتوب سره ترسره شوه. چې په کې د هېواد د بېلابېلو ولايتونو په ګډون د خيبر پښتونخوا شاعرانو او ليکوالانو هم برخه درلوده.

وړاندې له دې مشاعرې څخه د خوست والي عبدالجبارنعيمي په کور کې دده له خوا د ټولو مېلمنو او خوست مېشتو شاعرانو او د شعر مينه والولپاره د غزل شپه پروګرام جوړ شوی ؤ ، چې په کې شاوخوا څلورسوو کسانو ګډون کړی وو.

غواړو دلته د والي عبدالجبارنعيمي د وينا کولو متن راولېږدوو :

ښاغلي عبدالجبارنعيمي په خپلو خبرو کې وويل: د ډېر وياړ او خوشالی ځای دی، چې د افغان اصيل کلتور د غوړېدا، ودې او ددې ولايت د ملي هويت ، کلتور ، ملي دودونو د ژوندي ساتلو او د لاپياوړتيا په موخه نن د خوست په تاريخي ولايت کې د چنار د سولې تر عنوان لاندې دوديزه مشاعره جوړيږي.))

والي نعيمي زياته کړه، که د تاريخ پاڼو ته يو ځغلنده نظر وکړو، پخوا به دا ډول مشاعرې دکليو او ولسوالۍ په کچه ترسره کېدلې، خو له نېکه مرغه د شاعرانواو ليکوالانو په زياتيدو، د دوی په هلوځلو او همداشان د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت په ځانګړي پاملرنه دادی ، اوسمهال نه يوازې د ولايت او هيواد په کچه ، بلکې د خيبر پښتونخوا د شاعرانو په ګډون پراخې ادبي غونډې او مشاعرې جوړيږي .

والي نعيمي زياته کړه ، دا چې زموږ ګران هېواد او ولسونه جنګ جګړو سخت ځپلي ، او د نورو ورانيو تر څنګ يې د افغان ولس ملي يووالي ته هم زيان اړولی دی، نو دې دا ډول مشاعرو او لويو ناستو جوړېدنه به د جنګ ځپلي هېواد او ولسونو لپاره دسولې، وروروليء او يووالي لپاره خورا مثبت پيغام وليږدوي.

نوموړي دسولې ملي مشورتي جرګې پرېکړو او تصميمونو ته په اشارې سره له ټولو شاعرانو او ليکوالانو وغوښتل، چې په خپلو شعرونو کې د سولې په اړه خپل ولس ته پيغام ورکړي.

نوموړي وويل: چې دا د شاعرانو ستر اسلامي او افغاني رسالت دی ، چې د شعر په ژبه خلکو ته د وطن پالنې ، علم او فرهنګ د پياوړتيا چل او هنر وروښايي. خوست والي نعيمي شاعرانو ته په وينا کې وويل، چې تاسو د ټولنې يو بااحساسه قشر ياستئ او کولای شئ، چې ټولنې ته د سولې په راوستلو کې خپل رول په اغېزمنه توګه ادا کړئ.او شاعران ورونه دې د خپلو مسووليتونو په درلودلو سره هڅه وکړي، د سوله ايز شعر په ژبه دې د سولې، امن راوستو، پوهنې ته په پراختيا او د ملي پخلاينې د پروسې د چټکتيا په برخه کې خپلې هلې ځلې ګړندی او چټکې وساتي، ترڅو هېوادوال مو په ټولنيز چاپيريال کې د ژوند له خوږو خوند واخلي .

همداشان خوست والي نعيمي زياته کړه ، سږ کال په خوست کې د چنار دوديزه مشاعره په داسې حال کې لمانځل کيږي، چې د سولې ملي مشورتي جرګه چې په هېواد کې د دايمي سولې او ثبات د ټينګښت ، د جنګ او جګړو څخه د مخنيوي، او همداشان د ملي پخلاينې د بهير د ګړنديتوب لپاره په کابل کې جوړه شوې وه، نو زموږ هېواد کې د جرګې ارزښت او اهميت ته په پام سره له تاسو ټولو څخه هيله کوم ، چې د روان کال د چنار دوديزه مشاعره دې د چنار د سولې د مشاعرې په نوم ونومول شي.

خوست والي په پای کې د هغه کميسيون له غړو هم مننه وکړه چې د مشاعرې دجوړېدو په برخه کې يې نه ستړي کيدونکي منډې تړې کړې وې.او همدارنګه يې د هغو ملي سوداګرو، د ولسي جرګې له وکيلانو، په دوبی کې د افغان مېشتو مسافرو څخه هم د زړه له کومې مننه وکړه ، چې د مشاعرې د جوړېدو په برخه کې يې مالي مرستې کړي دي

همدارنګه د ده په راتګ سره د ولايت مقام مطبوعاتي دفتر څخه د ولس آرمان مياشتنی رنګه مجله پيل شوه، چې هره مياشت يو ځل د ولايت په کچه د سياسي ، اقتصادي ، امنيتي ، ټولنيزو او کولتوري مالوماتو سره د ولس لاسونو ته رسيږي .

همداشان ددې تر څنګ د ولايت د ټولو نړيوالو ، سيمه ايزو او ځايي رسنيو د مسوولينو او خبريالانو سره په وار ، وار د ولايت مقام په ودانۍ کې ګډې ليدنې او کتنې ترسره کړې دي. همدارنګه د دوی د سالمې هڅونې او خوشاله کېدو په خاطرد ولايت د مشرتابه له لوري ځانګړې مېلمستياوې برابرې شوي دي.

سپورټ :

دغه سیالۍ چې د روان لمریز کال د زمري په لسمه نېټه د ولایت مقام په مالي لګښت او د خوست د المپیك امریت په چوکاټ کې د لسو لوبډلو تر منځ روانې وې ، په لړ کې یې د ولسوالیو لوبډلې ماتې او د خوست مرکز دوه لوبډلې پای لوبې ته ووتې.

یادې پای لوبې ته خوست والي عبدالجبارنعیمي ،ورسره دده کاري ډله او ددې ولایت د ځینو ادارو رئیسان ورغلي وو.

په پیل کې خوست والي عبدالجبار نعیمي ته د لوبغاړو او نندارچیانو له خوا د پام وړ هر کلی وشو. او د المپیك آمر عزیزملنګ له لوري د لوبغاړو په استازیتوب خوست والي غاړې ته د سپورت سره دده د ځانګړي مینې او پاملرنې په ویاړ مېډال واچول شو.

ملنګ زیاته کړه ، د والي نعیمي په وجود کې په ډېره کمه موده کې د نورو پرمختیاوو سره ، سره اوس دادی ، په دې ولایت کې د امنیت ښه والی تر دې کچې راورسېد ، چې یو والي سره د خپلې کاري ډلې او رئیسانو .په ډاډمنه توګه د لوبغاړو په منځ کې ګډون کوي.نوموړ ي وویل ، اوس مهال د ولسونو او په ځانګړي توګه د خوست د ځوانانو سره په دې ولایت کې د ښه امنیت ، پرمختګ او نظم او دسپلین په برخه کې نوي هیلې راټوکېدلي دي.

ورپسې خوست والي عبدالجبارنعیمي په یادو مراسمو کې لوبغاړو او د لوبو مینه والو ته خبرې وکړې.

والي نعیمي زیاته کړه، زه ډېر خوشاله یم ، چې په خوست کې لوبغاړي ډېر او پیاوړي دي، نوموړي وویل، چې زموږ د مالوماتو له مخې تر اوسه په دې ولایت کې د المپیك په چوکاټ کې (۱۵۰۰۰)لوبغاړي رسمي ثبت شوي دي.

والي نعیمي په خپلو خبرو کې وویل ، که له یوې خوا په لوبو کې خوشالي او ښه روغتیا ده، نو له بل پلوه دا لوبې ددې باعث ګرځي ، چې په ځوانانو کې مینه ، محبت او یووالی رامنځته او پیاوړی کوي یې او همداشان ځوانان د بدمرغه نېشو څخه لېرې ساتي..ده په لوبغاړو غږ وکړ، چې نور همزولي او کشران هم د زده کړې حاصلولو تر څنګ د سپورت لارې ته وهڅوي.

والي نعیمي دوی ته ژمنه ورکړه ، چې ولایتي اداره او حتا د افغانستان اسلامي جمهوري دولت یې ټول په بشپړه توګه د لازم حمایت په منظور تر شا ولاړ دی.

او ویې ویل ، په ټولو امکاناتو به هڅه کوم ، چې تاسې او ستاسو د سپورت نورې برخې دومره پیاوړې شي، چې نه یوازې د هېواد بلکې د سیمې په کچه سترې بریاوې خپلې کړي. همداشان خوست والي عبدالجبارنعیمي د یادو لوبغاړو او ورزشکارانو څخه وغوښتل ، چې راشي او د خوست په دولتي ادارو کې د خپلې وړتیا او زده کړې سره سمې دندې تر لاسه کړي. او ژمنه یې ورکړه، چې په ټولو هغو ادارو کې چې کمبودات لري ، ورسره به د مقررۍ په برخه کې لازمه مرسته او همکاري کوي.

د پای لوبې بشپړاوي وروسته د خوست والي عبدالجبارنعیمي په لاسونو دواړو لوبډلو ته برابر شوي کپونه ورکړل شول. او همداشان د والي له خوا هر لوبغاړي ته یو ، یو جوړ کالي او زر ، زر افغانۍ د جایزې په توګه ورکړل شوې، او ددې تر څنګ د المپیك له لوري خوست والي نعیمي ته د المپیك نښان او د لوبغاړو له خوا یو کپ د ډالۍ په توګه ورکړل شول..

د یادولو وړده ، خوست والي عبدالجبارنعیمي د والیبال د جمنازیم په لیدلو سره لوبغاړو ته وویل، څومره لګښت چې ددې جمنازیم په منظمه رغونه راځي ،تاسو یې راته په ډاګه کړئ، چې د المپیك مسوول او د لوبغاړو له لوري ورته د دریو لکو افغانیو وویل شول ، چې خوست والي عبدالجبارنعیمي د یاد جمنازیم د رغول کېدو په منظور درې ،لکه افغانۍ ورکړې.

همدارنګه والي عبدالجبارنعیمي د ولس سره د خپلې شته خواخوږۍ او همدارنګه د دوی حکومت ته د دوی د توجه د راړولو په خاطر په خوست کې د محصلینو له لوري د جوړ شوي وینې بانک ته د یو لړ مراسمو په ترڅ کې د خپل ځان څخه وینه ورکړه ، د تر سره شویو مراسمو په ترڅ کې د خوست والي د پیغام ورکولو یوه برخه ستاسو د لوستو په موخه لیکو : په سر کې د خوست د شېخ زاید پوهنتون

محصل او د ویني د بانك موسس داود افغان خبرې وکړې.

نوموړي وویل کله چې یوه ورځ د خوست د لکنو له سیمي یو په ګولی ویشتل شوی ځوان ملکي روغتون ته د درملني په موخه راوړل شوی ؤ . نو د ده د ګروپ وینه په شاوخوا اتیاوو کسانو کې هم ورسره برابره نه شوه .نېږدې ؤ، چې دغه ژوبل شوی ځوان خپل ژوند د ویني د نه پیدا کېدو له خاطره له لاسه ورکړي.

نو همدا لامل شو، چې ده او ورسره ملګرو یې هوډ وکړ، چې په خوست کې د ویني یو غني بانك پرانیزي.

ده له ټولو خلکو څخه هیله وکړه ، چې په دغه نېکه لاره کې یې په وینه ورکولوسره ملا وروتړي.

له ده وروسته خوست والي عبدالجبارنعیمي وینا واوروله

والي نعیمي په خپلو خبرو کې زیاته کړه .ما چې په لومړۍ کې د محصلینو څخه ددې ګام خبرې اورېدې، نو ما فکرکاوه ، چې دا محصلین د زړونو د پاچاهۍ خبرې کوي .خو په لنډ وخت کې دوی په خپلو هڅو او همتونو سره وکولای شول، چې په هغو ټولو ملي روغتیایي آرمانونوکې بریالي راووځي. نه یوازې په خوست کې ، بلکې ددغې لړۍ لمنې ددوی له برکته په هلمند ولایت کې هم په خورېدو شوې .

خوست والي زیاته کړه ، هر څوك چې کلك هوډ او قوي عزم لري ، کولای شي ډېر لوړ کارونه ترسره کړي.

والي نعیمي وویل ، نوموړي محصلین د بیا ځل لپاره دفتر ته راغلل ، او له ما څخه یې بانك ته د ویني ورکولو غوښتنه وکړه، نو ما دوی ته ځواب ورکړ، چې زه به خپله وینه د دغه بانك له لارې هغه چاته دورکولو په موخه ورکړم ، چې ورته اړتیا یې وي.خوست والي وویل ، زه د دوی له دغه اجرااتو او ملي کړنو څخه ډېر خوشاله یم .والي نعیمي په ټولو ځوانانوغږ وکړ، چې ددغې پروسې د غني کېدو او پیاوړتیا ، همداشان د خپلو محتاجو خلکو سره خپلې مرستې وکړي .خوست والي هیله وښوده ، چې که چېرې دا ډول قرباني له خپلو خلکو سره دوام پیداکړي، نو موږ به د نړۍ د غټو پرمختللو او بااحساسه قومونو په کتار کې ودرېږو.والي عبدالجبارنعیمي د شېخ زاید پوهنتون له رئیس او همدارنګه د عامې روغتیا رئیس څخه غوښتنه وکړه ، چې ددغې پروسې په چټکتیا کې هر ډول هلې ځلې په کار واچوي ، تر څو له دغه بانك څخه زموږ غریب ، دردېدلی عام ولس ګټه پورته کړي.ده په ځانګړي توګه له عامې روغتیا رئیس څخه وغوښتل، چې د ویني د ضایع کېدو د مخنیوي په موخه دې پوره نه ستړي کېدونکي هلې ځلې په کار واچوي .

د خوست ولایت لپاره د بیارغوني پنځه کلن ستراتیژیك پلان جوړول:

د دې په خاطر چې په خوست کې هر ډول بیارغنیز کارونه د اړتیاوو، لومړیتوبونو او د یوه منظم پلان او نقشې له مخې ترسره شوي وي، نو په همدې موخه د ولایت رهبرۍ تصمیم ونیوه، چې د دې ولایت لپاره باید یو هر اړخیز ، جامع او د ولسونو د اړتیاوو او غوښتنو په نظر کې نیولو سره د بیارغوني پنځه کلن ستراتیژیك پلان جوړ شي.

په همدې خاطر د ځنګانې په درویشتمه او څلورویشتمه نېټه ددې ولایت د دولتي مېلمستون په ودانۍ کې یو دوه ورځنۍ ورکشاپ جوړ کړ.ددې لپاره چې پلان ښه عملي شوی وي ، په کې د خوست ولایت ټولو رئیسانو ، ولسوالانو ، امنیتي مسوولینو، د ولایتي شورا غړو، د پوهنتون استادانو ، د دې ولایت مخورو قومي مشرانو، دیني علماکرامو ، د مدني ټولنو مسوولینو ، ژورنالستانو، ملي سوداګرو او د نړیوالو مرستندویه ټولنو استازیو ګډون کړی وو.په نوموړي ورکشاپ کې د یوې منظمې او دیموکراتیکې فضا په شتون کې رغنده نظریات ، وړاندیزونه ، غوښتنې او ددې ولایت اړتیاوې په ګوته شوې.

له دې وروسته یوه بله دویمه دوه ورځنۍ ناسته جوړه شوه ، چې په کې د لومړني ورکشاپ یادو ګډونوالو بیا هم په خپل ګډون سره د خوست ولایت لپاره پنځه کلن ستراتیژیک پلان نهایي کړ. په نوموړي پلان کې شاوخوا درې سوه (۳۰۰) مختلف النوع ټولګټې بیارغنیزې پروژې ځای شوي ، چې د پنځو کالونو په موده کې د نوموړیو پروژو د تطبیق لپار ه شاوخوا ۵۰۰ مېلیونو امریکایي ډالرو ته اړتیا ده .

د یادونو وړ ده ، چې نوموړی ورکشاپ ډېر د پام وړ په دې هم ؤ، چې له یوې خوا د نورو قشرونو د استازیو تر څنګ په لومړي ځل د دیني علماکرامو مخورو استازیو هم په کې فعاله ونډه اخیستې وه. او له بلې خوا د ښاغلي نعیمي مهم نوښت او ابتکار دا وه چې د دې پلان په جوړلو کې یې د خوست میشته ولسونو استازي شریك او د دوي په ګډ تفاهم، همغږۍ او د خوست د ولسونو لومړني اساسي اړتیاوې پکې شاملې، چې دا جامع او هر اړخیز پلان د ولایت د ټولو قومونو او قبایلو او عام ولسونو د تائید وړ او د دوی د منني او رضایت وړ وګرځید

په دې ولايت کې د بيارغونې بهير:

په خوست ولايت کې يو څه بيارغنيز کارونه شوي دي ، خو د ولايت رهبري غواړي دلته ډېر او د پام وړ کارونه وکړي او همداشان داسې پروژې په کار واچوي ، چې بنسټيزې او حياتي ارزښت ولري .د پخوانيو شويو کارونو د کيفيت چارې کمزورې او د ولس له نيوکو سره مخ دي. ځکه ډېر ځله يو قرارداد په دويم او يا هم په دريم لاس خرڅ شوی دی.چې په دې سره ربښتيا هم د يادې پروژې د کار د کيفيت چارې په پای کې سمې او مؤثرې نه وي .

د ولايت رهبرئ د تېرو دريو مياشتو راپدېخوا په دې اړوند هوډ وکړ، چې په دې ولايت کې چې د بيارغونې کارونه کيږي، نو د کار په جريان کې به يې جدي نظارت او څارنه کيږي. او همداشان به په هېڅ صورت ورته دا د منلو وړ نه شي ، چې د يوې پروژې قرارداد په دويم او يا هم په دريم لاس خرڅ شي.او د دريو مياشتو په کمه موده کې د دې ولايت د ادارو لپاره د جوړ شوي اداري کمپلکس ودانيو لپاره بېلابېل پروګرامونه او طرحې جوړشول، تر څو د د ې په واسطه په ياد کمپلکس کې شته اړتياوې او نيمګړتياوې رفع کړي او نور ورڅخه د ولايت د مقام په ګډون ټولې اړونده ادارې رسمي ګټه واخلي.

چې په همدې موخه يې د څنګاښ په ديارلسمه نېټه د پاخه او اساسي سړك جوړولو کار د يو لك پنځه اتيازره امريکايي ډالرو په ارزښت د خوست د PRT په مالي لګښت پيل شو.چې يو کيلومتر اوږدوالی او اووه متره سور لري. ياد سړك به د هلال رحمت شرکت له لوري د پنځوڅلوېښتو ورځو په موده کې ګټې اخېستنې ته وړاندې شي. د يادولو وړ ده ، چې ددې سړك د جوړولو تر څنګ به د کمپلکس په د ننه کې نور د اړتيا وړ کارونه هم پيليږي.

په ولسواليو کې د قومي شوراګانو جوړېدنه :

خوست والي عبدالجبارنعيمي په نېږدې ورځو کې پلان لري ، چې د دې ولايت په ټولو اړونده ولسواليو کې قومي شوراګانې جوړې کړي.چې نوموړې شوراګانې به په خپلو اړونده ولسواليو کې د قومي شخړو د هوارې ، د بيارغونې او د ښوونې او روزنې د پروسې سره مرسته او د ولس په خير کارونه به سرته رسوي.

د يادو شوراګانو کار عملاً د تنيو د ولسوالۍ څخه پيل شو ، ورپسې د ځاځي ميدان او د نادرشاه کوټ ولسوالۍ لپاره د خوست د دولتي مېلمستون دسولې په کور کې د يادو ولسواليو په سلګونو قومي مشرانو او ديني علماکرامو ګډون درلود. او د خپلې ولسواليو لپاره يې په ډېموکراتيکه فضا کې ټاکنې وکړې او د ټاکنو له لارې څلوېښت کسيزه شوراګانې جوړې کړې، چې لړۍ به يې تر نورو ولسواليو هم وغځيږي.

غواړو ، اوس د اړتيا له مخې د تنيو ، نادرشاه کوټ او ځاځي ميدان ولسواليو د شوراګانو د جوړېدو په هکله لږ شان تفصيلي راپور وليکو.

لومړۍ هم د تنيو ولسوالۍ قومي سيمه ايزه شورا :

هغه غونډه چې د خوست ولايت د مېلمستون ودانۍ د سولې په کورکې د تنيو د ولسوالۍ په کچه د سيمه ايزې ولسي شورا د جوړېدو په مناسبت جوړه شوې وه ، په کې خوست والي عبدالجبارنعيمي ، د ملي اردو مرستيال بريدجنرال رازمحمد اورياخېل ، د تنيو ولسوال دولت خان قيومي، د يادې ولسوالۍ په سلګونو قومي مشرانو او ديني عالمانو ګډون کړی وو.

راټولېدنه د پاك قرآن د مبارکو آيتونو په تلاوت سره پيل شوه.

ورپسې د تنيو ولسوال دولت خان قيومي د دي ولسوالۍ د قومي جوړښت ،دودونو، يووالي او جغرافيايي موقعيت په اړوند خبرې وکړې.

قيومي په خپلو خبرو کې وويل ،لکه څرنګه چې دلويې پکتيا سترقومونه چې ځدراڼ او منګل لوړ او درانه دودونه او نرخونه لري،همداشان د تنيو قوم هم ورته قومي نرخونه لري.ده وويل: يادو نرخونو ته په کتو سره دد ې ولسوالۍ امنيت او خپل منځي ستونزې تر ډېره بريده د قومي

مشرانو او عالمانو له لوري حل شوي او حليږي.

وروپسې د تنيو د قوم يوه مشر رسول محمدتني د شورا د جوړېدو په هکله خوښي څرګنده کړه ، او ددې په جوړېدو يې هيله وښوده، چې دا شورا به وکولای شي، چې قومي جوړښت له سره پياوړی کړي.او په خپله سيمه کې به د امنيت او نورو بيارغنيزو کارونو په برخه کې رغنده رول ولوبوي.

له ده وروسته د نوموړي ولسوالی يوه ديني عالم قيمت خان زياته کړه، چې دا ډول شوراګاني کولای شي ، د دولت او ولس تر منځ راپيدا شوی واټن را کم او له منځه يوسي. ده په ټولو عالمانو غږ وکړ، چې په دې شوراګانو کې د زړه له کومې رغنده ونډه واخلي .تر څو زموږ ولس د شته ستونزو او کړاونو څخه خلاص شي.

وروپسې خوست والي عبدالجبارنعيمي وينا وکړه.او ويې ويل:

په ټولنه کې د نظام د پياوړتيا او د دولتي حاکميت د ټينګښت لپاره د ولسونو ونډه ډېره اړينه بلل کيږي.همداشان والي نعيمي زياته کړه ، په هغه کار کې چې صداقت ، يووالی او مينه وي ، نو په همغه کار کې به هميش لاسته راوړنې او پرمختګونه وي.

نوموړي وويل ، هر څوك چې په دولتي چوکۍ باندې دنده لري ، نو خپل مسووليت بايد د قانون په چوکاټ کې خپلو خلکو ته د خدمت په منظور تر سره کړي.تر څو د ولس باور او خوشالی لاسته راوړي.والي نعيمي په دې خفګان ښکاره کړ، چې ځينې مامورينو پخوا د ورسپارل شويو چوکيو څخه ناوړه ګټې اخيستې دي ، چې ولس له هغوی څخه د کرکې او نفرت خبرې کوي.ده وويل موږ به له خپلو ادارو څخه دا ډول لاسونه لنډوو او هيڅوك به په ورته شکل پرې نږدو، چې له دولتي دندې څخه شخصي او ناوړه ګټه پورته کړي.

خوست والي نعيمي په خپلو خبرو کې زياته کړه ، چې په هېواد کې د ولسمشرۍ ، ولسي جرګې ، مشرانو جرګې او ولايتي شوراګانو د جوړېدو په موخه ټاکنې ترسره شوې، چې دا په افغانستان کې د ولسواکۍ د پياوړتيا پر لوري د ګامونو اخيستل دي. همداشان خوست والي نعيمي پر مشرانو غږ وکړ، چې د راتلونکو ولسي جرګې په ټاکنو کې خپل خلك راوبښي او په کې فعاله ونډه واخلي .ده وويل ، چې د څه مودې راهيسې د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د لوړ مقام او د سيمه ايزو ارګانونو د خپلواکې ادارې د پاملرنې په اساس په هېواد کې د سيمه ايزو شوراګانو د جوړېدو لړۍ پيل شوه .چې د لومړي ځل لپاره دا پروګرام د ميدان وردګو په ولايت کې پيل شو ، چې له دې وروسته يې نورو ولايتونو ته هم لمن وغځېده .

والي نعيمي وويل ، چې دادی ، له نېکه مرغه د يادو شوراګانو د جوړولو د لړۍ لمن تر خوسته هم راورسېده ، چې په دې ولايت کې مو د لومړي ځل لپاره د تنيو د ولسوالی څخه پيل کړه.ده زياته کړه ، ددې جرګو جوړونه او پياوړتيا د خوست په تاريخي ولايت کې د پخوانيو دودونو او نرخونو له سره راژوندي کول او پياوړي کول دي.

والي نعيمي يادو مشرانو ته وويل ، تاريخ ثابته کړيده ، چې په پکتيا ، پکتيکا او خوست ولايتونو کې جرګې او مرکې يو لوی تاريخي ارزښت او اهميت لري.

چې تل پرې ددې ولايتونو مشرانو خپل منځي او دولتي مشکلات له همدغې لارې څخه حل او فصل کړي دي.ده هيله وښوده چې دا ډول شوراګانې به وکولای شي، په خپلو ولسواليو کې د ولسونو تر منځ شخړې ، دعوې او ستونزې د قومي دودونو او عنعناتو په چوکاټ کې حل کړي.ده همدارنګه په ټولو مشرانو او عالمانو غږ وکړ، چې دد ې شوراګانولپاره د استازيو ټاکل ستاسو صلاحيت او مسووليت دی. هيله ده چې ورته داسې استازي او مشران وټاکۍ ، چې ستاسو په سيمه کې مخور او بانفوسه وي.تر څو ددې شورا له لارې ستاسو په ولسوالی کې ورسپارل شوې ولسي دنده په ښه شان ادا کړي.والي نعيمي دغه شوراګانې اړينې او ګټورې وبللې ، ده وويل دا شوراګانې د دولت او ولس تر منځ د پله حيثيت لري.د شورا استازي به د خپلې ولسوالی د اوسېدونکو ستونزې او مشکلات د ولسوالی او ولايتي ادارې چارواکو ته رالېږدوي.او د دولت غوښتنې به ولس ته رسوي.ده دا هم وويل چې ددې شوراګانو ځانګړيتوب په دې کې دی، چې منظم تشکيل به لري، د دندو په اجرا کې به د وظايفو لايحه لري، غړي به يې ولس ته ځواب ويونکې وي، د خپلو کړنو او اجرااتو راپور به ولس ته ورکوي. او دولتي چارواکي به د ولسونو د ستونزو د حل لپاره د شوراګانو غړيو ته ځواب وايي.همداشان خوست والي دا هم زياته کړه چې نوموړي شوراګانې به منظمې غونډې کوي، د خلکو په عرايضو ، وړانديزونو او ستونزو باندې به غور کوي . او هغه به دولتي ادارو ته سپاري ، او له دولتي چارواکو څخه به بيا د هغې راپور هم غواړي .خوست والي عبدالجبارنعيمي د خپلو خبرو په وروستی برخه کې يو ځل بيا له نوموړو مشرانو او ديني علماکرامو څخه هيله وکړه چې يادې شورا ته دې د غړيتوب په خاطر وړ ، صادق ، باوري او زړه سوانده استازي ور وپېژني .تر څو په راتلونکې کې ستاسو لپاره د ښو او صادقانه خدمتونو مصدر وګرځي او په خپل وخت ستاسو هر ډول ستونزې در حل کړي.

له خوست والي وروسته د افغانستان د ټولنيزې پراختيا پروګرام يو تن غړي جنرال بختوجان د شوراګانو د تخنيکي برخې په اړوند خبرې وکړې.ده وويل هغه ولسوالی چې لومړۍ درجه وي ، ورته پنځه څلوېښت تنه ، دويمه درجه ولسوالی ته څلوېښت او دريمې درجې ولسوالی ته پنځه دېرش تنه تشکيل منظور شوی دی.ده وويل دا چې د تنيو ولسوالي دويمه درجه ده ، نو په همدې بنسټ ورته څلوېښت کسان په تشکيل کې

ورکړل شوي دي.

له ده وروسته په ډیموکراتیکه فضا کې د شورا د استازیو لپاره ټاکني وشوې .چې ورته څلوېښت کسان غړي ور وپېژندل شول او له دې څخه یې بیا هم د رایو په اساس یو رئیس ، مرستیال او منشي وټاکل .

دویمه د نادرشاه کوټ په ولسوالی کې د ورته سیمه ایزې شورا جوړېدنه :

د شورا د جوړېدو په مناسبت په جوړه شوي غونډه کې د خوست والي عبدالجبارنعیمي ، د افغانستان د ټولنیزې پراختیا استازې جنرال بختوجان او ددې ولایت د نادرشاه کوټ ولسوالی اړونده په سلګونو قومي مشرانو او دیني علماکرامو په کې ګډون درلود.

ناسته د قرآن کریم د مبارکو آیتونو په تلاوت سره پیل شوه .ورپسې خوست والي عبدالجبارنعیمي پرانیځستونکي وینا وکړه ، والي نعیمي په خپله وینا کې د نادرشا ه کوټ ولسوالی مشرانو او عالمانو ته وویل :

ددې شوراګانو جوړولو موخې دادي ، چې په ولسوالیو کې دولتي حاکمیت ټینګ شي، ولسواکي پیاوړې شي او ورسره تر ټولو مهمه داده چې په ولسوالیو کې به د ولسونو شته

ستونزې هوارې او حل وفصل شي.

ده په خبرو کې یادو مشرانو ته وویل ، چې ددې شورا په جوړېدو سره به ستاسو اړیکې له ولسوالی او د ولایت له ادارو سره پیاوړې شي، او ددې اړیکو د پیاوړتیا پر بنسټ به تاسو مشران او دیني عالمان وکولای شئ ، چې په خپلو کلیو او سیمو کې د ولسونو هر ډول ستونزې او غوښتني له دولت سره د حل په موخه شریك کړئ.تر څو دولت وربانديې په لازم وخت کې د حل او مرستې په موخه ګام پورته کړي او د خلکو ستونزې حل شي.

خوست والي نعیمي دوی ته وریاده کړه ، چې دغه شوراګاني د پخوانیو شوراګانوسره توپیر لري، ده وویل دغه جوړېدونکي شوراګاني به مالي امکانات او حمایه لري، او ددې تر څنګ به یو تعداد صلاحیتونه او مسوولیتونه ولري. خپلو خلکوته به ډښه خدمت په منظور منظمي ناستې او فعالیتونه ترسره کوي.او همدارنګه به په ولسوالیو کې دبیارغنیزو کارونو څخه د نظارت او کنترول کولو صلاحیت ولري.

خوست والي عبدالجبارنعیمي دا هم زیاته کړه ، چې په ادارو کې هر هغه څه چې ولسونه دردوي، ځوروي، او د خلکو حقونه تر پښو لاندې کیږي، په هغې کې ستاسو د شورا د مسوولینو مسوولیت دی، چې دولت خبر او د دې بدنامه کارونو په مخنیوي کې راسره په ګډه هلې ځلې وکړئ، تر څو په ادارو کې د زور ، ظلم ، اختلاس ، رشوت او هر ډول اداري فساد مخه نیول شوي وي.

والي نعیمي وویل ددې شوراګانو یو مهم مؤثریت په دې کې دی ، چې دغه ډول شوراګاني د یوه یا هم له دوو کلیو څخه نه جوړیږي ، بلکې د ولسوالی په کچه د ټولو کلیو او باندو استازې به په کې برخه ولري.

خوست والي عبدالجبارنعیمي په مشرانو غږ وکړ، چې داسې مشران او استازې ورته انتخاب کړئ ، چې واقعاً پر هغوی دا باور او اعتماد ولري، چې وبه کولای شي، ستاسو ستونزې او غوښتني ښې او د پام وړ انعکاس کړي او د مشکلو په وخت کې درسره نه ستړي کېدونکي هلې ځلې وکړي.

والي نعیمي زیاته کړه ، چې ماته مالومات رارسیږي، چې ستاسو په ولسوالی کې داسې سیمې او ځایونه شته ، چې په هغې کې کلي او کورونه یو ځای او ښوونځي مو بل ځای په یوه داسې موقعیت کې جوړ شوي دي ، چې د تګ او راتګ پر وخت کې یې زده کوونکي ، ښوونکي او یا هم د سیمې خلك د یو شمېر ستونزو او مشکلاتو سره مخ دي.

ده وویل دا ډول وړې ، پروژې موږ کولای شو، دلته د خوست د ولایت په کچه ورته امکانات پیدا او تر سره کړو، ده یادو مشرانو او دیني علماکرامو ته وویل ، چې ددې شورا په جوړېدو سره به تاسو د خپلې سیمې او ولسوالی ستونزې ، غوښتنې، وړاندیزونه او هغه وړې پروژې چې د خلکو لپاره مؤثرې تمامیږي، را په ګوته کړئ . تر څو د حل او تطبیق په موخه ورته تلاشونه ترسره کړو.

والي نعیمي په مشرانو غږ وکړ، چې راشئ ، د خپلو پلارونو او نیکونو هغو دروند تاریخ او درانه دودونه له سره بیا راژوندي کړو ، چې له مخې یې هیڅا ته ددې اجازه ورنکړو ، چې په دې ولایت کې تخریبي تبلیغات او یا هم ناوړه ضرري کړنې او فعالیتونه ترسره کړي.او په خپلو ځانونوکې د خپلو پلارونو او نیکونو غیرت، همت ، شهامت او یو د بل حمایه راپورته کړو، تر څو ددې ولایت هغه ځوان بااستعداده

کدرونه ښه وروزو ، چې له موږ او تاسو څخه هیلې او توقعات لري.ترڅو  په دې سره په دې ولایت کې د دایمن امن په فضا کې زموږ ولسونه د پرمختګ ، آبادۍ او خوشالیو څخه برخمن شي.

ده یادو مشرانو او دیني علماکرامو ته د خپله اړخه ډاډ ورکړ، چې پوره هڅه به کوي ، چې پدې ولایت کې به ښه حکومتداري ، بیارغونه او دایمن امنیت راولي.

ورپسې د نادرشاه کوټ ولسوال حسین جان په خپله ولسوالۍ کې د شورا د جوړېدو څخه خوښي وښوده ، ویې ویل : په وار ، وار به د نادرشاه کوټ ولسوالۍ دیني عالمانو ، قومي مشرانو او ځوانانو له موږ څخه غوښتنه درلوده، چې د ولسوالۍ په کچه باید داسې یوه شورا جوړه شي ، چې د هغې له مخې په منظم ډول ناستې او راټولېدنې ترسره شي.چې دادی نن ورځ د خوست والي په نوښت د هېواد د ولسمشرجلالتماب حامدکرزي هغه حکم چې په ولسوالیو کې دې سیمه ایزې شوراګانې جوړې شي، پرځای کړ، او د اړتیا سره سم یې په دې ولایت کې دا دویمه شورا ده ، چې جوړیږي.

ده د نادرشاه کوټ ولسوالۍ قومي مشرانو څخه هیله وکړه ، چې په دې لاره کې کلکې ملاوې وتړي ، تر څو د شوراګانوپه چوکاټ کې ټاکل شوي ولسي موخې تر لاسه شي.

ورپسې د نادرشاه کوټ ولسوالۍ قومي مشر حاجي ناظم ځدراڼ د شورا د جوړېدو په مناسبت خبرې وکړې او ویې ویل:

که دولت پر قومي مشر باور وکړي، نو په همغه قومي مشر بیا خپل قوم هم واقعي باور کوي.او که دولت پر مشرانو بې باوره وي نو له شك پرته به پر نوموړیو قومي مشرانو خپل قومونه هم بې باوره وي .نوموړي په دې سره خوښي وښوده ، اوس مهال د دولت په ځانګړې حمایه ولسي سیمه ایزې شوراګانې جوړیږي.قومي مشرځدراڼ په خوست کې د والي نعیمي د پلانونو او کارونو څخه د خپل قوم په استازیتوب ملاتړ اعلان کړ. ده له خوست والي عبدالجبارنعیمي څخه وغوښتل چې په قوم کې یې اوسمهال ګڼ شمېر داسې باسواده کسان شته ، چې په یو شمېر پوستونو کې لازم کار کولای شي، نو په دې اړوند دې ولایتي اداره ورسره مرسته وکړي.

له ده وروسته دیني عالم مولوي ظریف خبرې وکړې ، ده د قرآن پاك د مبارکو آیتونو له مخې یادې ناستې ته وویل ، چې الله پاك (ج) فرمایلي دي ، چې مسلمانان په خپلو کې سره ورونه دي ، او هر چېرې چې د دوو کسانو او یا هم د دوو ښکېلو خواوو تر منځ شخړه او دعوه وي ، نو د سولې کولو لپاره دې ژر تر ژره ورشي، تر څو ددوی تر منځ مشکل حل شي.ده له مشرانو وغوښتل چې ددې شورا څخه په استفادې باید د سولې په لاره کې ډېر کار وشي.

له ده وروسته د افغانستان د ټولنیزې پراختیا استازې جنرال بختوجان وردګ د شورا په تخنیکي برخه رڼا واچوله او همداشان یې د شورا په مسوولیتونو او صلاحیتونو دپلازمېنې کابل څخه د رالېږل شوي لارښود له مخې مالومات وړاندې کړل .

له دې وروسته د قومي دود له مخې په قبیلوي لحاظ ازادې ټولټاکنې وشوې، چې له مخې یې د رئیس، مرستیال او منشي په ګډون څلوېښت کسیزه شورا وټاکله .

دریمه د ځاځي میدان ولسوالۍ د سیمه ایزې شورا جوړېدنه :

په نوموړې ناسته کې د خوست والي عبدالجبارنعیمي ، د افغانستان د ټولنیزې پراختیا استازې جنرال بختوجان ، د ځاځي میدان ولسوال یونس ځدراڼ او د ځاځي میدان ولسوالۍ ګڼ شمېر دیني علماکرامو او قومي مشرانو په کې ګډون درلود.

ناسته د قرآن پاك د مبارکو ایتونو په تلاوت سره پیل شوه .

ورپسې د ټولنیزې پراختیا راغلي استازې جنرال بختوجان د یادې شورا په تخنیکي اړخ خبرې وکړې.

جنرال بختوجان د شوراګانو جوړول د افغان ولسمشر جلالتماب حامدکرزي حکم وباله ، چې له مخې به یې د هېواد په ولایتونو کې د ولسوالیو په کچه د ښې حکومتدارۍ او د ولسونو د ستونزو د ښه هوارې په موخه جوړیږي.چې نوموړې شوراګانې به یو تن رئیس، مرستیال او منشي ولري.او د پاتې کسانو څخه به یې کارې کمېټې جوړیږي چې په خپل ټاکلې وخت کې به په خپلو کې د ولسونو د ستونزو د حل او فصل په موخه سره ناستې کوي او بیا به یې له خپل دولت سره د حل په موخه شریکوي.

له ده وروسته د ازادو ټاکنو په ترڅ کې د ځاځي میدان ولسوالۍ د څلوېښت کسیزې شورا له لوري یادې شورا ته رئیس ، مرستیال ، منشي او

همدارنګه درې کاري کمېټې  ددوی په خوښه او رایو سره وټاکل شوې.

ورپسې خوست والي عبدالجبارنعیمي یادې شورا ته خپله وینا واوروله .

والي نعیمي په خپلو خبرو کې په دې خوښي وښوده، چې د تېر په څېر بیا هم نن پر ځاځي میدان ولسوالی د شورا جوړولو نوبت راغلی دی.او ددې ولسوالی لپاره هم له مخورو دیني علماکرامو او مشرانو څخه پیاوړې او له امکاناتو څخه برخمنه شورا جوړیږي.

او په کې هغه مخور کسان غړیتوب لري ، کوم چې په نوموړې ولسوالی کې د ګڼ شمېر دیني عالمانو ، استادانو ، او قومي مشرانو څخه ورته د رایو په ورکولو سره ور پېژندل شوي دي، او دادی اوس یې ورته د منظمو کړنو او فعالیتونو او همدارنګه د شوراګانو د طرزالعمل مطابق رئیس ، مرستیال ،منشي او درې کاري کمېټې وټاکلې .

خوست والي عبدالجبار نعیمي د شورا مسوولینو او غړیو او همدارنګه  یې د ځاځي میدان ولسوالۍ اوسېدونکو ته ددې شورا د جوړېدو له امله مبارکي ورکړه.

ده وویل خدای (ج) دې تاسو ته توفیق درکړي ، چې ددې شورا څخه په استفادې سره وکولای شئ، په خپله ولسوالي کې خپلو خلکو ته د خدمت په منظور شپه او ورځ منډې ترړې وکړئ.او درسپارل شوی مسوولیت په لازم او ښه شان مخ ته یوسئ.

ځکه چې تاسو ته یو دروند مسوولیت او امانت درپه غاړه شو، او بایده دې ، چې درسپارل شوي امانت ته په پام سره ټول کړه وړه او پرېکړې مو د خپلې ولسوالۍ د پرمختګ، امن ،سوکالۍ او د سرلوړۍ په مقصد تر سره شي.

خوست والي عبدالجبارنعیمي دوی ته ورياده کړه ، چې کله هم ستاسو ولسوالي ما له نېږدې څخه ولیده ، نو له شك  پرته لکه څومره چې لازمه ده ، هغومره ورته کار نه دی شوی.نو په همدې اساس والي نعیمي ورته ډاډ ورکړ، چې په دې ولایت کې مې داسې پروګرامونه او طرحې په کار اچولې دي ، چې په میاشت ، کال او دوو کالونو کې به یې تاسو او ټول خوست مېشتي په دې ولایت کې د پام وړ مثبت بدلونونه ووینی.

ده همداراز یې دوی ته وویل ، چې ستاسو ولسوال به هغه وړ ي پروژې لکه د ښوونځیو لپاره اوبه ، چاردیوالی او  همدارنګه د زراعت په برخه کې وړې پروژې ولایت مقام ته راولېږدوي.تر څو ورباندې د حل په موخه لازم کار وکړو.

او هغه نورې غټې پروژې به هم د کار لاندې  د بیا رغونې پنځه کلن ستراتیژيك پلان کې ونیسو، تر څو په راتلونکې کې یې پلې کولو ته هڅې وکړو، امکانات ورته پیدا او په عمل کې یې پلې کړو.

والي عبدالجبارنعیمي دو ی ته وویل، په ځاځي میدان ولسوالي کې دایمن امنیت ، یووالی ، مینه ،محبت ، دوستي ، عزت ، سرلوړي  او همدارنګه له خپل نظام سره همکاري هغه څه دي ، چې باید ددې ولایت نورې ولسوالۍ هم له دې لوی نعمت او لویې برخې څخه ځانونه او خپلې ولسوالی برخمنې کړي، تر څو دوی هم ستاسو په رقم ارامه او د مینې او محبت په فضا کې خوږ ژوند ولري.

خوست والي عبدالجبارنعیمي دوی ته په خپلو خبرو کې وویل ، د ځاځي میدان ولسوالي ستاسو خپله ولسوالي او اداره ده، نو که هرچېرې کومې نیمګړتیاوې ولري ، نو  هڅه وکړئ ، د رفع کولو په منظور یې ور په ګوته کړئ.تر څو د ولسوالی اداره مو هیڅ نوع نیمګړتیاوې او ستونزې ونه لري.او درته په لازم او هر وخت کې ستاسو د غوښتنې مطابق قانوني خدمات ترسره کړي.

اوس هم په دې ولایت کې د اوږده مهاله راهیسې د دولتي ځمکو پرسر د قومونوتر منځ شخړې او لانجې او د هغې په برخه کې وروستی لاسته راوړنې :

د دولتي ځمکو پر سر راولاړو شویو شخړو د حل په لار کې هلې ځلې :

دا چې د خوست ولایت په قومي جوړ ښتونو جوړ ولایت دي، اکثراً  پدې ولایت کې د غرونو، څرځایونو او د ښتو په سر چې دا ټول دولتي املاك بلل کیږي، د مختلفو لویو قومونو تر منځ شدید مسلحانه جنګونه او شخړې رامنځته شوي، او ډیر ځاني تلفات او مالي خسارات دواړو غاړو ته اوښتني دي، ګاونډي کلي او نور ولسونه د دې جنګونو څخه سخت متاثر شوي، ملي وحدت، سولې، ثبات او  امنیت زیانمن شوي، او دولتي حاکمیت تر سوال لاندې راغلي ؤ، علاوه پر کوچنیو او وړو کورنیو شخړو دولایت په کچه لاندې غټې او لوئې قومي شخړې او

دعواګاني موجودي دي.

1. د ګربز او شمل د قومونو تر منځ د ځړځايونو په سر دعواء

2. د ګربزو ولسوالي مربوط د بوري خيلو او نصرالدين قومونو تر منځ د غره او ځمکو په سر دعوا.

3. د اسمعيل خيلو او مندوزيو په ولسوالي کي د ليون خيلو او حيدر خيلو قومونو تر منځ د ځړځايونو په سر رامنځته شوي دعواء

4. د ځاځي ميدان دالګړي د قوم د بيداد او کوټکي د اوسيدونکو ترمنځ په غرونو ځړځايونو او سړک په سر دعواء

5. د نادرشاه کوټ په ولسوالي کي د منګلو او مقبلو تر منځ د غرونو ،ځړځايونو او ځمکو په سر دعوا

چي پورته شخړي د زياتو کلونو راپيدي خوا تر اوسه لاينحله پاته، او اکثراً د پورته قومونو تر منځ په وار وار مسلحانه جنګونه راپيداء اويو بل ته يې زياته مرګ ژوبله اړولي ده.

د يادوني وړ ده، چي خوست والي ښاغلي عبدالجبار نعيمي د ولايت په کچه د ټولو قومي شخړو خصوصاً د پورته يادو شويو شخړو د دايمي او عادلانه حل لپاره يو باصلاحيته کمېسيون د ولايت د عدلئي رئيس تر مشري لاندي چي په ترکيب يي د زراعت، حج او اوقافو، حقوقو، قضاياي دولت، او قبايلو چارو رئيسان او د ولايتي شورا استازي شامل دي وټاکل، ښاغلي نعيمي کمېسيون ته دنده وسپارله تر څو پورته قضيي او داسي ورته نوري مسئلي د قانون په چوکاټ، کي په عادلانه توګه حل، خپله بيطرفي حفظ، او په پوره اخلاص او ايمانداري د دغو شخړو د حل په لار کي له هيڅ ډول سرښندني او تلاش څخه ډډه ونکړي.

چي پورته کمېسيون پدي لار کي د نوموړو قومونو د مشرانو سره منظمي غونډي جوړي کړي، چي د دې قضيو د حل په لار کي د هغوي تلاشونه او هڅي رواني دي.

د يادوني وړ ده، چي د دې پورته شخړو د حل په لاره کي د ښاغلي نعيمي انسان دوستانه هڅي رواني دي. او د دې شخړو د حل لپاره يي مسؤلينو ته لازم هدايتونه ورکړيدي.

خصوصاً د نصرالدين او بوري خيلو او د حيدرخيلو او ليون خيلو د مسلحانه جنګونو او د ويني توئيدو د مخينوي لپاره يي له ځانه ابتکار ښودلي ، د دوی د خاص ابتکار په ترڅ کي د حيدرخيلو او ليون خيلو دمسلحو خواوو څخه ۶۸ ميله مختلف النوع وسله راټوله چي وروسته دا سلاح د خاصو مراسمو په ترڅ کي د ډاياګ کمېسيون ته وسپارل شوه، چي دا کار له يوی خوا د مسلحانه جنګونو او وينو توئيدا د مخنيوي او له بلي خوا قانون تطبيق چي له همدې امله د سلاح راټولولو او ملکي کولو د عالي کميسيون لخوا د محترم عبدالجبار نعيمي په عنوان رسماً د ۳۲۰ ، نېټه ۲۷- ۵- ۱۳۸۹ ګڼه ليك په ترڅ کي ستاينه او مننه شويده.

د اختر د ورځي حالت او د ولايت د رهبری کړني او د ولايت د رهبري ګډون د جمعي په لمانځه کي :

د خوست په ولايت کي له نېکه مرغه د يوه ډاډمن امن په ترڅ کي خلکو وکولای شول ، نېکمرغه کوچنی اختر په ښه شان ولمانځي . خوست والي عبدالجبارنعيمي او ورسره د ملکي او نظامي ادارو چارواکو هم د خوست ښار په لوی جامع جومات کي له خلکو سره يو ځای لمونځ او اختر مبارکي وکړه .

خوست والي عبدالجبارنعيمي د خطيب له ديني موعظي وروسته او د اختر د لمانځه له ادا کولو وړاندي خلکو ته هر اړخيزه وينا واوروله . عبدالجبارنعيمي په پيل کي د هيواد ولسمشر جلالتماب حامد کرزي سلامونه ، نيکي هيلي او د اختر ځانګړي مبارکی خوستميشتو ته ورکړي . نوموړي زياته کړه ، له يوې مياشتي روژې نيوني او په هغې کي د خيراتونو ، نفلونو، تلاوتونو او عبادتونو وروسته لوی خدای (ج) په خلکو د اختر خوشالی ولورولي .

والي نعيمي زياته کړه ، کيدای شي ، چي ځيني خلک په خپلو کي د ماشومانو او يا هم د نورو وړو علتونو پر سر ، سره خوابدي او يا هم خواشيني وي . ده هيله وښوده، چي د دې بابرکته او باعظمته مياشتي په احترام به په خپلو کي سره پخلا شي او يو بل ته له غاړې وځي . خوست والي وويل يو شمېر مشران او ځوانان د پخوانيو دودونو په نوم خپل همسايه ، کليوال ، قومي او حتا خپل ورور وژني . بايد چي دا

عادت له ځانونو لیرې کړي . ده زیاته کړه ، ټوپک د دې لپاره نه دی جوړ شوی ، چې خلک دې پرې خپل ورونه ووژني ، بلکې هغه دې د اسلام ، خاورې ، ناموس او له ولس څخه د ساتنې په موخه وکاروي .

والي دا هم وویل چې په دې ټولنه کې غیبت ، بهتان او یو په بل باندې د ناحقه تورونو لګولو عادتونه هم زیات شوي دي او په کومه ټولنه کې چې دا ډول کړنې او کارونه روان وي، د هغې خلک د خدای (ج) د رضایت او هر ډول پرمختګونوڅخه بې برخې وي .

نعیمي وویل هغه څوک چې د دولت او د مېړو له وجې کمزوري وي ، نو زورواکان دهغې جایداد غصبوي . په کار ده چې د اسلامي خواخوږۍ له مخې د بې وزلو ، کونډو ، یتیمانو او غریبانو خلکو سره د مینې او وروری ژوند وکړو. د والي نعیمي په خبره د اسلام په مبارک دین کې پر وروری ،په یتمانو باندې د شفقت ،او په مرستو او همکاریو کولو ټینګار کوي . او په کار ده ، چې له دوی سره د زړه له کومې همکاری وکړو.

والي عبدالجبارنعیمي په خپلو خبرو کې وویل ، راځئ د دې مبارکې ورځې په ویاړ کلک هوډ وکړو ، چې د هغو کسانو مخه به نیسو ، چې زموږ د ولس سړکونه ، پلونه ،ښوونځي ، جوماتونه ، روغتونونه او نورې ټولګټې پروژې له منځه وړي او د ښوونې روزنې او پرمختګ مخه مو ډب کوي . نوموړي ژمنه وکړه، افغان امنیتي ځواکونه به د خپل سر په بیعه له خپل اسلام ، خاورې ، ولس او نظام څخه دفاع کوي، خو د ده په خبره چې د خلکو همکاري هم ډیره مهمه ده .

خوست والي عبدالجبارنعیمي هغه ژمنه هم تازه کړه ، چې د هرې لارې به هڅه کوي ، خو په دې ولایت کې به د رشوت ، بډې اخیستنې ، زور ، ظلم ، نارواوو او بې ځایه ځورونې مخه نیسي . ځکه د دولت هدف د خلکو د زړونو لاسته راوړل او دوی ته دخدمت کول دي ، نه د هغوی ازارول . والي نعیمي د موقع څخه په ګټه اخیستنه خلکو ته سپارښتنه وکړه ، چې راروانو ټاکنو کې پراخ ګډون وکړي او خپله امانت رایه د خپلې خوښې وړ نوماند ته وکاروي .

د خوست والي له وینا وروسته ګڼو خوست میشتو د اختر لمونځ ادا کړ . وروسته یې په خپلو کې یو بل ته د وروری او مینې له مخې د اختر مبارکی په موخه غیږې پرانیستې .

دا په داسې حال کې ده، چې دې نه مخکې خوست والي او ورسره د دې ولایت ملکي او نظامي مسؤلین دخوست ستر جامع جومات ته د جمعې مبارکې ورځې د لمانځه د ادا کولو په موخه ورغلي وو، چې په یاد جومات کې د زرګونو کسانو له لورې د خوشالي په خاطر د تود هر کلی سره مخ شوي وو.

وروسته خوست والي عبدالجبارنعیمي او ورسره ګڼو چارواکو یو ځای د خوست امنیه قوماندانی ته تشریف یووړ او هلته یې له سرتېرو او افسرانو سره له نږدې څخه اختر مبارکی وکړې .

همداشان خوست والي او ورسره ملکي او نظامي چارواکو ملکي روغتون ته ولاړل ، هلته یې له ناروغانو سره له نږدې ولیدل . دوی ته یې د لوی خدای (ج) له دربار نه د عاجلې شفا غوښتنه وکړه . او هم یې اختر ور مبارک کړ. همداراز خوست والي د همدردی په خاطر په ناروغانو کالي ، څادرونه او خوراکي توکي هم وویشل .

ناروغو کسانو خوښي وښوده ،چې د ولایت والي یې د دوی پوښتنه کوي . دوی خوست والي ته په چارو او کړنو کې لا د بریالیتوب دعاګانې وکړې .

له دې وروسته والي او ورسره ملو چارواکو د خوست ولایت د اسماعیل خیلو او مندوزیو ولسوالیو کې د ملي اردو د لومړۍ لوا ستر کېمپ ته ولاړل او هلته یې په جوړو شویو اختریزو مراسمو کې له سرتېرو او افسرانو سره یو ځای برخه واخیسته .

په پیل کې د ملي اردو رئیس ارکان برید جنرال رازمحمد اوریاخیل پیلیزه وینا وکړه .

نوموړي د ملي اردود پوره چمتووالي څخه خوښي وښوده او ویې ویل ملي اردو د اسلامي احکامو او اساسي قانون په چوکاټ کې د خپلو ولسونو خدمت کوي . اوریاخیل ګوت څنډنه وکړه ، چې ملي اردو به هر ډول دښمن ته غاښ ماتوونکی ځواب ورکړي . ده خوست والي ته په خپلو خبرو کې وویل ستاسو په وجود کې خوست ولایت غوره پرمختګونه کړي دي او ستاسو له نوښتونو، ټولو کړنو او اجرااتو څخه ملي اردو بشپړ حمایت او تایید کوي .

خوست والي عبدالجبارنعیمي د ملي اردو ملي احساس او لوړ مرام وستایه او ویې ویل هېواد مو له یوه حساس پړاو څخه تېریږي . چې موږ به د علماوو او د دې ولایت د نورو قشرونو پر مټ وکولای شو،له یادې ازموینې بریالي راووځو .

نوموړي وویل هیله لرم ، چې په خوست کې به غوره امنیت ، دولتي حاکمیت ، آبادي او پرمختګ رامنځته شي . ده د ایتلاف قواوو څخه هم مننه وکړه ، چې د ملي اردو په اکمال ، تجهیز او روزنه کې یې پوره مرستي کړي دي .

وروسته خوست والي نعیمي او ورسره ملکي او نظامي چارواکو په محبس کې له بندیانو سره اختر مبارکی وکړې .

والي نعیمي وویل انسان وخت نا وخت اشتباه کوي او کله نا کله د دې اشتباهاتو له امله جرمي پېښي رامنځته کیږي . ده بندیانو ته وویل تاسو اوس په ازمایښت کې یاست . د والي په خبره زندانونه په ټوله نړۍ کې دي . او د اصلاح لپاره جوړ شوي دي .نوموړي هیله وښوده ،چې بندیان به له آزادېدو وروسته په خپلو کړنو او کردارونو کې بدلون راولي . والي عبدالجبارنعیمي بندیانو سره ژمنه وکړه ، چې د عدلي او قضایي ارګانونو سره به ځانګړې ناسته وکړي او د قانوني خلاصون په موخه به یې جدي هلې ځلې وکړي .

خوست والي عبدالجبارنعیمي د محبس په شاوخوا (۱۲۱) یو سلو یوویشتو بندیانو کالي ، څادر او لنګی وویشلې او هم یې د دوی لپاره په محبس کې په زړه پور ې غرمنۍ تیاره کړه .

د ولسي جرګې ټولټاکنې :

په خوست ولایت کې له نن‌ځه مرغه د ولسي جرګې لپاره ټولټاکنې د مخالفینو له لوري د ډېرو ګواښونو او ناوړه تبلیغاتوسره ،سره بیا هم د سالمي رهبرۍ او کلکو امنیتي تدابیرو له نیولو سره پرته له کومې امنیتي پېښې سرته ورسېدل .

خوست والي ښاغلي عبدالجبار نعیمي دیو شمیر نظامي اوملکي چارواکو قومي مشرانو سره یوځای خپله رایه دسولې او امنیت په فضا کې وکاروله او له هغې وروسته خوست والي په ښاراو اسماعیل خېلو ولسوالی کې یو شمیر ټاکنیزې حوزې له نږدې وکتلې او دټاکنو دبهیر څخه یې بشپړه خوښي وښوده او په خلکو یې غږ وکړ چې په ټاکنو کې په پراخه توګه برخه واخلي :

خوست والي ښاغلي عبدالجبار نعیمي نن ورځ د اوونیمو بجو په شاوخوا کې په داسي حال کې په خواجه غونډۍ کې ټاکنیز مرکز ته ولاړ چې امنیه قوماندان مل پاسوال عبدالحکیم اسحاق زی ، د ملي امنیت رئیس عطامحمد، د ملي اردو د لومړۍ لوا قوماندان برید جنرال محمد اسرار ، د دولتي ادارو رئیسان او ګڼ شمیر قومي او دیني عالمان ، د مدني ټولنو استازي او د سیمه ایزه ، ځایي او نړیوالو رسنیو خبریالان هم ورسره وو خپله رایه دسولې او امنیت په ډاډمنه فضا کې وکاروله.

خوست والي دیاد شوي مرکز څخه دلیدو پرمهال کار کوونکواو ناظرینو ته سپارښتنه وکړه چې په ټاکنو کې هیڅ راز لاسوهنه ونه کړي او خلک پریږدي چې په ډاډه زړه خپله رایه وکاروي ..

والي عبدالجبارنعیمي د مرکز څخه دلیدو وروسته له ژور نالستانو سره دخبرو پرمهال وویل مونږ خوشحاله یو چې پدې ولایت کې پارلماني ټاکنې دښه امنیت په شتون کې ترسره کیږي او له ټولو خلکو مې هیله داده چې په دغه ولسي، ملي او قانوني پروسه کې برخه واخلي ده زیاته کړه مونږ لا وړاندي ددغې پروسې په شفافیت، عدالت او بې طرفی باندې ټینګار کړی و ، او س هم ډاډه یو چې ټاکنې به په شفاف او پوره په بې طرفی سره ترسره شي. والي عبدالجبارنعیمي وویل خوبیا هم که یوڅوک په ټاکنو کې درغلی کوي او یا له کومې بلې لارې غواړي په نامشرو ع توګه دخپلې خوښې کاندید په ګټه رایي وکاروي، نو د سختې قانوني سزا سره به مخامخ شي اوهیڅا ته به ددې اجازه ورنکړو چې دټاکنو بهیر له خنډ، ځنډ او ستونزو سره مخامخ کړي

خوست والي عبدالجبارنعیمي د خپلې رایي د استعمال په وخت کې ژورنالستانو ته وویل ، دا چې نن ورځ زموږ د افغانانو ملي او ولسي پروسه ده ، نو په همدې وجه غواړم خپله رایه د ولس په منځ کې وکاروم .

والي نعیمي وویل ،ما خپله رایه په دې ارمان وکاروله ، چې هیواد مو آباد او سمسور شي.

ده وویل که هر څوک د دې مظلوم ولس په رایو بریالي راووځي ، د دې ولس استازي دي او موږ ترې هیله لرو، چې د دې مظلوم ولس استازیتوب به په ښه او لازم شکل سره وکړي . د نظام ، هیواد او هیوادوالو ته به د ښه خدمت په خاطر وفادار وي. د خوست او ټول افغانستان ملي او ولسي ګټې به په پام کې نیسي.

له دې وروسته له ټاکنیزو حوزو څخه د لیدني او کتنې لړۍ پیل شوه .خوست والي عبدالجبارنعیمي ورسره د ولایتي ادارو مسؤلینو، د ملي اردو قوماندان جنرال اسرار ، د ملي امینت رئیس ، امنیه قوماندان ، د دې ولایت د مدني ټولنو استازو ، قومي مشرانو او ګڼ شمیر ژورنالستانو په ملتیا د دوو لسو فامیلیو په ساحه کې دمعیوبینو له حوزې څخه لیدنه وکړه او هلته یې دټاکنو له مامورینو ، دکاندیدانو له

ناظرینو ، د پیپا له مسوولینو او رایه ورکوونکو سره له نږدې وکتل او دټاکنو له بهیر څخه یې خوښي څرګنده کړه ښاغلي نعیمي کارکوونکي اوناظرین وپوښتل چې دکوم تهدید او فشار سره به نه وي مخامخ شوي او همداراز یې له دوی غوښتل چې ټاکنې په پوره اخلاص اوصداقت سره خپلې هڅې اوکوښښونه جاري وساتي همداشان خوست والي نعیمي ، امنیه قوماندان ، په خوست کې دملي اردو دلومړی پلي لوا قوماندان ، د ملي امنیت رئیس اونورو چارواکو په عسکري روغتون کې دټاکنیزو حوزو څخه له نږدې لیدنه وکړه او هلته یې دنارینه او ښځینه وو دټاکنو مامورینو وپوښتل ، چې دټاکنو بهیر څه ډول پرمخ روان دی.

دوی په خپل وارسره خوست والي ته دټاکنو له بهیر څخه خوښي څرګنده کړه او په ډاګه یې کړه ، تر دې دمه ډیرئ ځوانان او میرمنې راغلي او دخپلې خوښې نوماندانوته یې پرته له کوم فشاراو تهدیده رایې کارولي دي .

عبدالجبارنعیمي د عسکري روغتون له ودانۍ څخه د راوتو پرمهال د ولاړو امنیتي کسانو سره په روغبړ سترې مشې وکړه او دوی ته یې افرین ووایه ، چې د خپل سر په بیعه دې ته حاضر شوي یاست ، چې د خپل ولس لپاره د ولسي پروسې د ښه خوندیتوب په موخه مو متې رانغاړلي دي او ریښتیني ملي چوپړ ته مو ملاوې تړلي دي. ده دا هم زیاته کړه ، چې دا ستاسو برکت او همت دی ، چې نن ورځ د ډاډمن امنیت په سیوري کې خلک خپلې رایې کاروي.

همداراز دعسکري روغتون څخه دلیدنې پرمهال دلومړئ لوا قوماندان بریدجنرال محمد اسرار هم خپله رایه وکاروله له هغې وروسته خوست والي او ورسره مسولینو په غازي ببرک خان پارک کې د ټاکنیزو حوزو وضعیت له نږدې وکتو او د مامورینو ترڅنګ یې دکاندیدانو ناظرینو سره ولیدل خوست والي له ټولو ناظرینو څخه وغوښتل چې تاسو کولی شي چې دټاکنو په اړه خپل اعتراضونه او نیوکې زمونږ سره شریک کړی هیڅا ته به ددې موقع ورنه کړو ، چې پد ې ولایت کې ټاکنې بدنامې کړي ددې ترڅنګ خوست والي ښاغلي عبدالجبار نعیمي او یو شمیر نظامي مسوولینو داسماعیل خیلو او مندوزیو ولسوالی ته ولاړل ، او هلته یې د خلکو د پراخ شتون څخه خوښې څرګنده کړه .

په لارو او کوڅو کې په ډله ییزه توګه راوتلیو کسانو ټاکنیزو مرکزونو ته په داسې حال کې راون وو، چې د نومورې ولسوالی ولسونو د خوشالی له کبله ګرم ملي اتنونه ترسره کول.

خوست والي ښاغلي عبدالجبارنعیمي داسماعیل خېلو ولسوالی ولسوال ولي شاه همت په ملتیا دډاډوالو د ( بي )کلي ټاکنیزه حوزه له نږدې وکتله .

،ښاغلي نعیمي دنارینه وواو ښځینه وو له حوزو څخه دلیدنې پرمهال دټاکنو مامورینو ته سپارښتنه وکړه چې ملي او قانوني مسوولیت په ښه توګه ترسره کړي ، شفافیت ، عدالت او پوره بې طرفي په پام کې ونیسي. همداشان پر ته له کومې ویرې او فشار څخه خلکو ته موقع مساعده کړي چې دخپلې خوښې نوماندانوته رایې ورکړي ښاغلي عبدالجبار نعیمي دیو شمیر سیاسي ګوندونو استازو ناظرینو سره دلیدنې پرمهال وویل تاسو حق لرئ چې ټاکنې وڅارئ بلکې دمداخلې او غیر قانوني لاسوهنې په صورت کې زمونږ امنیتي ارګانونه دیته اماده دي چې دبې ځایه مداخلو اودرغلیو مخه ونیسي.

خوست والي عبدالجبارنعیمي په ولس غږ وکړ، چې خپل ملي مسوولیت اداکړي. پرته له کوم فشاره راشي او دخپلې خوښې کاندیدانو ته رایې ورکړي.

ښاغلي نعیمي یو ځل بیا دټاکنو پروسه ملي او ولسي پروسه وبلله او ویې ویل ، حکومتي ځواکونه یوازې د ولس د امنیت ساتنې او دښه خوندیتوب دنده پرغاړه لري اود هیڅ قسم غیر قانوني مداخلې حق نلري. خوست والي ښاغلي عبدالجبار نعیمي او ورسره چارواکو داسماعیل خېلواو مندوزیو ولسوالی څخه دراستنیدو وروسته دخوست ښار دشهید محمد داودپه لیسه کې دټاکنیزو حوزو وضعیت له نږدې وکوت او دټاکنو په بهیر کې دخلکو په تګ راتګ یې زیاته خوښي وښوده او بیا خوست والي عبدالجبارنعیمي ، امنیه قوماندان مل پاسوال عبدالحکیم اسحاق زي ، د لومړی لوا قوماندان برید جنرال محمد اسرار ، د همغږۍ مرکز مشر جنرال افسر دوست ، د سرحدي پولیسو سرپرست قوماندان سمونیار ګل احمد او نورو مسوولینو دخوست ولایت دټاکنیزامنیتي وضعیت دڅیړنې او ارزونې په خاطر دامنیتي ارګانونو دګډې همغږۍ مرکز ته ولاړل او هلته یې د ولایت په کچه د روانو ټاکنو په درشل کې اجراات تر سره کړل . چیرې چې امنیتي ستونزې وې ، پرې عاجل ګام واخیستل شو ، او چیرې چې د ټولټاکنو په سایټونو کې نور مشکلات وو، ورته په وخت لاس رسی وشو.

د څارنې او لیدنې یاده پروسه د خوست له مرکزه پیل ان د اسماعیل خیلو او مندوزیو تر ولسوالی پورې وغځیده . چې په لړ کې یې په زیات شمیر حوزو څارنه او کنترول تر سره شو. د مرکز او ولسوالیو په کچه له ټولو مسوولو کسانو سره په پرله پسې توګه د ټاکنو د ښو تر سره کولو په خاطر اړیکې نیول کیدلې. تر څو په دې سره ولس وکولای شي ، په آزادانه او ډاډمنه توګه د خپلې خوښې وړ کاندید ته رایه ورکړي. په دې جریان کې د ټیلیفون په کربښه چې څومره شکایتونه راتلل ، ورته د سملاسي حل په موخه لارې موندل شوي دي.

د یادونې وړ ده ، چې څو ورځې وړاندې خوست والي عبدالجبارنعیمي له ټولو دولتي چارواکو او مسوولینو څخه غوښتنه کړې وه ، چې په

ټاکنو کې بشپړه بې طرفي وساتي او هيڅ ډول داسې پيدا نه شي ، چې د يوه کانديد په طرفدارۍ کار وکړي.

همداشان خوست والي نعيمي پرون د جمعې په ورځ د دې ولايت د مخورو ديني علماکرامو سره د ټاکنو د ملاتړ او پراخ ګډون په موخه هر اړخيزه ناسته تر سره کړي وه ، چې په کې ټولو علماکرامو په يوه غږ د دې ټاکنيزې پروسې څخه د ملاتړ غږ پورته کړی وو.

همداشان د دې تر څنګ په دې ولايت کې د مدني ټولنو له استازيو ، قومي مشرانو ، ژورنالستانو او ځوانانو سره ټاکنو ته د پراخ ګډون او هڅونې په خاطر بيلابيلې ناستې کړي دي. ديادولوده چې پدې ولايت کې پارلماني ټاکنې نن ورځ دسولې او امنيت په فضا کې ترسره شوې اوکومه دپام وړ امنيتي ستونزه نه ده رامينځ ته شوې چې دټاکنو پربهير ناوړه اغيزه وکړي او خلکو په پوره ليوالتياو خوښي سره پدې بهير کې برخه واخسته او دخپلې خوښې نوماندانوته يې رايې ورکړې .

او د هرې حوزې څخه د ليدنې او څارنې پر مهال د کانديدانو استازيو ، ناظرينو ، عامو خلکو او همدا ډول په خوست کې د پيپا مسوولينو د هيڅ نوع شکايت او د درغليو کولو څخه ويره او انديښنه نه درلوده ، دوی ويل ، چې د حکومت بې طرفۍ او ښه امنيتي سيستم هيچا ته دا جراءت نه ورکوي ، چې درغلۍ دې وکړي. خو خوست والي عبدالجبارنعيمي بيا هم ورته خپلې ځانګړې شوې ټيليفون شميرې او ادرسونه ورکول ، چې که احياناً له کوم ډول شکايتونو سره مخامخ کيږۍ او يا په خپله کومه درغلي په نظر ورځي نو له موږ سره دي د مخنيوي په موخه سملاسي اړيکه ټينګه کړي.

د پورتنيو کړنو او فعاليتونو پايلې:

په ادارو کې مامورين چې پخوا به د سهار له خوا دوايرو ته تلل، او بېرته به له ټاکلي وخته وړاندې په سره غرمه وتل ، اوس نو ، د ټولو ادارو مامورين او مسوولين په خپل وخت خپلې دندې ته حاضريږي، او د خپل ټاکل شوي وخته پورې تر څلورو بجو په دفترونو کې کارونه کوي.

په ادارو کې د مامورينو تر منځ کاري اړيکې او همغږي پيدا او پياوړي شوي دي.په ادارو کې د مکافاتو او مجازاتو د سيستم په رواجولو سره مامورين د خپل وخت سره سم په شفافيت او پرته له بې ځايه سرګردانيو ، انتظار او د خلکو د ځورونې څخه لاس په سر شوي دي.او خپلو دندو ته پوره متوجه او را ويښ دي، په ادارو د خلکو ګڼه ګوڼه زياته شوي ده ، چې په دې دليل موږ وېلی شو، چې د ولس باور مو بېرته تر ډېره بريده ګټلی دی. ، د دې ټولو مثبتو کړنو له امله والي عبدالجبارنعيمي د خوست ولايتي شورا ، مدني ټولنو او دداياګ د پروسې د مسوولينو له لوري په ستاينليکونو وويارل شو.ولايت مقام ته د دې ولايت د ټولو ولسواليو اړوند قومي مشران او ديني علماکرام تګ او راتګ لري، د خوست ولايت د رهبرۍ او مشرتابه سره په بېلابېلو ستونزو او غوښتنو خبرې او سلامشورې کوي.د بيارغونې په برخه کې د کيفيت د رامنځته کېدو په خاطر په قراردادونو کې د دويم لاس خرڅولو څخه په کلکه ډډه شوي ده.د ولايت په کچه د ملکي او نظامي ارګانونو تر منځ همغږي پيدا او پياوړي شوي ده .چې له امله يې تقريباً په دې دريو مياشتو کې په هره برخه کې د پام وړ لاسته راوړنې لري، د خلکو باور او همکاري يې تر لاسه کړي ده ، چې ددې ولايت په امنيت کې ورسره تقريباً ځلوېښت سلنه مثبت بدلون راغلی.د دې ولايت د ولسونو سره يو ځل بيا د خوست د آبادۍ، پرمختګ ، سوکالۍ او سمسورتيا هيلې راټوکېدلې دي، عامه پوهاوی او د خوست ولايت د مشرتابه په وار، وار ناستې د دې سبب شوي دي، چې د دولتي ځمکو د غاصبينو په وړاندې د ولس د مشرانو ، ديني علماکرامو ، ځوانانو ، د مدني ټولنو او شوراګانو کلك ملاتړ را جلب او ورسره همکاري کوي، چې په دې برخه کې د پام وړ پرمختګ شوی دی. او لا هم دوام لري.په دې ولايت کې د ځمکو پر سر د راپورته شويو شخړو د هوارې په برخه کې د جوړ شوي کميسيون له لارې د دې ولايت د قومونو تر منځ د هغو کالونو ، کالونو دعوو او شخړو په لاره کې چې وخت نا وخت يې ټولو ښکېلو غاړو ته ځاني او مالي تاوانونه اړولي دي ، د پام وړ مثبت پرمختګ شوی دی. او نوموړی کميسيون د ولايت د مشرتابه په ځانګړي هدايت لا هم په دې لاره کې بوخت روان دی.

د ښې همغږۍ ، د کاري اړيکو د پيدا کېدو او پياوړتيا په صورت کې په پوره بريا سره د بيا رغونې پنځه کلن ستراتيژيك پلان د جوړولو لپاره دوه ورځنی ورکشاپ تر سره شو.

دا ؤ د ولايت مقام شپږ مياشتني کاري راپور چې د ولايت مقام د مطبوعاتي دفترله لوري جوړ او ترتيب شو.

يادونه:

لکه څنګه چې مخکې مو په تفصيل سره يادونه وکړه، چې د ې پيژندګلوي په مراسمو کې د ښاغلي عبدالجبار نعيمي دخوست ولايت مرکز او اړونده ټولو ولسواليو دعلماء کرامو، مشرانو، په پارلمان کې د خوست منتخبو استازو، د ولايتي شوراء غړو د مدني ټولنو غړو، دولتي کارکوونکو، د محلي شوراء ګانو غړو د پوهنتون استادانو او محصلينو، د پوهنې منسوبينو او دخوست ښاريانو سره ليدني کتني ترسره او د دي ليدنو کتنو په ترڅ کې نومړو، په ځينو ادارو کې د اداري فساد د شتون د مراجعينو سره بدسلوک او دهغوي د کارونو بيځايه ځنډول، بي امنيتي، د دولتي ځمکو د بيرحمانه غصب، د دولتي ارګانونو تر منځ نه همغږي، بيروکراسي، د دولتي ځمکو په سر د لويو لويو قومونو تر منځ مسلحانه جنګونه او د بياءرغوني په چارو کې عدم شفافيت او نورو غير قانوني کړنو څخه سخت خواشيني، او پدي ترڅ کې يې خپل شکايتونه وړاندي کول، دولايت مقام د پورته ستونزو په پام او په خوست کې د دايمن امنيت، ملي وحدت او سولې د منځته راکيدو په خاطر، د يوې شفافي او کاري اداري د منځ ته راتلو او د بياء رغوني د بهير د شفافيت په خاطر د ځانګړو پروګرامونو په لار اچولو سره ډير زيات مثبت تغيرات منځته راغلي.

- **په ولايت کې د پخواء څخه د امنيت په برخه کې زيات مثبت تغيرات رامنځته شوي**
- **د دولتي ادارو په کارونو کې مثبت بدلولونه رامنځته شوي.**
- **د دولتي ځمکو د غصب د مخنيوي لپاره اوچت ګامونه اخيستل شوي، لکه څرنګه چې، د ۱۲۰۰ فاميليو ساحه چې د څو کلونو راپدي خوا د زور واکو له خواء غصب شوي وه، د غاصبينو له منګولو څخه خلاصه شوه، همداء راز د کودکستان ساحه او د ګمرک ساحه هم د غاصبينو له منګولو خلاصه او دا لړۍ دوام لري.**
- **د علما کرامو، مشرانو او متنفذينو سره د ښې اړيکو ټينګولو او د دوي د محيطي ستونزو د حل په لار کې مثبت ګامونه اوچت شوي.**
- **د اداري فساد له منځه وړلو او د يوې شفافي، کاري اداري د رامنځته کېدو په باب برياوي تر لاسه شوي.**
- **د قومي شخړو د حل لپاره د ځانګړي کمېسيون ټاکل او د دي شخړو د حل لپاره برياوي.**
- **د ولسواليو څخه ليدنه کتنه او د دغو ولسواليو د مشرانو سره د محيطي ستونزو د حل په لار کې د تصاميمو نيول .**
- **په ولسواليو کې د محلي شورا ګانو جوړونه.**
- **د بياء رغوني په چاروکي د شفافيت رامنځته کيدل**
- **د خوست ولايت د پنځه کلن انکشافي پلان جوړول او د دي پلان جوړولو لپاره د خوست د ولسونو د استازو د نظرياتو شريکول، او داسې نورې برياوي چې تفصيل يې پخواء ليکل شوي، چې د دې برياوو د رامنځته کېدو په لړ کې د ولس او دولت ترمنځ فاصله راتېټه، د ولس د باور او اعتماد فضاء زياته شوي، او پورته مثبت کارونه د خوست مېشته ولسونو د رضايت سبب ګرځيدلي، چې په دې اساس ښاغلي عبدالجبار نعيمي دخوست والي ته زيات شمېر تقدير نامې، ستاينليکونه او د قومونو لخواء پيغامونه را استول شوي، چې دا دي د هغوي کاپي د دي راپور سره مل ده.**

**په درنښت**

# تقديرنامې، ستاينليکونه او د قومونو لخواء د پيغامونو لړ ليک

| شمېره | د ستاينليك خلص متن | پانه | کتني |
|---|---|---|---|
| 1 | د ولايتي شورا ۳۷۲- ۷- ۵- ۱۳۸۹ ګڼه ليك او ورسره مل د ولايتي شورا | 1 | |

| | | | |
|---|---|---|---|
| | ستاینلیك د ښاغلي نعیمي د ښو خدمتونو په وړاندي | | |
| 2 | ښاغلي نعیمي ته د رغنده خدمتونو په ویاړ د مدني ټولني لخوا ستاینلیك | 2 | |
| 3 | د ښاغلي نعیمي د صادقانه خدمتونو په ویاړ د خوست د دیني علما کرامو ستاینلیك | 3 | |
| 4 | ښاغلي نعیمي نه خوست د میشته ولسونو په یوه پراخه غونډه کي د پریکړي لیك په ترڅ کي د هغوي د ښو او صادقانه خدمتونو په ترڅ کي د ملاتړ اعلان | 4 | |
| 5 | د ښاغلي نعیمي د ښو خدمتونو څخه د نادرشاه کوټ د ولسوالي د شورا ستاینه او پریکړه لیك | 5 | |
| 6 | د ټنیو ولسوالي قومي مشرانو په لویه او پراخه غونډه کي د ښاغلي نعیمي د صادقانه خدمتونو یادونه او دهغوی څخه د ملاتړ اعلان | 6 | |
| 7 | د ځاځي میدان ولسوالي د سیمه ایزي شورا پریکړه لیك د ښاغلي نعیمي د صادقانه خدمتونو په ویاړ | 7 | |
| 8 | ښاغلي نعیمي ته د چنار د دودیزي مشاعري دکمیسیون لخوا د دوی د ښو او صادقانه خدمتونو په ویاړ ستاینلیك | 8 | |
| 9 | ښاغلي نعیمي د خوست میشته ولسونو د بیلابیلو قومونو د ګډي پراخي غونډي په ترڅ کي ستاینلیك | 9 | |